په ناسته نه شي خوځېدل غواړي
څوک چې منزل ته رسېدل غواړي
په تش خبرو بـــاندې کار نه کېږي
کار په کولـو شي کـــول غـــواړي
(اروابښاد ستوری)

# ستوري

د خاص کونړ ادبي او کولتوري ټولنې خپلواکه،
ناپېيلې، کولتوري او ادبي خپرونه

اتم کال، دولسمه ګڼه، جون _ اګست، ۲۰۱۵\ جوزا_اسد ۱۳۹۴

**په دې ګڼه کې:**

د احمد شاه بابا ځيرکتوب ته...
د کاشغر _ ګوادر تجارتي دهلېز...
د تذکره ليکنې لارې چارې
د خوب مانا
جرم



پښتنو جنګونه مه کوئ... (مرکه)

# Stori

*Independent, Cultural and literary magazine*

8th year, 12th issue, June -August 2015

دا خلـک ددې کلـي دي سـوچـونه يـې پردي دي
رواج يې خپل پرېښودی دی، دودونـه يې پـردي دي
ماغزه يې د اغيارو پـه تقـليد کـې دي لـوی شـوي
خپل ځان ترېنه ورک شوی دی، ذهنونه يې پردي دي
ګونګيان نه دي څـه وايـي خـو پښتو ويلـی نه شي
د ښځې نر توپير نـه کـړي، لفـظونه يـې پـردي دي
کړکېچ يې د پېژند دی کـه بـل څه دي ستـوری وايه
مخونه يې اشنـا دي خـو خـويـونه يې پردي دي.

www.kabirstori.com

# STORI ستوری

**خپلواکه، کولتوري او ادبي خپرونه**

**اتم کال، دولسمه ګڼه، جوزا _ اسد ۱۳۹۴ل/جون_اګست ۲۰۱۵م کال**

## فهرست

| سرلیك | | مخ |
|---|---|---|
| سرلیکنه | اداره | ۱ |
| جرم | شریف الله شریفي | ۲ |
| د احمد شاه بابا... | علي خان محسود | ٤ |
| د خوب مانا | ډاکټر کبیر ستوری | ١٤ |
| ازاد رقابت که | شمس الحق شمس | ٢٦ |
| کاشغر_ګوادر... | نجیب ننګیال | ٢٩ |
| د ستورو کاروان | بېلابېل شاعران | ٣٢ |
| محبت زنده باد | زاهد افغان | ٣٦ |
| دا ځل دې خاطر | حکیم الدین | ٤٣ |
| د تذکره لیکنې | سید عبیدالله نادر | ٤٥ |
| جنګونه مه کوئ | ظفر کریمي (مرکه) | ٤٧ |
| خدمت؟ | رحمت دیوان | ٥٠ |
| په ننګرهار کې د... | س. خاکسار | ٥٣ |
| د ډاکټر ک. ستوري | ضیاء الله جمال | ٥٧ |
| د ۲۰۱۵ ټاکنې | | ٥٩ |
| سلام دې راغی | اداره | ٦٣ |

## خبرتیا:

د ستوري مجلې اداره له خپلو ټولو لوستونکیو څخه هیله کوي، چې د مجلې په هکله خپل وړاندیزونه او لیکنې د ادارې په پته راواستوي، ترڅو موږ د لوستونکیو په وړاندیزونو د مجلې لیکنې کره او بشپړې کړو. مننه


**د امتیاز خاوند**

**د خاص کونړ ادبي او کلتوري ټولنه**

**مسوول مدیر**

**عرفان الله کوټوال /0772931465**

**مرستیال**

**هدایت الله حیات /0774322484**

**کتنپلاوی**

**څېـــړنـــدوی وجیه الله شپون،**

**څېړندوی عبدالقیوم زاهد مشوانی**

**څېړندوی عبدالظاهر شکیب**

**بصیر بیدار ستوری**

**کلنۍ ګډونبیه**

افغانستان کې: 200 افغــانۍ

پاکستان کــې: 2500کلدارې

په نورو هېوادونو کې: 50 امریکایي ډالره

**د یوې ګڼې بیه:**

افغانستان کې 25 افغانۍ

پاکستان کې 30 کلدارې


"ستوری" ستاسو خپرونه ده، ستاسې لیکنې نیوکېاو وړاندیزونه په ورین تندي مني.

اداره

# غزل

## ارواښاد صاحب شاه صابر

ښومره خواږه دي ښومره ښه ملگري
د محبت د ښار درانه ملگري

چې دغه لار د منزل ده او کنه؟
هسې بې ځایه نه شي مړه ملگري

یارانو دوی ته به څه صبر کوو
پرېږدئ چې پاتې شي بې زړه ملگري

ستوري، سپوږمۍ، لویه شپه، لار او صحرا
د مسافر زړه بالا څه ملگري

گل، سپرلي، تمه، انتظار او ځواني
ستا د وعدې په لاره تله ملگري

د ژوند په هر قدم په هره لمحه
د مینې خوږه! زه او ته ملگري

ښومره په گرانه وو راغونډ صابره
څه په اسانه شو خواره ملگري

## حالات

### رحمت شاه سایل

په داسې تپ په داسې تاؤ کښې د لمبو اوسمه
گل چې جانان له وړم په لاره لاره اور واخلي
بادونه چرته لاړۀ را دِ شي را وادې لوځي
د ځان سره دې لړ زما د شونډو شور واخلي


## د ستوري استازي

کابل: ................ عبدالظاهر شکېب
ننگرهار: ................ شفیع الله تاند
کونړ: ................ نعمت الله کریاب
اسمار ................ اختر محمد مومند
لغمان ................ عسکر خان چالاک
باجوړ ................ سید اغا میاخېل
پېښور ................ ذبیح شفق
جرمني ................ نسیم ستوری

## پته:

د کونړ ولایت ، د خاص کونړ ولسوالي ، د تنر کلي (طلایي بانډه) ، د ستوري د خپرونې اداره

کوټوال: 0772931465
حیات: 0774322484
کوچوان: 0772935377


✵✵✵

ستوری مجله د هېچا د لیکنې ننگه نه کوي ، هرلیکوال ته بویه ، چې د خپلې لیکنې سپیناوی پخپله وکړي.
ستوری مجله به هغه لیکنې نه خپروي ، چې اسلام ، هېواد او ملي یووالي ته په زیان تمامېږي.

✵✵✵

# سرلیکنه:

د ستوري مجلې درنو لوستونکیو!

خوشحاله یو چې تر یو څه ځنډ وروسته په دې وتوانېدلو،چې د خپل خپرنیز بهیر لړۍ یو ځل بیا پیل کړو او "ستوری" مجله تر تاسو درسوو.

لکه څنګه چې موږ وویل، چې دا مجله تر څه ځنډ وروسته خپرېږي، نو په دغه موده کې په ګران هېواد افغانستان کې یو لړ مهم بدلونونه رامنځته شوي، چې اغېز یې ښایي پر هر افغان پرېوتی وي.

خوشحاله یو، چې په دې موده کې په ګران افغانستان کې د لومړي ځل لپاره واک په سوله ییز او ډیموکراتیکه توګه له یوه ټاکلي ولسمشر نه بل ولسشمر ته ولېږدېد او د ګران هېواد په تاریخ کې د ولسواکۍ بنسټ لا پوخ شو.

که څه هم دغه ټاکنې له یو شمېر لانجو و شخړو ډکې وې، خو بیا هم خوشحاله یو چې هر څه په خېر تېر شول چې په نتیجه کې یې د ملي یووالي حکومت رامنځته شو. موږ په خپل وار د خپل هېواد له منتخب ولسمشر نه ځینې غوښتنې لرو او هغه یواځې ددې لپاره، چې زموږ د ختیځو ولایتونو په ځانګړې توګه په کونړ کې د امنیت او ثبات په لړ کې ورسره مرستې وکړای شي.

لکه څنګه چې تاسو ته معلومه ده، چې کونړ د افغانستان په ختیځ کې پروت ولایت دی، چې له ګاونډي هېواد پاکستان سره اوږده پوله لري، نو له همدې امله ددې ولایت اهمیت د نورو هغو په پرتله لږ ډېر دی. موږ له افغان ولسمشر نه غوښتنه کوو، چې دغه ولایت کې دې سولې، د ولایت د اوسېدونکي د زده کړې او همداراز د هغوی لومړنیو روغتیایي ضرورتونو ته پاملرنه وکړي.

د کونړ ولایت اوسېدونکي علمدوسته او هنر پروره دي، نو له همدي امله موږ غواړو چې په دې ولایت کې د حرفوي، هنري او عصري ټکنالوژۍ زده کړو داسې انسټیټیوټونه او اداري رامنځته شي، څو د ولایت ځوانان پکې زده کړې پرمخ بوځي، هنر زده کړي او خپل ورځني ژوند ته اوږه وکړي.

له دې لارې به نه یواځې ځوانان له هنر و ټکنالوژۍ سره اشنا شوې وي بلکې ګران هېواد به د پرمختګ پر لار روان شي او د جنګ د ټغر ټولولو په برخه کې به هم مرسته وکړي.

په دې هیله چې ولسمشر محمد اشرف غني د ټول افغانستان، ختیځو ولایتونو او په ځانګړې توګه د کونړ ستونزې په پام کې ونیسي او د حل لپاره یې لازم اقدامات وکړي.

د ودان، باثباته او سوله ییز افغانستان په هیله

# جرم

شريف الله ((شريفي)) يوسفزی
د کونړ ولايت دسيد جمال الدين افغاني پوهنتون د شرعياتو پوهنځي د فقهې او قانون څانګې دريم صنف محصل.

په اسلامي شرعياتو کې جرم څه ته وايي او په وضعي قوانينو کې جرم څه ته وايي او که چېرته په يوه ټولنه کې د جرم لپاره سزا موجوده وي، نو څه به منځ ته راشي او سزا څه ته وايي او څه فوايد لري او د يوې ټولنې افرادو ته به ولې سزا ورکول کېږي؟ نو بهتره به دا وي ، جرم وپېژنو هم د شرعيات د نظره او هغه له وصفي قوانينو له نظره! اسلامي شرعيات جرم داسې تعريف کړی : جرايم هغه شرعي محظورات دي، چې الله جل جلاله د هغې نه په حد يا تعزير څخه خلک ژغورلي وي، محظورات به د هغه افعالو د کولو څخه وي، چې شرعاً منع شوې او يا به د هغې افعالو نه کول وي، چې شرعاً يې په کولو حکم شوی وي او يا به دهغه کار د کولو يا نه کولو څه عبارت وي چې په شرعي نص (آيت) سره حرام شوې وي او په هغې باندې به سزا ايښودل شوې وي، اکثر فقهاء د عقوبت نه په جزا (سزا) تعبير کووي، نو که په کوم فعل په کولو يا نه کولو سزا نه وي ايښوددل شوي، جرم نه ګڼل کېږي، نو په خصوصي ډول د جرم په تعريف کې د اسلامي شريعت په ټولو نوعو وصفي قوانينو سره اتفاق لري وصفي قوانينو جرم داسې تعريف کړی دی، هر هغه عمل جرم ګڼل کېږي، چې قانون حرام کړی وي يا هر هغه عمل جرم ګڼل کېږي، چې قانون ورته جزا ټاکلې وي او قانون حرام کړې وي او يا د هغه عمل نه امتناع جرم دی، چې قانون يې په کولو حکم کړی وي او يا په لنډ ډول سره داسې ويلی شو، چې د منعې نه کول او مامور به

نــه کــول د جــرم څخــه عبــارت دی او دا یــو څرګنـــد حقیقـــت دی، چـــې د یـــوې ټـــولنې افراد بـه خامخـا جـرم کـوي یـا بـه د افـرادو جـرم د وخـت د کشـف د لحاظـه وي او یـا بـه دا جـرم د کیفیـــت د لحاظـــه وي او یـــا بـــهٔ دا جـــرم درونــدوالي او جســامت د لحاظــه وي او یــا بــه دا جـرم فعـل د امتنـاع لـه مخـې وي او یـا بـه دا جـرم د ظروفـو او حـالاتو لـه مخـې وي او یـا بـه دا جـرم لـه خپـل طبيعـت لـه مخـې وي، نـو د هر یو جـرم لپـاره د هغـه په مقـدار معلومـه سزا ټاکـل شـوې حـد او کـه چېرتـه پـه یـوه ټولنـه کـې د جـرم لپـاره سـزا نـه وي ټاکـل شـوې، نـو پـه دې ټولنـه کـې بـه ډېـر مشـکلات مـنځ تـه راشـي دا ټولنـــه خپـــل ځـــان تـــه داســـې د جاهليـت جامـه واغونـدي، چـې ددې ټـولنې د وګـړو لپـاره بـه پـه ډېـره سـختۍ تمامـه شي او دا ټولنـــه بـــه داســـې بچيـــان وزېـــږوي، چـــې يـواځې ددې ټـولنې لپـاره بـه پـه زيـان او پـه تـاوان نـه وي، بلکـې د نـورو ټولنـو لپـاره بـه هـم پـه زيـان تمـام شي. پـه دې ټولنـو کـې بـه د هېڅـا حقـوق معلـوم نـه وي نـه بـه د مشـر حقــوق معلــوم وي نــه بــهٔ د کشــرانو احــترام کـوي او نـه بـه يـې حقـوق پېـژني او نـه بـه ددې ټـولنې د کشـرانو حقـوق معلـوم وي او نـه بـه پـه دې ټولنـو کـې علـم تعلـيم اخـلاق انسـانيت ورورولي اخــلاص، صــداقت موجــود وي، لنــډه دا، چـــې پـــه دې ټولنـــو کـــې بـــه د جاهليـــت تـــورې تيـــارې خپـــرې وي او د چـــا چـــې څـــه خوښـهٔ وي هغـه بـه کـوي، نـو پـه کومـه ټولنـه کـې چـې جـرم لپـاره سـزا موجـوده نـه وي، نـو هغـه ټولنـه بـه د تباهۍ سره مخـامخ وي، لکـه څنګه چـې مـو مخکـې وويـل او کـه چېرتـه د يـو جـرم لپـاره سـزا معلومـه وي او عمـلي وي، نـو هغـه ټولنـه بـه د ترقـۍ سره لـه تـل لپـاره مـخ وي او تـل بـه ځلانـده وي د هـر لحاظـه پـه لنـډ ډول سره ويـلی شـو، چـې سـزا د امـر او نهـی لپـاره مشـترک علـت دی او کـه سـزا پـه ټولنـه کـې موجـوده وي، نـو پـه ټولنـه کـې بـه جـرايم نـه وي او هېڅـوک بـه جـرم تـه زړه نـه ښـه کـوي، نـو د جـزا فوايـد پورتـه وويـل شـو او د يـوې ټـولنې افـرادو تـه ځکـه سـزا ورکـول کېـږي، چـې د ټـولنې افـراد جـرم وکـړي نـو هغې چې کـوم جـرم کـړی وي، نـو لـه هغـه جـرم لپـاره مقـددرې سزاګانې وي، نـو بيـا چـې کلـه هغـه مقـدرې سـزاګانې پـه مجرمينـو تطبيـق شي، نـو هېڅکلـه هغـې جـرم نـه کـوي او نـه ورته غاړه ږدي.

پــه آخــر کــې د الله جــل جلالــه د لــوی درګـــاه څخـــه د ارواښـــاد ســـتوري ارواا د تـــل لپاره ښاده او ياده غواړم. والسلام

**مور و پلار ته په مينه کتل، عبادت دی.**

## د لوی بابا احمد شاه دراني

# ځيرکتوب ته کتنه

ليک: علي خان محسود M.A, L.L.B ایډوکېټ، جرمني

د هر هېواد يا مملکت بهرنۍ ياني (ورچانی سياست) د کورني (داخلي) حالاتو نه زېږي. دغه حالات سياسي ، مذهبي، اقتصادي، تاريخي او د ټولنې په وده او په ځانګړې ډول (خاص کر ) د ولس سياسي بلوغت،پوخوالې او جغرافيايي پروتوالي پورې اړه لري. د يو هېواد داسې بهرنۍ سياست ناکام وي چې د هغوي د کورني (دننيو/ داخلي) حالاتو سره سمون نه خوري.

د ستر او لوی بابا لومړنی ځيرکتوب دغه وو چې په شعوري توګه ئې سهيلي (جنوبي) او شمالي پښتونخوا سره وګنډله، پښتنو ته ئې دنوې زمانې د اصولو سره سم د افغانستان تر نوم لاندې د پولو سره د نوی هېواد بنسټ کېښود. اصفهان او يا ډيلي ئې پايټخت نه کړو،بلکه د نوي هېواد (افغانستان) مرکز ئې کندهار وټاکه او کندهاري او ګندهاري پښتانه ئې د مغلو او صفاوياتو د غوبل نه تل لپاره خلاص کړل، چې دپښتنو په ټول تاريخ کښې داسې ځيرک او پوخ قدم چا نه وو اوچت کړی.بابا د خپل بهرني (دورچاني) سياست بنسټ د خپلو دنني (داخلي) جغرافيايي، مذهبي، سياسي، ټولنېزو، تاريخي، اقتصادي او پوځي ضرورتونو په اساس ايښی وو. بابا ته دغه خبره څرګنده او جوته وه چې افغاني خاوره کوم ځای پرته ده. دغه نوم او هېواد که څه هم اوس هغه هېواد نه دی چې بابا پرېښی وو، مګر مات ګوډ هېواد اوس هم



موجـود دی او خپـل نـوم لـري. دغـه د بابـا برکـت وو، ګني خدای خبر نن به زمونږ څه حال وو.

د انسـاني کـړکيښ (تـاريخ) نـه ، نـه ، بلکـې د مـالوم انسـاني کـړکيښ (تـاريخ) نـه تـر نـن ورځـې پـورې زمـونږ خـاوره او ولـس د حملـه ورو ښـکار شـوی دی. بابـا پـه دې پوهېـدو چـې لـوئې پښتونخوا تـه د کومـو قوتونـو نـه خطره پېښـه شوې ده او پـه راتلـونکي وخـت کښـې د خپلـې خـاورې ساتنه څه رنګې وشي.

بابـا تـه مالومـه وه چـې د نـړۍ وړيـو قومونـو، قبـايلو ، شـاهانو او جنرالانـو هنـد تـه ( چـې هنـد د خپلـې شـتمنۍ پـه وجـه د سرو زرو د مرغـۍ پـه نـوم شـهرت لـره ) د پښـتنو خـاوره دلارې اوګزرګـاه ( Corridor ) پـه طوراسـتعمال کـړې ده اوهندتـه د رارسېدو نـه مخکښـې بـه ئـې د هنـد د درو کنټـرول پـه خپـل لاس کښـې اخسـته . هغـه اووه دروازې چـې د هنـد د دروازو پـه نـوم يـادېږي، ټـولې زمونږ پـه خـاوره کښـې دي، يـاني خېبر، کـرم، ټـوچي، ګومـل، بـولان او داسـې نـورې دروازې لکـه د بـاجوړ ،کـونړ او مومنـدو علاقـه ، چـې د دې درو،دروازو او لارو مالـک پښـتون ولـس وو. دوي بـه اول ګـوزار پـه مـونږ وو، د دې غوبـل پـه وجـه زمـونږ خـاوره تبـاه او بربـاده شـوې ده، بايـد د دې سرو زرو د مرغـۍ لپـاره اول افغانـان وډېـول شي، تـر څـو دوي د دې واکمـن شي. دوۍ کلـه برباد او کلـه بريـالي هنـد تـه کوز شوي دي.

د افغـاني خـاورې جغرافيـايي پروتـوالی داسـې دی چـې اباسـين نـه لانـدې هنـد پـروت دی، لـوديځ ( مغـرب ) او سـهيل (جنـوب ) تـه داوسـني ايـران يـا پـارس خـاوره ده، شـمال تـه د امـو سـين نـه پـورې مرکـزي ايشـيا پرتـه ده، کـه څـه هـم چـين ګاونـډي وو او دی، مګـر د غرونـو د دېوال پـه وجـه مـونږ ځنـې تر يو حده په امن وو.

د تـاريخ پـه اوږدو کښـې پښـتونخوا يـاني لـوی افغانسـتان تـه د امـو سـين نـه تـر اباسـين پـورې زيـات نقصـان د مرکـزي ايشـيا د اړخـه رسـېدلی دی، دا ځکـه چـې سـائبېريا او منګوليـا (مغوليسـتان) کښـې تـرک مغـل نسـل ذات خلـک اوسـېدل چـې پـه دغـه علاقـو کښـې ددوۍ ژونـد ډېـر تـريخ وو،د مغولـو او ځناورو پـه ژونـد کښـې څـه ځـانګړی (خـاص) تـوپير ( فـرق) نـه وو، دوي ژونـد د موسـم پـورې تړلـی وو، چـې کلـه نـا کلـه بـه وچکـالي او يـا نـور موسمي افت او يـا بـه ابـادي ډېـره شـوه، نـو دوي بـه لـوږې او تنـدې واخسـتل، ګرمـو او ابادو سيمو تـه بـه ئـې خوځيـدل پيـل کـړل، خوځيـدل څـه وو؟ پـوځي حرکـت بـه وو، اول بريـد بـه د دوي پـه چـين وو، ځکـه چـې چـين ور نـږدې وو، د چـين مېشـته ولسـونو اقتصـاد، کولتـور، زراعـت، کـلي او ښـارونه بـه دوي د خـاورې سره سـم کـړل. دا ځکـه چـې دوي نـيم وحشي- ژونـد درلـوده. دوي د ښـاري ، زراعتـي او پـرمختللي ژونـد سره بلـد نـه وو، دوي د کولتـور او کسـب پـه قيمـت نـه پوهېـدل، دوي تـه دغـه هـر څـه بـې فايـدې شيان وو، چـې څـه بـه پـه مخـه ورتلـل ميراتـول بـه يـې، د هـرې چپـې سره بـه دوي چينـايي تمـدن او ژونـد مـيرات کـړو، چـې کلـه بـه چينـايي شـاهان پيـاوړي او غښـتلي وو، دغـه ځناور بـه يـې پـه شـا وتمبول، پـه اخـر کښـې چينـايي شـاهان مجبـور شـول چـې پـه دې ځنـاورو پسـې مشهور ديوال (دچين ديوال) جوړ کړي.

بيـا دغـه لېونيـان د مرکـزي ايشـيا پـه لاره سـتر پـارس تـه رامـات شـول. د پـارس د تبـاهۍ نـه پـس وار بـه زمـونږ او دهنـد وو، دوي بـه مقـامي کولتـور،

زراعت، کلي او ښارونه او ولسونه داسې تباه کړل، لکه چې ابتهم بم پرې واچوي. د سائبېريا او منگوليا نه دغه د وحشيانو چپې تقريباً هر درې ځلور سوه کاله نه پس راغلي دي، چې اخري چپه د چنگېز خان وه. چنگېز خان داسې ابتم بم په اسلامي نړۍ واچولو چې تر نن ورځې پورې نه ابن سېنا پيدا شو او نه بل عالم.

د ۱۹۳۵ع کال نه پس د ايران اوسنی نوم د پارس نه په ايران واړول شو. د دې اړخه په مالوم تاريخ کښې هخامنشيانو، سکندر اعظم او ساساني کورنۍ نه خطر جوړ شوی وه. د پارس د اړخه اسلامي لښکرې هم راغلي وې، د پارس له خوا اخري تېری د صفاويانو په وخت کې شوی وو. د نادر افشار (علي قولي خان) تېری لکه د گيدړ واده وو چې ژر تير شو ، د هند د اړخه د اشوک اعظم په وخت کښې مذهبي او کولتوري او تر څه حده پوځي تېری هم شوی وو.

لويه پښتونخوا وروستو د هندي مغلي سلطنت او صفاوي شيعه ايراني سلطنت ترمينځ د غوبل مېدان وو او په ځانگړې ډول (خاص کر) سهيلي/ جنوبي برخه ياني لوی کندهار، د دوي ترمينځ Bone of Contention وو. پښتو ژبه او کولتور د پارسي او هندي ژبو په امبور کښې نيولی شوې وه، چې تر نن پورې دغه حالات شته.

هغه زمانه کښې دپښتنو خاوره په لر او بر نه وه وېشلې، بلکې په شمال او سهيل (جنوب ) باندې وېشلې شوې وه، چې شمال د مغلو سره او سهيل کله د مغلو او کله د صفاويانو سره ؤ. لوی کندهار تر ټولو زيات د مغلو او صفايوانو د پهلوانۍ ډگر وو.

لومړی کندهار د مغلو سره وو، په ۱۵۵۸ع کال کښې صفاويانو ونيوو، په کال ۱۵۹۵ع کې بيرته مغلي باچا اکبر ونيوه ، د اکبر باچا د مرگ ( ۱۶۰۵ع ) نه پس صفاويانو يو ځل بيا ونيوو او تر ۱۷۰۷ع پورې دوي سره وو.

ددې پهلوانۍ دوه اړخه وو، يو يې د پښتنو تباهي او ستړاول (قتل عام) وو، مگر بل اړخ يې د بېدارۍ هم وو، چې د لوی کندهار پښتانه وېښ شول، د مغل او صفاوي د نوکرۍ په ځای دغه خيال پيدا شو، چې ولې د دواړو نه ځان خلاص نه کړو، دوي ته د مغلو او صفاويانو داخلي کمزورۍ ورمالومې شوې، چې پښتنو کښې پرې لومړی پېل ميروېس خان نيکه وکړو. ميروېس خان نيکه ويښ شو، پښتانه يې منظم کړل او په کال ۱۷۰۷ع کښې يې د گورگين په مرۍ چاړه تېره کړه او بله خوش قسمتي د پښتنو دغه شوه چې د پښتنو لوی دښمن اورنگ زېب مغل ۱۷۰۷ع کښې مړ شو. د ميروېس نيکه متې د صفاويانو خلاف خلاصې وې. ۱۷۰۷ع کال د پښتنولپاره بختور کال وو، دپښتنو دوښمن سلطنتونه ( صفاويانو

اوهندي مغلي سلطنتونه) دواړه د گډوډۍ سره مخامخ وو. ميرويس خان نيکه صفاويانو ته ماتې ورکړه، اوسپنه گرمه وه، گزار يې پرې وکړو، چې هم دغه د ميروېس نيکه د هوښيارتوب او ځيرک توب ثبوت دی چې وخت او زمان يې وپېژانده.

داچې ولې د پېښور او ننگرهار پښتانه پر دې بر (بريالي) نه شول، چې خپل سلطنت جوړ کړي، که څه هم سياسي غورځنگونه د پير روښان له وخته نه موجود وو، د دوي علم او

اقتصـاد هـم دکنـدهاري پښـتنو نـه ښـه وو، زمـا پـه خيـال مـيروېس نيکـه تـر خوشـحال بابـا د پښـتنو سـيکالوجي ښـه پېژندلـه. خوشـحال بابـا سره مغلـو هـو بـه هـو هغـه چلـن کـړی وو چـې کـوم د مـيروېس نيکـه سره صـفاويانو وکـړ، خـوميروېس نيکـه ډېـر ځـيرک مشرـ وو، ده د اسـيرۍ (جيـل /بنـد) پـه دوران کښـې پـلان جـوړ کـړو، چـې کلـه لـه بنـده خـلاص شي، څـه بـه کـوي، خپـل پـلان يـې قـدم پـه قدم عملي کړو.

خوشـحال بابـا تـش پـه ننـګ زور ورکولـو، مګـر مـيروېس نيکـه ننـګ او ولجـه (غنيمـت) دواړه سره يـو ځـای کـړل، داسـې ډائنمېـټ بـم يـې ځنـې جـوړ کـړو، چـې د صـفاويانو لـوی سـلطنت يـې پـرې درې وړې کـړو، نـن هـم چـې ولجـه نـه وي، ډېـر لـږ پښتانه به د ننګ لار درسره ونيسي.

خوشـحال بابـا د خـولې ډزې او تـش ژړاګـانې کـړې دي، چـې پښـتنو کښـې اتفـاق نشـته، ګنـې ده بـه داسـې کـړي وو او داسـې. زمـا پـه خيـال خوشـحال بابـا دوه شـيکه ، يـانې دوه زړې ؤ، د شيکسپير پـه ژبـه To be or not to be کښـې ګېـر وو ، اګـر چـې پښـتنو دخپـبر دره کښـې، کمکـی خپبر ، لنـډي کوتـل ،اوکړپـه کښـې مغلـو تـه مـاتې ورکـړې وې، ايسـپزي (يوسـفزي) خـو ټـول عمـر د مغلـو خـلاف ( Opposition ) وو، پېښـور او ننګرهـار کښـې هـم لکـه خوشـحال بابـا (چـې سـياسي او پوځي لوبېدلی وو) ، دريـا خـان اپريـدی، ايمـل خـان مومنـد او ګـڼ شـمېر نورغـټ غـټ پښـتانه مشرـان موجـود وو،خـو داسـې مـالومېږي چـې دوي مـنظم حرکـت نـه لـره ، پـه دوي کښـې د يـو Coordinated غورځنـګ کمـوالی ښـکاريدو. دو ی پـرې بـر (بريـالي) نـه شـول، چـې تـيراه، سـوات، ننګرهـار يـا پېښـور کښـې خپـل مـلي حکومـت اعـلان کړي .

بلـې غـاړې تـه کـه سـړی ځـير شي، د کنـدهار پښـتانه هـم فرښـتې نـه وې، چـې ټـول پـه يـوه خولـه وو، خـو مـيروېس خـان نيکـه پـلان او توکـل دواړه درلودل، او عملي يې هم کړل.

د کنـدهار پښـتنو د سـتر مـيروېس نيکـه تـر مشـرۍ لاندېنـه يـوازې صـفاويانو تـه ماتـه ورکـړه، بلکــې زر يـــې د مـــلي ســـلطنت بنســـټ هـــم کېښـــود.داچې مـــيروېس نيکـــه بريـــالی شـــو او خوشـحال بابـا بريـالی نـه شـو پـه دې تحقيـق او څېړنه پکار ده چې ولې؟

بايـده ده چـې دا ومنـو چـې لـوی کنـدهار د لـوی ګنـدهارې نـه يـو قـدم مخکښـې وو. د مـيروېس نيکـه کـورنۍ تـازه تـازه د قـومي او قبـايلي مشرـۍ نـه د سـلطنت پـه اس سـواره شـوې وه، دوي کښـې لا دربـاري چـالاکي، دوکـې او بې ايمـانۍ پخـې شـوې نـه وې، چـې واک يـې لـه لاسـه ووت او نـادر افشـار د يـو دبـو پـه څېـر راپورتـه شـو اود اصـفهان نـه تـر ډيـلي پـورې نـړۍ يـې تـاراج کـړه، مګـر چـې څـومره پـه تُنـدۍ سره د سـلطنت مـانۍ تـه ختلي وو، هـم دومـره زر د شـاهي شـل (پـاوړۍ) نـه راپرېوتـو، مکنډۍ (څټ) يې ماتې شوې.

داچـې نـادر افشـار تـرکمن وو، د ايـراني شـيعه بيروکـراسي سره ډار پيـدا شـو چـې نـادر افشـار افغانـانو او عـثماني خليفـه ګـانو تـه لاس ور نـه کـړي،( پـه دې کښـې څـه شـک هـم نـه وو). نـادر افشـار د پـارسي قزلباشـونه زيـات پـه پښـتنو بـاور کولـو، ځکـه خـو يـې احمـد خـان سدوزی دملي پـوځ ( نېشـنل ګـارډ) مشرـ ټـاکلی وو، چـې پـه پارسـيانو ښـه نـه لګېـده، هـم دغـه وجـه وه چـې

ایراني قزلباشو په جون ۱۷٤۷ع کښې قتل کړو او د ده سلطنت د ګډوډۍ سره مخامخ شو.

دلته یو ځل بیا پښتنو او په ځانګړي ډول د لوی کندهار پښتنو ته خدای تعالی یو بل Chance ورکړو، که چرې پښتنو مشرانو د تذبذب او کونډې کونډې نه کار اخستی وای، نو کېدای شوه چې نن به د افغانستان په نوم هېواد نه وو. داسې د واقعاتو نه څرګندېږي چې د میروېس نیکه د ازادۍ مشال یاني ډیوه مړه نه وه، پښتانه تش د موقعې په تلاش کښې وو.

افغاني مشرانو د نادرافشار د قتل نه پس حالات زر درک کړل، وخت یې ضایع نه کړو، د کندهار اړخ ته یې حرکت وکړو، داسې اټکل کیږي چې دوي سره یو او په اتفاق و، چې بس نوره مغلو او د پارسیانو غلامي نه مني، مګر دغه انساني خواهش او کمزوري ده، چې هر یو مشر به په زړه کښې د بادشاهۍ تخت او تاج کرل ربل کړي وي. دغه څه د حیرانۍ خبره نه ده، هر یو مشر به پلان او منصوبه جوړه کړې وي، چې څه رنګې د سلطنت په اس سور شي، بله فایده دغه وه چې د پېښور او ننګرهار پښتانه د نادر افشار سره هند ته تلي وو، دغه د امکان نه لرې نه ده، چې د کندهاري او پېښوري پښتنو شخصي- پېژندګلوي جوړې شوې وې، وروستو حالات ښایي چې احمد شاه بابا خلاف هیڅ پښتني قبیلې تر پېښوره پورې مخالفت ونه کړو، بلکې خبر کښې یې تود هرکلی وشو، چې داسې کارونه پښتنو ډېر کم کړي دي، ځکه حسد او کینه پرې زوروره شوې ده.

دغه قدرتي خبره ده چې دې مشرانو کښې هر یو تمه درلوده، چې لوبه به ګټي، دغه د دوي روا حق وو، ځکه چې دوي لوی لوی مشران وو، دوي ډېرې جرګې وکړې، مګر په یو کس بریالي نه شول چې په ګډه ئې خپل مشر- وټاکي. په اخر کښې دوي د پیر صابر شاه په منځګړتوب احمد خان (چې د پوځي ، سیاسي او قامي لوبېدلي کورنۍ ٢٤ کلن ځوان وو) ، په نوم سره زړه نا زړه راضي شول.

د دوي دا خیال وو چې احمد خان ډېر ځوان دی او مونږه تجربه کار مشران یو، دی به ډېرې تېروتنې وکړي، اخر کښې به مونږ ته پاتې شي او په ځانګړې توګه د محمدزیو نیکه ښاغلي حاجي جمال خان همدغه تمه وه.

داحمد خان ټاکل ډېره په ځای پرېکړه وه، دغه یې په عمل کښې ثابته کړه، چې دی قابلیت او پوهه لري، چې د افغانستان رهبري او مشري وکړي. نو د خپلې پوهې او ځیرکتوب له امله احمد خان وروستو احمد شاه بابا شو.

احمد شاه بابا شعوري پوه ځوان وو، د تاج پوشۍ سره سم ئې خپل هېواد ته (افغانستان) نوم ورکړو. ماته پخپله مالومه نه ده چې دغه نوم ټولو په ګډه او یا یوازې احمد شاه بابا ټاکلي دي، خو د پښتنو په مالوم تاریخ کښې دغه ډېر بنسټي کار شوی دی.

بابا او د ده ملګریو، نه یوازې افغانانو ته خپلواکي وګټله، بلکې دوي ته یې د تل (همیشه) لپاره په رسمي پولو خپل خپلواک هېواد او پېژندګلوي ورکړه. د جنوبي او شمالي یا په بله ژبه د صفاوي او مغلي د برخو نه یې افغانانو ته نوی واسکټ وګنډلو او ور په غاړه یې کړو.

چې څه وخت احمد شاه بابا با شاه اعلان شو نو نه یې تاج وو او نه تخت، نه ورسره خزانه

وه او نـه نـوکر شـاهي او نـه ورسره مـنظم پـوځ وو. اوس بابـا د مشرۍ تـالاب تـه لوېـدلی وو اود ژونـد او مـرګ يـاني بريـاليتو ب او ناکـامي دغــه ټــولې خـبرې د بابـا پــه لياقــت او پــوهې پــورې وتــړلې شـوې. د افغانـانو خپـل هېـواد زېږېـدلی وو، چـې لا افغانسـتان مکمـل افغانسـتان نـه وو، ډېـرې برخـې يــې د مغلــو او ايرانيــانو سره وې. اوس د بابــا کــار وو، چـې دغـه پښـتانه څـه رنګـې راټولـوي، د دوي ازادي، خپلواکي او عـزت څه رنګـې ساتي. بابـا پـه دې امتحان کښې په نره بريالی شو.

دلـوې بابـا لپـاره دوه غـټ محاذونـه وو: د کـور دننه او د کور د باندې

د کـور دننـه غـټ کـار دا وو چـې دغـه خـواره واره پښتانه څه رنګې پـه يـو هېـواد کښـې راټـول کړي او خـورې ورې سـيمې سره وګنـډي او ټـول پـه يـو مرکـز راجمـع کـړي . افغـاني ټولنـه قبـايلي ټولنـه ده، هـره قبيلــه ځــان ځــان تــه رواجونــه او سردار لــري او داخـلي واک لـري، د هـر ملـک يـا سردار دغـه هيلـه وي چـــې شـــوک د ده د قبيلـــې پـــه داخـــلي ازادۍ کښـې ګـوتې ونـه وهـي، بابـا غوښـتل چـې دوي د لوی افغانستان برخې شي، خـو پـه زور نـه بلکـې پـه جرګـو او مرکـو بانـدې، د دوي د مـذهب ، عقيـدې او رواجونــــو بايــــد قــــدر وشي. د دوي کــــورني معاملاتو کښې لاس وهنه ونه شي.

بابـا يـو داسـې سياسـت غـوره کـړو چـې دوي تـه دغــه احســاس ورکــړي چــې زه صرف د افغانســتان بادشـاه نـه يـم، بلکـې يـو د ستاسـو نـه يـم او دا نـوی هېـواد د ټولـو پـه ګـډه دی، دوي يـې پـه دې پوهـه کـړل، چـې دغـه افغانسـتان بـه پـه ګـډه سـاتو او پـه ګــډه بــه يــې ژغــورو. دغــه راز بابــا د مغلــو او صــفاويانو دربــاري فضــول روايــات بنــد کــړل او د ملاقـات ليـدنو او کتنـو پـر وخـت بـه يـوازې سـلام اچول وو.

لـوې بابـا تـه پتـه وه چـې پـه کـور دننـه دې ارام نـه وي،نـو ورچـاني ( بانـدينی) قوتونـو سره پهلـواني نـه شي کـولی، نـو لـه همـدې امله د بابا لومړنی ګام دا ووچـې نهـه(۹) قـامي مشرـان او د عـزت خلـک چـې د غټـو غټـو پښـتنو قبيلـو مشـران وو او ډېـرو د جرګـــې پـــه دوران کښـــې د بادشـــاهۍ ارزو او دعـوې لرلـې او خوبونـه يـې ليـدل ،دوي تـه يـې لـوی قـــدر ورکـــړو،د دوي نـــه يـــې يـــوه مشـــورتي جرګـه Advisory Council جـوړه کـړه ،چـې بابـا تـه بـه ئـې پـه پـوځي ، ملکـي او حکـومتي چـارو کښـې صـلاګانې او مشـورې ورکـولې، بلـه ګټـه دغـه وه چـې د نـوي هېـواد لپـاره ئـې د دوي عقـل او انرجـي د منفـي پـه ځـای پـه مثبتـه وکارولـه او بابـا پـه ارام خپـل حکومـت کولـو. دې نهـو( ۹) مشرـانو بـه پـه خپلـو منځونـو کـې يـو بـل څـاره، بابـا ځنـې بـې غمـه وو، د پښـتنو ټـولې قبيلـې ئـې پـه حکـومتي او دولتـي چـارو کښـې ورګـډې کـړلې ، د دوي ملکـان او مشرـان يـې د وړې او غټـې قبيلـې پـه بنسـټ ملکـي او پـوځي منصـبداران کـړل. دغـې تـه وايـې سياسي پوهـه ، دوي يـې پـه روزګـار کـړل او بوخـت (مشـغول) ئـې وسـاتل. کـه چـرې دوي مشـغول نـه وای، خـدای خـبر دوي بـه د بابـا خـلاف څـه ډرامـې جـوړې کـړې وای. چـې دغـه د ځـوان بادشـاه احمـد شاه بابا ځيرک توب نه دی نو څه دی؟.

لـه بلـه پلـوه بابـا ټينـګ مرکـزي دولت/حکومـت ځکـه جـوړ نـه کـړو، چـې د پښـتنو سـاه پـه کښـې لنډېده، بلکـه د وېشلي واک پـه بنسـټ يـې يـو قسـم مـلي حکومـت جـوړ کـړو چـې ټـول پښـتانه ئـې پکـې شريـک کـړل، دا ځکـه چـې بابـا تـه د خپـل قـوم

خـوي او خصـلت مـالوم وو، چـې دوي سره زور نـه بلکـې مينـه پکـار ده او پـه همـدې بنسـټ ئـې د افغانانو لپاره د اتڼ درې مېدانونه جوړ کړل:

لومړني مېدان يـا ډګـر کښـې بابـا پخپلـه او د ده ۹ مشرـان وو، چـې د حکومـت کـورني (داخـلي) او بهرنــي (بانــديني) چــارو واک د دوي پــه لاس کښـې وو، دلتـه يـوازې دوي اتـڼ کولـو. دوېـم مېدان يـا ډګـر د بيلابيلو قبيلو مشرـانو او غټـو پيرانـو، حضرـتانو او سـيدانو يـاني سـتانېدار لپـاره ؤ اودرېـم مېـدان کښـې د کـلي او علاقـې پـه سـطح واړه ملکانــان، خانــان او مُلايــان وو، چــې دوي مقـامي واک درلـوده ، چـې د مرکـزي حکومـت او مقـامي خلکـو تـرمينځ بـه رابطـه د دوي پـه ذريعـه ساتلې کېدله .

پـه سـاده ژبـه د دولـت واک يـې پـه درې برخـو تقسيم کـړو، هـرې يـوې ډلـې تـه يـې دغـه احساس ورکـړو چـې دوي داخـلي ازادي او واک لـري، اوپـه هـنر يـې د مرکـزي حکومـت لانـدې راوسـتل، دوي تـړلي شـوي وو، مګـر دوي دغـه احساس نـه کـاوه، چـې تـړلي شـوي دي، دا ځکـه چـې بابـا د افغانـانو د نفسـياتو سره سـم ازادي ورکـړې وه، دوي تـه افغانسـتان خپـل هېـواد او ځانونـه ورتـه واکـداران ښکارېدل ، دغـه کـار پـه عمـل کښـې ډېـر سـتونزمن کـار دی، مګربابـا د دوي پـه مينـځ کښـې لـوې شـوی وو دا د ځـوان بابـا سـياسي کـمال وو، چـې سرزوري پښـتانه يـې مـنظم کـړل، دا د دې ثبـوت دی، چـې بابا ځومره ځيرک افغـان وو، ده لويـه سينه او زغـم (برداشــت) لــره، ده تــه د دوي بــې حــرصي، بــې اتفـاقي، سرزوري، ضـد، کينـه، بغـض، د يـو بـل نـه زغمـل (برداشـت کـول) اودغـه راز ددوی سـخاوت ، ميلمهپالنـه ايـمان ،غيـرت اوننـګ هرڅـه ورمـالوم وو، چـې پـه سرکشـو افغانـانو حکومـت کـول ګـران کـار دی، زه يـوه بيلګـه (مثـال) دلتـه راوړم ، چـې ثابتـه شي چـې بابـا د افغانـانو د نفسـياتو نـه ځـومره ژور خبر وو.

"يـو ځـل هندوسـتان کښـې د افغانـانو پـوځ مېشـت وو، چـې ارام وکـړي، پـه دې وخـت کښـې دشـاهي ګـارډ پوځيـانو پـه تـاځي سـپو يـو مېلـو پـه مخــه کــړی وو، مېلــو مخکښــې تــاځي ســپي او پوځيـان ورپسـې، وارخطـا مېلـو د خوګيـاڼو پـه خيمـه (تمبـو) ورننوتـو، د سـپو نـه مېلـو پـټ شـو، د شـاهي ګـارډ پوځيـانو غوښـتل چـې مېلـو د خېمـې نـه پـه زور راوبـاسي او ښـکار يـې کـړي. ( د هغـه وخـت د پـوځي قـانون لـه مخـې چـا د شـاه ذاتي ګـارډ مخـه نيولی نه شوه اوهغه هم د مېلو په سر).

د پوځيـــانو زور او ګـــواښ پـــه خوګيـــاڼو بـــد ولګېـده، نـو خوګيـاڼو مېلـو خپـل همسـايه اعـلان کـړو، چـې مېلـو زمـونږ پـه خيمـه (تمبـو) کښـې پنـاه اخسـتې ده، دغــه اوس زمـونږ همسـايه شــو، پــه شـاهي ګـارډ پسـې يـې تـورې راوويسـتلې، د دې نـه شـور جـوړ شـوی وو. بابـا چـا خـبر کـړی وه چـې داسـې قيصـه جـوړه ده، روايـت دي چـې د غرمـې ارام يـې کولـو، سـم دلاسـه سر تـور سر راروان شـو، د سـتونزې (پـرابلم ) تـل تـه ورسـېدو، بابـا پخپلـه د خوګيـاڼو پـه خيمـه (تمبـو) ورننوتـو، اعـلان يـې وکـړو چـې مېلـو صرف د خوګيـاڼو همسـايه نـه بلکـې زمـا هــم دی. دشـاهي ګـارډ پوځيـان کېـدی شي پارسـيان وه، بابـا ورتـه ويـلي وو چـې ورک شـئ، ربړه هم دلته خلاصه شوه.

چــونکې بابــا پښــتانه پېژنــدل چــې پخپــل همسايه سر ورکوي، کـه هغـه مېلـو ولـې نـه وي ، نـو ځکـه ئـې چلنـد او پريکـړه د شـاهي حکـم پـر ځـای

دپښتونولۍ په بنسټ وکړه. بابا په دې پوهېدو چې که چرې شاهي ګارډ پوځیان (عسکر) خوګیانو ته سزا ورکړي نو نورې کرلاڼي قبیلې به دخوګیانو ملاتړ ته راودانګي، د دې نه کېدی شي چې د درانیانو جنګ جوړ شي، نو مونږ به د مېلو په سر په خپلو کې سره قتل کړو، چې څه پاتې شي، هغه نور به هندي دښمنان پو پناه کړي، د مېلو په سر به هم افغانستان اوهم خپلواکي لاړه شي". د دې نه ثابته شوه چې بابا دغه نمونه پېښو ته ذهني چمتو او تیار وو.

اوس اوس کمیونسټانو او ورپسې مذهبي لېونیانو چې کومې غلطۍ او تېروتنې وکړې، د دې یوه غټه وجه دغه وه چې کمیونسټانو او مُلایانو د افغانانو نفسیات ونه پېژندل، دوي زور کولو، نتیجه یې ټولو ته مالومه ده.

یو بل مثال یې پارس (ایران) وړاندې کوم.

**According to the Tarikh-i-Sultani:**

**"His soldiers were once reduced to straitened circumstances in the siege of NISHAPOOR, and they laid their hands on the Royal treasury. When the treasurer reported the matter to him, He took no notice of it. When that officer again pressed it upon his attention, He turned round and said, "Don't you know you fool that I am also one of them, that is their swords that I have**

**been raised to this high position—. I should certainly look upon my soldiers as a partner of this wealth. If they make a demand upon my wealth, which in reality, is the result of their efforts, and I don't share it with them, I stand both before man and God".**

ساده ژباړه : د ده پوځیان یو ځل د نېشا پور د محاصرې په وخت کې د ستونزو (مشکلاتو) سره مخامخ شول، نو دوي د شاهي خزانې د لوټلو هڅې وکړې، چې څه وخت خزانچي د دې هڅې یا واقعې رپورټ بادشاه ته ورکړو، نو ده ددې هیڅ نوټس وانخستلو، یو ځل بیا هم دې افسردې رپورټ ته د ده د پام راګرځولو هڅه وکړه، نو ده مخ ورته راوړلو ورته وې ویل چې احمقه! ته په دې نه پوهېږې چې زه هم د دوي څخه یم، هم دغه د دوي د تورې برکت دی، چې زه یې دې اوچت مقام ته رسولی یم، زه د خپلو پوځیانو (عسکرو) خیال ساتم، دوي په دې دولت کښې ګډ دي، دغه خزانه د دوي د هڅو نتیجه ده، که چرې زه د دوي سره دغه خزانه او ګټه ونه وېشم، زه به خدای او ملت ته جواب ورکوونکی یم. دغه دسرزورو پښتنو هوښیار باچا وو.

یو ځل دوو کندهاریانو په پټو کښې کار کولو، چې یوه هغه بل ته ژغ کړو، چې آقو غوږ سه، دغه د ډمامې ژغ درځې؟ هغه بل ورته ویلي وو چې نه ! د لږ وخت نه پس د ډمامې (پوځي موزیک) شور زیات شو، بیا یې ورته وویل چې غوږ شه ! هغه بل ورته ویلي وو چې اوو داخو رښتیا د ډمامې (پوځي موزیک) ژغ دی، داسې مالومېږي چې د نازو زوی بیا بل ملک فتح کړی وي. د احمد شاه بابا نه هند، پارس ، مرکزي ایشیا ، ماسکو او تر پیکینګ پورې هېوادونه

ډاربېدل، مګر کور دننه د کندهاريانو لپاره د نازو زوی وو، په داسې خلکو واک چلول څه اسان کار نه دی.

دغه ياد ساتل پکار دي چې بابا په ٢٤ کلنۍ کې باچا شوی وو، د دې ټولو باوجود د بابا پوځي ، ملکي، دننۍ (داخلي) او بهرني پرېکړې د يوه پوخ عمر سياستوال او جنرال ته ورته وې، دا ځکه چې بابا د قومي مشرانو سره مشورې کولې. د ده سر ته نه د ځوانۍ او نه د شهنشاهيت نشه ختلې وه، د ده په ډله ( ټيم) کښې تجربه کار سياسي او پوځي لوبغاړي وه، د بيلګې په توګه ښاغلی بېګي خان بامېزی (شاولي خان) او فيلډ مارشل ښاغلی جهان خان پوپلزی او داسې نور. بابا د دننې (داخلي) ټينګښت او ټيکاو نه پس بهرني چارو ته پام واړوو، بهرني سياست کښې بابا درې وتونو يا اړخونو ته ډېر متوجې وو.

(١) هند اړخ (وت)، (٢) د پارس اړخ(وت)، (٣) د مرکز ي ايشيا اړخ (وت)

د بابا بهرني (ورچاني) سياست بنسټي اصول دغه وو چې ده د افغانستان ګاونډ کښې هيڅ قوي هېواد نه شو زغملی ، دا ځکه چې افغاني خاوره د هند مغلي او د پارس صفاوي شيعه ترمينځ د بزکشۍ مېدان وو. دا چې افغانستان نوی نوی جوړ شوی وو، مغلو او پارسيانو په ذهني توګه نه وو منلی، خو د بابا د توري له ډاره مجبور وو چې وئې منې . بابا په دې ښه پوهېدده، که چرې د دوي پوځي غاښونه وشي، نو جنګ به په افغاني خاوره وي، هم دغه وجه وه چې بابا به بيا بيا پارس او هند ټکوه او دباؤ کښې ساتل، غاښونه به يې ځنې ايستل، چې افغاني خاورې ته امکاني خطره هم جوړه نه شي، مګر دوي يې د خپل سلطنت برخې نه جوړولې، دا ځکه چې بابا ته د هوتکيانو، لوديانو او سوريانو حال ورمالوم وو، چې څوک هند کښې او څوک په اصفهان کښې ورک او ايل شول.

بابا غوښتل چې د افغانستان ګېر چاپېر د دوستانو ياني دوست هېوادونو شپول جوړ کړي.

د دې سياست په رڼا کښې دغه دوست هېوادونه ئې نه دومره قوت ته پرېښودل، چې پوځي غاښونه وکړي او افغانستان ته ربړه شي او نه يې بېخي مرګ ته ورکول. دومره طاقت يې ورکولو، چې داخلي امن وساتلی شي، چې د بابا دا بهرني سياست وروستو هند کښې پېرنګيانو خپل کړو. نو د دې پالېسۍ مطابق بابا هند کښې مغل او مرهټيان وټکول، مګر هند يې قبضه نه کړو، دا ځکه چې بابا په شعوري توګه د خپلې خاورې نه لرې حکومت کول نه غوښتل، د دې ټکولو شاته دغه سياست پروت وو، چې افغاني پولې د هند د اړخه سړې کړي، هم دغه وجه وه چې د پاني پت د بري نه پس بابا بېرته مغل د ډيلي په تخت کښېنول، په ځرګنده (جوته) مغل باچا وو، مګر حقيقت کښې واک او اختيار د بابا د پاني پت د جګړې دستر ملګري ښاغلي نواب نجيب الله خان يوسفزي ته وسپارلی شو. دی د مغل باچا وزيراعظم شو، پوځي او ملکي واک د ده سره وو، مغل تش په نوم باچا وو، شاه عالم مغل د نواب له اجازې پرته د ډيلي نه بهر (ورچانی) نه شو تلای. بابا دغه کار ځکه کړی وو، چې د مغلو ناکړدې ورمالومې وې، د افغانستان وجود پخپله د مغلو او شيعه صفاويانو د ظلمونو نتيجه وه، د افغانانو سره د دوي دغه غورځېدلې رويه او سلوک وو، چې افغانان د

هغوي خلاف پاڅون ته اړ شول، چې نتيجه يې د افغانستان يې په شكل كښې ښكاره شوه.

د هند نه پس بابا هو به هو عمل د پارس سره وكړو. بابا د پارس خاوره په افغانستان كښې گډه نه كړه، د افغانستان پولې تر هغه بريد پورې وغزولې، تر كومه ځاى پورې چې دافغاني كوچيانو سيمې وې، د ده سياست يا پاليسي داسې وه چې پارس كښې يې هم قوي دولت نه برداشت كولو، چې افغانستان ته ځنې خطره جوړه شي، هم دغه وجه وه چې بابا د نادر افشار كورنۍ په واک كښې پرېښوده، مگر په دوي يې نظر وو، چې كه چرې سستي كوي، يا يې نيت خيرن شي، افغانستان باندې يرغل ته يې زړه وشي، بايد ډېر زر وټكول شي او غوړونه يې تاؤ شي، نو ځكه بابا به دوي ټكول، مركزي قوي سلطنت جوړولو ته يې نه پرېښودل. بابا چې افغاني پولې د هند اړخ او پارس (ايران) اړخ ته سرې كړې، اوس دربم وت ياني دربم اړخ ته متوجې شو.

كله چې بابا مارچ ١٧٦٣ع كښې هند پاني پت كښې مرهټې پوځونه وټكول نو د بابا د تورې شرنگ د پارس، هند او افغانستان د پولو(سرحدونو) ووتلو، د دې سره بنگال كښې پېرنگيان وارخطا شول، دچين ، پيټرس بورگ او زارِ روس دربارونو كښې د خطر ژغژغى وكړنگيدې،چې په دې وخت سائبېريا ،منگوليا او تر څه حده مركزي ايشيا كښې د چين او زارِ روس سيالي پېل شوې وه، خو تر دې وخته پورې افغاني پولې ته مستقيمه خطره ترې نه وه جوړه شوې.

په ١٧٦٠ع كال كې د چين مان چو سلطنت زارِ روس ته د مركزي ايشيا اسلامي رياستونو په خپل مينځ كښې سره وېشلو وړانديز (پيشكش) وكړو، چې زارِ روس دغه وړانديز رد كړو. بابا اوس شمال ته ټوله توجو واړوله، د زارِ روس او چين ترمينځ دغه سيالي توده روانه وه، هم د حرص او لالچ د وجې د چين مان چو سلطنت مركزي ايشيا كښې قازاق او بحروت قبايل لاندې كړل. د اسحاک كول پورې دوي راغلل، د كوكند رياست د دوي باج وركونكى شو، چينيانو پلان درلوده، چې ټوله مركزي ايشيا تر امو پورې لاندې كړي. افغاني مشران دې لوى خطر ته جدي متوجې او كندهار كښې بې ارامه شول، په دې وخت كښې كندهار يواځنى مركز وو، چې هندديانو، پارسيانو او مركزي ايشيا مسلمانانو سترگې ورته نيولې وې.

د كاشغر مسلمانان د چين اسلام دښمنه سياست نه ډېر په عذاب وو، دوي بيا بيا كندهار ته د نجات لپاره جرگې، وفدونه او خبرونه رالېږل، دغه راز په كندهار كښې افغاني مشران هم په دې پوهېدل چې كه چين يو ړپ ووهي، نو كېدى شي چې دوي د بدخشان، چترال اوسوات د لارو افغاني خاورې ته راننوځي، بل قدم به بلخ، هرات، كندهار، كابل او پېښور وي، او كه مركزي ايشيا مكمله د دوي په لاس ورشي، بيا به يې ايستل گران شي، نو د چينيانو د ټكولو وخت دى ، روسيان هم د چينيانو د خوا نه بې ارامه وو، پيټرس بورگ ته داسې ا وازې رسېدې، چې كندهار د چينايانو د ډبولو پروگرام جوړ كړى دى.

(نور په بله گڼه كې)

# د خوب مانا

**اروانښاد ډاکټر کبیر ستوري**

## پېژندګلوي:

خــوب لفــظ: خــوب پــه پښــتو کــې یــو داســې لفــظ دی، چــې زیــات وخــت د نــورو لفظونــو (وئیــو، لغتونــو یــا کلیمــو سره یــو ځــای راځــي، لکــه خــوب لیــدل ، خــوب کــول، خــوب وړل، خــوب ځنګــول، خــوب راتلــل، خــوب درتلــل، خــوب ورتلــل او خــوب تښتېدل.

بــې د خــوب لیــدلو او خــوب تښتــتېدلو ځخــه دا نــور لفظونــه د ویــده کېــدلو یــا ویــده کولــو مانــا ورکــوي، خــوب تښتــتېدل د ویښــتېدلو یــا راویښــېدلو پــه مانــا کــارول کېږي، چــې د ویــده کېــدلو یــا ویــده کولــو ضد دی.

خــوب خپلــه هــم دخــوب لیــدلو او هــم د خوب کولو مانا ورکوي خو مونږ یې په دې کتــاب زیــات وخــت د خــوب لیــدلو پــه مانــا کــاروو او کله یې چې د خوب کولو پــه مانــا کــاروو، نــو بیــا خپلــه خوب کول یــا ورسره پــه

لنــدیو کــې خــوب کــول لیکــو. پــه نــورو تــورو سره خــوب سړی هلــه وینــي، چــې ویــده وي او ویښ نــه وي، خــو کلــه نــا کلــه پــه ویښــه د خــوب لیــدلو یــا د ورځــې د خــوب لیــدلو ځخــه هــم خبــري کېــږي. دا بــې د تخیــل (Phantais یا Facy ) ځخـه بـل شی نـه دی، تخیـل د وخـت او ځــای د قیــد ځخــه آزاد دی. د تخیــل پــه شــان خــوب هــم د وخــت او د ځــای د قــانون پابنــد نــه ده، سړی کــولی شــي پــه خــوب کــې خپــل خپلــوان چــې پخــوا وفــات شــوي وي وویني هــم انســانان او هــم پــر مــخ تللــي ژوی (حیوانــات) چــې مغــزو یــې لــوړه وده کــړې وي خوبونه ویني.

## مصنوعي یا جوړ کړي خوبونه:

مصــنوعي یــا جــوړ کــړي خوبونــه، هغــه خوبونـو تـه وایـي، چـې چـا لیـدلې نـه وي او د یــوې مــوخې (هــدف ) لپــاره چــا خیــالي جــوړ کــړې وي ددې خوبونــو یــوه بېلګــه د جنــرال

رحمت الله د خيالي قدرت نمونې په کتاب کې راغلې ده، چې دې ليکي چې: ((مرحوم مولوي صاحب طاوس خان چې د شبقدر په کمپ کې اوسېده له اقتصادي مشکلاتو او ستونزو نه يې ډېر شکايت وکړ، مونږ څو ملګرو ورته وويلې، چې حضرت صاحب ته خوب ووينه کومک به درسره وکړي، مولوي حضرت صاحب وويل: چې ته مې په خوب کې ليدلی يې مجددي صاحب ورته وويل: چې خوب دې په مجلس کې ووايه، له ډوډۍ نه وروسته مجلس جوړ شو او مجددي صاحب تر ټولو مخکې وويلې، چې مولوي صاحب خوب ليدلی توجه وکړئ چې خپل خوب ووايي، طاوس خان وويل: چې وريځ وه، باران و، توپان شو، تپه تياره شوه، سترګه په سترګه نه ښکارېدل، ګورم چې قبلې خوا ته رڼايي شوه، وريځې سپينې شوې، ګورم چې جګه غونډۍ ده او يو سړی د غونډۍ په سر په آس سپور ښکاري، ښه رڼايي شوه آس و، لکه د "افسانو" براق مجددي صاحب له آس نه کوز شو او په ډنډو اوبو ودريده او خپل لستوڼي يې پورته کړل، ما د آس جلب ته لاس کړه چې آس ونيسم چې لاړ نشي. مجددي وويلې، چې آس بلد دی چېرته نه ځي، مجددي صاحب دغه ګنده اوبه په خپلو لاسونو لرې واچولې او ډنډ ځای پاک شو. د خوب په تعبير شروع شوه، يو چا وويل چې آس اقبال دی او اقبال له مجددي صاحب سره بلد دی، همېشه به دده سره اوسي، بل چا وويل چې دغه ګنده ډنډ روسان او کمونستان وو چې حضرت صاحب ايسته واچول او خدای به ځ افغانستان د حضرت صاحب په لاس آزاد کړي.

وکيل اسدالله خان وويل، چې خوب او تعبير درست دي حقيقت لري او شک په کې نشته، خو دا يو شی معلوم نه شو، چې مجددي صاحب دغه ګنده اوبه د پاکستان په لور واچولې او که د ماسکو په لور؟

په دې خبره ځينې په خندا شول، په نتيجه کې حضرت صاحب مولوي صاحب ته معاش وټاکه او د وکيل اسدالله خان معاش يې قطع کړ ((جنرال رحمت الله صافی ۱۳۷۷هـ.ش مخونه ۴۱/ ۴۲).

## خوب کول:

ورځ د کار او شپه د خوب کولو لپاره پيدا شوې ده له دې کبله انسانان په دعادي حالت کې د ورځې ويښ وي او کار کوي او د شپې ويده کېږي، او خوب کوي بې له خنډه خوب کول د انسان د جسماني او ساوال (روحي يا نفسي) روغتيا لپاره ضروري دي. د خوب کولو د ضرورت اندازه د انسان د عمر پورې تړلې ده، نوی زېږېدلی ماشوم په ۲۴ ساعته شپه او ورځ کې د ۱۲ نه نيولې تر ۲۰ ساعتونو (ګينټو، ګړيو) پورې خوب کولو ته اړتيا لري. (Eva Kumar, 2003, 13) درې مياشتنی ماشوم بيا د ۱۳ نيولې تر ۱۵ ساعتونو او د شپږو

میاشتو یا نیم کال څخه نیولې تر یوه کال پورې ماشوم بیا د ۱۲ نیولې تر ۱۴ ساعتونو پورې خوب کولو ته په ۲۴ ساعتونو کې اړتیا لري. د یو کال څخه نیولې تر درې کلونو پورې ماشوم د لسو څخه نیولې تر ۱۲ ساعتونو پورې خوب کولو ته او اووه کلن ماشوم څه نا څه لسو ساعتونو خوب کولو او غټان (بالغ کسان) بیا په منځنې توګه د ۷ نه نیولې تر ۹ ساعتونو پورې خوب کولو ته اړتیا لري، زیات غټان (بالغ کسان) په څلېریشت ۲۴ ساعتونو کې اته ۸ ساعته خوب کوي، خوب کول یا ویده کېدل د انسانانو بنسټي اړتیا ده کله چې یو شپه سړی سم خوب ونکړي سبا ته ځان سم نه احساسوي، څه شی ته یې ډېر نه لګېږي، که سړی خوب ته پرې نښودل شي نو په څلورمه ورځ د انسان جسماني حالت خرابېږي دځای او ووخت په مالومولو کې نیمګړتیا راځي د یوولسو ورځو څخه زیاته بې خوبي یا خوب نه کول سړی زغملی نه شي.

(Eva Kumar, 2003, 13) کوچنیانو او بوډاګانو خوب کول یا ویده کېدل په شپه او ورځ وېشل شوي، چې غټه برخه یې د شپې او کوچنۍ برخه یې د ورځې کېږي. په ژمي کې په ۲۴ ساعتونو کې څه ناڅه ساعت سړی زیات ویده کېږي.

## د خوب کولو پړاوونه:

د مغـــــزو د برېښــــــنایي څپــــــو (Elektroecnzephalogramm= EE G) له مخې خوب کولو په ترڅ کې څلور پړاوونه یا برخې سره بېلېږي، دا لومړنی پړاو د سترګو د ګړندۍ خوځوونې (Rapid Eye Movement t= rem) د سرسري خوب پړاو په نامه یادېږي په دې پړاو کې نه سړی ویښ وي او نه ویده وي په نو رو تورو سره نیم ویښ او نیم ویده وي، پاتې نور درې پړاوونه د ژور یا دراندہ خوب پړاوونه ګڼل کېږي، دې پړاوونو ته د نه خوځېدلو ( non rapid eye monement=Non-Rem) دې ته ته ګوته نیسي، چې په سلو کې ۸۰ کسان د خوب کولو په لومړي پړاو یا د سترګو ګړندي خوځېدلو (رپېدلو) په پړاو کې خوبونه ویني او یوازې په سلو کې ۷ کسان د ژور خوب یا دروند خوب کولو په پړاو کې خوبونه ویني، دا ددې مانا لري چې د خوب کولو یا ویده کېدلو لومړی پړاو دخوب لیدلو اصلي پړاو دی.

خوب کول یا ویده کېدل په لومړي پړاو کې چې سړی پکې نیم ویښ او نیم ویده وي پیل کېږي، بیا سړی بې له دې څخه چې په ځان پوه شي دوهم پړاو ته وروسته بیا دریم او ورپسې څلورم پړاو ته کوزېږي او دلته د څه نا څه دوه ساعتونو تېرولو وروسته بېرته لومړي پړاو ته راخېژي او څه نا څه نیم ساعت پکې پاتې کېږي او بیا بېرته ند ژور خوب کولو او یا د درانه خوب کولو پړاو ته کوزېږي، په دې توګه څو ځلې سړی د خوب کولو په ترڅ کې لومړي پړاو ته راځي، خو هر څومره چې خوب کول زیات دوام کوي د درانه خوب کولو په برخه کمېږي او د سرسري خوب کولو یا د لومړي پړاو یا د خوب کولو برخه زیاتېږي، د ژور خوب کولو په

دوران کې سا ورو ورو اخيستل کېږي انرژي سپما کېږي، ځکه چې سږی هېڅ فعال نه وي او لږ اکسيجن ته اړتيا لري، د خوب کولو په لومړي پړاو کې چې د خوب ليدلو پړاو دی سا بيا د ژور خوب کولو په پرتله ژر اخيستل کېږي، زړه ګړندی کار کوي او د وينې فشار جګ وي، په دې توګه مغزو ته ښه وينه رسېږي.

## وېښ ژوند او خوب ليدلو اړيکې:

ځيني ليکوالان د وېښ ژوند او خوب ليدلو د اړيکو په ضد او ځينې نور يې لپاره خبرې کوي فرايد (Freud) ليکي، چې: (د وېښ انسان سرسري قضاوت دادی، چې کله چېرته خوب ليدل د بلې نړۍ پورې اړه ونلري، خو خوب کوونکي بلې نړۍ ته بيايي (Freud, 1961, s. 17) دې زياتوي، چې بوردا خ (Burdach) خوب ليدنه په ډېر غور سره انځور کړې ده، وايي چې هېڅکله په وينېه ژوند د خپلو هڅو خوندونو خوشحاليو او دردونو سره په خوب ليدلو کې نه تکرارېږي، بلکې په ډېره اندازه سره په خوب ليدنه کې ددې څخه مونږ خلاصېږو.

فرايد (Freud) زياتوي، چې په همدې مانا سره ستېرومپل (Strumpell) خبرې کوي او ليکي، چې څوک چې خوب ويني هغه د وېښ يا بيدار هوښ (شعور) د نړۍ نه ستون شوی وي، په خوب ليدلو کې د وېښ هوښ (شعور) د ډډ او متن خوندی (ياد يا حافظه) او د هغه عادت منظم کړه چلند) ببخي ورک شوی وي. ( Freud, 1961, s. 17).

زيات شمېر ليکوالان بر خلاف ددې د وېښ ژوند او خوب ليدلو تر منځ په اړيکو ټينګار کوي، فرايد (Freud) وايي چې ويګندد (Weygandt) د بورداخ (Buradach) په پورتنۍ خبرې سيده نيوکه (اعتراض، انتقاد) کوي او ليکي چې په زياتو خوبونو (خوب ليدلو) کې ليدل کېږي، چې دا مونږ ورځنی عادي ژوند ته بېرته راولي په ځای ددې، چې مو ترې لېرې کړي. فرايد چې هافنر (Hauffner) وايي، چې لومړی خوب ليدنه وېښ ژوند مخ په وړاندې بيايي زمونږ خوب ليدنه د هغه يادونو سره غوټه کېږي، چې لږ څه مخکې زمونږ په هوش (شعور) کې و. ژور کتنه تل هغه پيدا کولی شي، په کوم چې خوب ليدل د تيرو وختونو د کتنو سره غوټه کېږي. فرايد بيا ديسن (jessen) خبرې ته راځي چې وايي لږ يا ډېر د خوب ليدلو ډډ (متن) د هر يو تن دسرېتوب په واسطه ټاکل کېږي، چې د هر يو تن عمر، جنسيت (ښځې يا نرتوب) مقام، روزنه، د ژوند عادتونه، د ټول ژوند تجربه پېښې پکې رول لوبوي ( Freud , 1961, s. 17).

فرايد (Freud) بيا د فلسلي ماس (Maas) خبره راوړي، چې وايي تجربۀ زمونږ دا ادعا تائيدوي، چې مونږ د هغه شيانو زيات خوبونه وينو چې مونږ ته ګران وي او مونږ پرې خپه کېږو (Freud, 1961, s. 18) ځينې نور بيا وايي چې هغه څه هم په خوب کې راځي چې سړي ته ارزښت نه لري او ورته ګران نه وي.

فرايد (Freud) په دې نښتون هلډې براند (Hildebrandt) نظر را په ګوته کوي، چې وايي

د خوب لیدلو حاجت دی چې د یوې خوا د ربښتیاني او حقیقي ژوند څخه ځان په ډډه او ببلوي او د بلې خوا دا د هغه پوره اړه لري.

## خوندي (حافظ):

په خوب لیدلو کې او خوب لیدو توکونه (مواد) سړی داسې ګڼه (فرضیه) کولی شي، چې هر څه مونږ:

## خوندي:

په انګلیسي کې Memory او په جرمني کې Gedachnis په خوب کې وینو زمونږ د ویښ ژوند د تجربو کتنو او احساس محصول دی، خو په خوب (لیدلو کې کله نا کله داسې مواد رامخته کېږي، چې سړي ویښ ژوند کې کتلې نه وي او د ویښ ژوند پورې نه تړل کېږي. سړي ته دا په یاد وي، چې څوک یا څه شی یې په خوب کې لیدلی دی، خو په دې نه پوهېږي، چې په ویښه یې کله او چېرته لیدلی دی، سړي ته پکار دي چې دا ومني چې په خوب (لیدلو) کې څه شي نه خبر و او په یاد یې و، خو په ویښه د هغې د یاد توان نه لري.

فراید (Freud زیاتوي، چې زما په اند (هر څوک چې په خوبونو (Dream) باندې کار کوي د یوې عادي پېښې په توګه به دا ومني، چې په خوب کې سړی داسې مالومات او یادونه لري، چې په ویښه یې نه لري. (Freud, 1961, s. 23).

فراید (Freud) زیاتوي، چې یوه پېښه د ماشوم والي کتنې او لیدنې دي، چې په خوب کې توکونه (مواد) لیدل کېږي، خو په ویښه یې سړی یادولی نه شي، په خوب کې مونږ د ماشومتوب یا ډېر لېرې وخت پېښې وینو، چې مونږ هېرې کړې وي او په ویښه ورسره سر و کار نه لرو، په دې کې د ماشوم والي د هغه پېښو د کسانو او شیانو تصورونه هم شامل دي، چې د سړي لپاره ډېر مهم نه و او غاړه ییز رول لري، له دې کبله سړي ته وروسته له هغې چې راویښ شي پردی یا نا اشنا ښکاري.

فراید (Freud) لیکي چې فولکلت (Volkelt) وایي چې (خاصې پاملرنه وړ دا خبره ده، چې په خوب کې مونږ د ماشوم والي او ځوانۍ پېښې وینو په کومو چې مونږ سوچ نه کوو او زمونږ لپاره یې خپل اهمیت د لاسه ورکړی دی). (Freud, 1961, s, 24) داسې برېښي چې د ماشوموالي او ځوانۍ پېښې په زیاتو خوبونو کې کره رول لوبوي فراید (Freud) زیاتوي، چې روبرت (Robert) وایي چې په ټولیزه (عمومي) توګه په عادي خوب (لیدلو) کې د اخرنیو ورځو پېښو ته ځای ورکړی شوی وي او بیا د هلډې بران (Hildebrandt) په حواله سره وایي چې په خوب کې هغه پېښې او شیان هم راځي، چې په ویښ ژوند مهمې نه وي او غاړه ییز (فرعي) ارزښت لري (Freud, 1961, s. 26).

## د ړندو خوبونه:

رواخر (Rohracher) لیکي چې (د هغه کسانو په خوبونو کې چې ړانده پیدا شوي دي، تصویرونه نه وي چې دا ددې ادعا لپاره یوه دلیل دی، چې د خوب ټول توکونه (مواد) زمونږ په تجربو او معلومات ولاړ دي). Rohgracher,

1965, s. 297).

د ړندو پیدا شوي انسانانو خوبونه تصویرونه نه لري، چې په ویښه د سترګو پورې اړه لري خو نور څلور واړه حسونه یې په خوب کې کار کولی شي لکه حس کول، اورېدل، خوند کتل او بوي کول، هو هغه انسانان چې بیا وروسته ړانده شوي وي هغه تصویرونه په خوب کې لیدلی شي.

## لنډیز:

یو شمېر لیکوالان د خوب د موادو او د ویښ ژوند اړیکې په شک کې نه اچوي او وايي، چې خوب کې سړی هغه څه ویني یا حس کوي، چې په ویښته یې لیدلی یا حس کړی وي، کېدای شي چې دغه څه مهم یا غیری مهم او غاړه ییز د لنډ وخت وي یعنې هغه کارونه او پېښې وي، چې په ویښه په بشپړه توګه سرته ونه رسېږي، نو د شپې په خوب کېې راځي او یا د تېر لري وخت یعنې ماشومتوب یا ځوانۍ وي، ځینې نور بیا د خوب او د ویښ ژوند په منځ کې اړیکې ردوي او په دې نظریه دي چې خوب (لیدل) د ویښ ژوند نه بېل واقعیت یا موجودیت دی، چې مونږ د واقعي ژوند څخه بېلوي، یادونه یې د منځه وړي یو بلې نړۍ ته مو بیایي چې د پیدا ینښت بل ډول تاریخ لري، چې په واقعي توګه منځ ته نه دی راغلی، خو زما په اند په خوب (لیدلو) کې تخیل او تصویر ډېر مهم رول لوبوي او د خوب د (لیدلو) کره برخه جوړوي په تخیل ( Fancy Fantasie یا Tas Phantasie) او تصویر کې د وخت او ځای پابندي نه شته دی، په خوب کې هم د وخت او ځای پابندي نه شته دی. سړی په خوب کې کولی شي چې خوشحال خان بابا اجمل خټک کې څه هم د بېلو زمانو پورې اړه لري یو ځای او یو وخت کې ووینې، ددې لپاره چې په دې خبره ښه پوه شو لنډ نظر تخیل ته اچوو.

## تخیل (Phanntasie):

که چېرته مونږ داسې هڅه وکړو، چې هغه څه رایاد کړو، چې یو ساعت (یوه ګړۍ) د مخه مو کړې وي، نو مونږ کومې ستونزې نه لرو چې کره (مهمې) برخې یې د هغه خبرو چې یوه ګړۍ (ساعت) د مخه کړې وي رایادې کړو، نو بیا پخپل یاد کې ځینې کندې کپرې هواروو، ځینې برخې پرېږدو او ځینې نوي ور زیاتوو. (Rohracher, 1965, s. 294).

په دې هکله زیات شمېر تجربوي (Experimentelle) څېړنې شوې دي، عمر، سړیتوب او قومیت په کې رول لوبوي او روراخر (Rohracher) وايي چې بارلټ (Barlet) انګلیسانو او هندوانو ته د دوه سوه ویو (لغتونو) متن ورکړی و، چې یاد یې کړي. د پنځلسو دقیقو دمې وروسته انګلیسانو ډېر ساه او لنډ کړی و، هندوانو بیا برخلاف اوږد کړی او سینګار کړی و (Rohracher, 1965, s. 294) هغه یادونه چې پخوانۍ کتنې ډډ (متن) جوړوي، د خوندۍ (حافظې) څخه راځي، هغه یادونه چې پخوانیو کتنو ولاړ نه دی د تخیل (fancy) محصول دی، تخیل هغه څه دی، چې یادونو ته بله بڼه ورکوي، نوی ترکیب جوړوي

او په دې توګه د يادونو ترکيبونه منځ ته راځي، چې رښتيا (واقعي يا حقيقي) نه ګڼل کېږي.
.(Rohracher, 1965, s. 294)

رورا خر (Rohracher) زياتوي، چې کاينځ (Kainz) د خوندي (حافظې) او تخيل په منځ کې توپير داسې را په ګوته کړی دی، چې خوندي (حافظه) ساتونکې وه او کټ مټ د هغه څه رايادوي، چې يو ځل سړي ليدلې وي او تخيل بر خلاف ددې د بدلولو او نوې جوړونې دنده تر سره کوي، (Rohracher, 1965, s. 295).
تخيل هغه ساوال (نفسي ، رواني، روحي) ځواک دی چې هغه مواد چې زمونږ د مالوماتو او تجربو محصول دی او په خوندي (حافظې کې زېرمه شوي دي، د نورو موادو سره چې زمونږ د مالوماتو او تجربې محصول نه دی يو ځای کوي او نوی شی منځ ته راوړي لکه، يوه نوې ودانۍ چې د زړو ښېښتو او لرګو څخه جوړه شوې وي، تخيل يو ساوال (نفسي، رواني، يا روحي) ځواک دی، چې يادونه د نويو شيانو سره يو ځای کوي او په دې توګه د يادونو ترکيبونه جوړوي، چې نوې بڼه لري.
د ماشومانو، ځوانانو او همدغه شان د شاعرانو او فنکارانو د تخيل ځواک (قوه) خورا غښتلې وي، د ماشومتوب او ځوانۍ د وخت معلومات او مواد په خوبونو کې کره رول لوبوي.

## د خوبونو سرچينه يا علت:

په پوهنيز ډګر کې خوب ليدلو سرچينه يا علت په خوب کولو کې خنډ پيدا کېدل ګڼل کېږي، سړي به خوب ليدلی نه وي، که چېرته څه شی په خوب کولو کې خنډ نه وي اچولی، خوب ليدل په خوب کولو کې په خنډ اچولو غبرګون دی، دلته دا پوښتنه منځ ته راځي چې دا خنډ يو شی اچوي او که ډېر شيان يې اچوي، زيات شمېر ليکوالان په دې نظر دي چې په خوب کولو کې د خنډ اچولو سرچينې يا علتونه ډېر دي، دا چې کوم د خوب ليدلو لپاره مهم دی په دې هکله د مختلفو ليکوالانو نظري يو د بل سره توپير لري چې مونږ پرې دلته رڼا نه اچوو، په ټوليزه توګه د خوبونو د ليدلو سرچينې يا علتونه په څلورو ډولونو وېشل کېږي:

(۱): بهرني حسي پاروونکي.
.Objective=ABere Sinneseregung

(۲): دنني حسي پاروونکي.
.Subjective= innere Sinneseregung

(۳): دنني جسماني پاروونکي.
.Orrganischer= innere Leibreiz

(۴): سوچه سا والي (نفسي، روحي، رواني) پاروونکي.
.Rein Psychische Reizquelle

## بهرني حسي پاروونکي:

کله چې سړی ويده کېږي، نو سترګې پټې کړي او ددې هڅه کوي، چې دبهر سره حسي دروازې وتړي خو سړی نه شي کولی، چې پاروونکي باالکل دننه را پرې نږدي او يا د حسونو پاربدنه باالکل ختمه کړي، دا چې مونږ غښتلي پاروونکي هر وخت وښنولی شي، په

ثبوت رسوي چې د خوب کولو په وخت کې هم د بهرنۍ نړۍ سره پرله پسې تماس شته او ځینې پاروونکي د خوب کولو په وخت کې مونږ ته راځي ، چې د خوب لیدلو چینه ګرځي، خو دا پاروونکي پخپله رښتیاني بڼه کې نه بلکې په بله بڼه کې مونږ ته راځي، چې درښتیاني بڼې سره اړیکې لري، په دې نښتون کې فراید (Freud) ماير (Meier) خوب را په ګوته کوي، چې یو شمېر کسان پرې برید کوي او دی په شا ازاد په ځمکه غزوي، او غټې ګوتې او بلې ګوتې په منځ کې غشی په ځمکه ټک وهي، داسې په خوب کې لیدل چې په دې مننځ کې راپاڅېدلی وي لیدل چې پلاله یې دغټې ګوتې او بله ګوتې تر منځ تاوه شوې ده. بله پیره چې د کمیس د هرې د خوا توکمۍ یې کلکې تړلې وي خوب یې لیده چې همانسې (غرغره) شوی وي، یعنې خپسۍ نیولی و او دمرۍ ځوړند شوی و. فراید (Freud) زیاتوي، چې هوف باوور (HolffBauer) په ځوانۍ کې خوب لیدلی و چې (جګ دېوال څخه رالوېدلی وي چې راپاڅېدو، ویې کتل چې ګټ برې مات شوی دی او دی رښتیا لوېدلی دی. ( Freud, 1961, s. 31) زلمي وايي چې چا راته د کلا د تاداو عکس راوړو، چې زما تره زوی زما په ځمکه جوړوله، زه په دې سوچونو کې ویده شوم، په خوب کې یو کنډر وینم چې دروازې او کړکۍ نه لري چې کتل مې دننه کنډر وپړسېده کوټې او یو کوچنی کور پکې په څو دقیقو کې جوړ شو، دا کور زما د تره زوی نه و بلکې زما د یوه دوست و، چې زما زوی تړون وویل چې زه به پکې په کرایه دیره شم، په دې منځ کې زه د خوبه راپاڅېدم.

د زلمي دا خوب مونږ ته دا را په ګوته کوي چې نه یوازې بهرنۍ پاروونکي خپله بڼه بدلوي، بلکې د خوب لیدلو په لړ کې د وخت او ځای قانون بندي چې په ویښه اعتبار لري ناچل وي په څو دقیقو کې کور جوړېږي، چې په ویښه امکان نه لري او هم د کور خاوند بدلېږي. خوب لیدل یو داسې حالت دی، چې د وخت او ځای پابندي پکې نه شته دی.

دا پوښتنه چې سړی د خوب لیدلو په ترڅ کې د بهرني پاروونکي خوي او خاصیت نه پېژني د فراید (Freud) د لیکنې له مخې شټرومیل (Strumpell) او اونډ (Wundt) داسې ځواب ورکړی دی، چې دغه پاروونکي چې په خوب کې سړي ته راځي، د تیروتنې (Illusion) په حالت کې وي یعنې د تیروتنې د شرطونو د لاندې وي.

یو حسي پاروونکي مونږ سم پېژنو کله چې ددغه پاروونکي حس او پېژند غښتلی، روښانه او پوره دوام لرونکی او په دې هکله د سوچ کولو لپاره مونږ سره پوره وخت وي، کله چې دغه شرطونه پوره نه وي نو بیا مونږ شی نه پېژنو، چې حس کوو یې، مونږ په دغه شي تېروزو. د بېلګې په توګه: کله چې سړی په پراخ ډګر کې چکر وهي او لېرې یو څه د سترګو شی، چې روښانه او جوت نه وي، نو کېدای شي چې دغه څه ورته آس ښکاره شي، او چې لږ

ورته را وړاندې شي بيا ورته غوا ښکاره شي او بالاخره چې ښه ورته رانږدې شي، نو بيا يې وپېژني چې انسانان دي چې ناست دي، همدغه شان نامعلومه خوي او طبيعت هغه حس دی چې بهرني پاروونکي په خوب کې مونږ ته راکوي همدا تيروتنه يا غلط احساس دی. (Freud, 1961, s. 35).

## دنني حسي پاروونکي يا ذهني Subjective پاروونکي:

د ټولو نيوکو سره سره عيني (Objective) حسي پاروونکو (Erreger) په خوب ليدلو کې سره رول لري، خو دا چې د ټولو خوبونو تصورونه ددغه پاروونکو په مرسته روښانه کېدلی نه شي، نو د نورو پاروونکو لټه پکار ه، دا دنني حسي پاروونکي يا ذهني (Subjective) پاروونکي کېدلی شي، مطلب دلته د تخيل او تصور څخه دي، تخيل نا مخامخ په لفظونو کېږي او تصور مخامخ په تصورونو کې راښکاره کېږي، داسې مخامخ تصورونه يا تصور يو شمېر انسانان د ويده کېدلو په ترخ کې لري او د سترګو برسېره کولو وروسته هم يوه شېبه وي. فرايد (Freud) ليکي، چې ماوري (Maury) چې غښتلی تصور لرلو وايي چې تصوري څېرې په خوب کې سړي ته راځي د مخامخ تصويرونو لپاره چې سړی يې ويني او ربښتيا وجود نه لري، يعنې تصوير وي، د تصوير د منځ ته راتګ لپاره يوه اندازه غبرې فعال کېدنه پکار ده، چې انسان فعاليت بند کړي او خپل ځان راغونډ کړي فرايد (freud) ليکي چې ماوري (Maury) په خوب کې هماغه تصويرونه ليدلي دي، چې مخکې د ورکېدلو څخه يې مخامخ ليدلي و.

يوه ورځ دی وږی و، ځکه چې پرهېزانه يې خوړه په تصوير کې يوه کاسه ويني چې ډوډۍ پکې ده او يو تن پنجه په لاس کې نيولې ده او کاسې څخه خوراک را اخلي. په خوب کې هم د خوړو ډکه کاسه ليدلې وه، چې د پنجې کشار يې اورېده چې خواړه يې ترې اخيستنه (Freud, 196, s. 37- 38).

## دنني جسماني پاروونکي:

کله، چې مونږ په دې لټه کې يو چې خوب سرچينه په بهر کې نه، بلکې د بدن په دننه کې وګورو نو بيا پکار ده، چې دې ته پاملرنه وکړو، چې زمونږ د بدن قابو ټول غړي د روغتيا په حالت کې د خپل ځان نه خبرې نه ورکوي خو د ناروغۍ په وخت کې دردونکی احساس راکوي، چې د بهرني پاروونکو د درد او احساس سره برابروي، فرايد ليکي چې دا ډېر پخوانۍ تجربه ده، چې د خوب کولو په وخت چې سړی ويده وي داحساس ساحه پراخه وي او داسې څه سړی حس کولی شي، چې د خپل بدن د غړو څخه يې راځي او په ويښه يې حس کولی نه شي، دا خبره ارستولس (Aristoteles) امکاني ګڼله، چې په خوب کې سړی يوې ناروغۍ ته چې پيل کېږي، ځير کېږي. د انسان د بدن د يوه غړي خرابتيا د ډېرو انسانانو لپاره د خوب ليدلو (پارونکي يا

سرچینه) ده.

په ټوليزه (عمومي) توګه د زړه او سږو ناروغانو ته ګوته نیول کېږي، چې ډاروونکي خوبونه ویني د زړه د ناروغانو خوبونه ډېر لنډ وي او سړی په هیبت راپاڅېږي، چې په متن کې زیات وخت په خوب حالت کې مرګ رول لوبوي. د سږو د ناروغانو د خوبونو متن، تنګسه، سابندي او تېښته وي، چې خپسسې ورته ویل کېږي، شیطان تېر ایستنه د بدن د غړي د پارونې په واسطه د خوب لیدلو بله بېلګه ده، کله چې دا د ډاډ وړ وي چې د ناروغتیا په حالت کې د بدن غړي د خوب لیدلو علت وي او کله چې مونږ دا هم ومنو، چې د خوب کولو په وخت کې کې بهرنۍ نړۍ ته پاملرنه نه کېږي، او د ننني جسماني نړۍ ته زیاته پاملرنه کېږي، نو بیا دې ته اړتیا نشته دی، چې د بدن غړي ناروغه شي، چې د خوب لیدلو بنسټ وګرځي، بلکې هغه څه چې د طبیبانو له نظره د بدن د غړو ټول سیستم پکې برخه لري د شپې ژوره اغېزه لري او د خوب لیدلو سبب ګرځي، مونږ دلته دخوب لیدلو د منځ ته راتګ یوې نظریې ته راغلو، چې د ټولو طبي څېړونکو له خوا امتیاز ورکول کېږي، دا ځکه چې دوی د بدو د غړو د پارونې د هغه نښو تر منځې چې د خوب لیدلو او د بدن د غړو د پارونې د نښو تر منځ د ساوالي ناروغۍ (psychose) سبب ګرځي، په ډېره اندازه سره یو شان شته والی دی. فرایډ (Freud) لیکي چې د یو شمېر لیکوالانو لپاره د فلسفي شپین هاور (Schpenhauer) نظریه هم ده، چې د نړۍ انځور زمونږ په ذهن کې داسې جوړېږي، چې زمونږ عقل هغه پاروونې چې د بهر نه راځي د وخت، ځای علت او معلول په بڼه اړوي (Freud 1961, s. 41) د بدن غړي چې د خپلواک عصبي سیستم پورې اړه لري د ورځې په مونږ داسې اغېزه کوي چې مونږ یې نه حس کوو خو د شپې یې بیا حس کوو، لکه د دشور په شان چې د ورځې نه اورېدل کېږي، خو د شپې اورېدل کېږي په عمومي توګه دا منل شوې ده چې د خوب لیدلو په منځ ته راتګ کې د بدن غړي اغېزه کولی شي، دا خبره د ځینو خوبونو د مضمون نه را په ګوته کېږي، فرایډ (Freud) زیاتوي، چې سیمون (Simon) وایي چې د بدن د غړي د دستګاه چې په عادي حالت د احساساتو په څرګندولو کې برخه لري د کوم بل علت له کبله ترینګلې شي او د احساساتو په څرګندونو کې برخه ونه لري نو بیا سړی داسې خوب ویني، چې ددغه احساساتو سره سمون خوري، یو بل اصول دادي، چې د بدن د غړي دستګاه کې خنډ راشي نو بیا په خوب کې سړی داسې څه ویني چې د بدن د غړي ددې دستګاه د خنډ پورې اړه لري. (Freud, 1961, s. 43).

## ساوال (روحي پاروونکي):

کله، چې مونږ د ویښ ژوند او خوب لیدلو اړیکي څېړلې او د خوب لیدلو په سرچینې مو رڼا اچوله مونږ ته دا پته ولګېدله، چې د خوب پخوانیو او نویو څېړنو له نظره انسانان هغه په خوب کې ویني چې د ورځې کوي څه چې په

زړه پورې وي مونږ ددې نظريې سره تضاد هم وليده، چې خوب ليدل سړی د ورځني ژوند نه بې غمه کوي د ورځني ژوند شيان هله په خوب کې راځي چې خپل فعال خوي د لاسه ورکړي او زاړه شي.

خو ورځني په زړه پورې شيان، بهرني او دنني پاروونکي دي، ددې لپاره بسيا نه کوي چې د خوب ټولې سرچينې را په ګوته شي، داسې خوبونه هم شته دي چې دا پوښتنې درې پاروونکي يې روښانولی نه شي، دلته د تصوير يادونه ضروري ده. فرايد (Freud) ليکي چې ونډ (Wandt) وايي چې په ناحقه سره د خوب تصويرونه سړی د حسونو تيروتنې (Halizunation) ګڼي دا په حقيقت کې د تصويرونو برښيندنې (Illusionen) دی، ددغې حسيونونه پيدا کېږي، خو په زيات شمېر خوبونو کې جسماني پاروونکي، ورځنی کار او په زړه پورې شيان سارواليزو پاروونکو په توګه ورځنی نامعلوم پاروونکی په ګډه اغېزه لري.

د راوښيدلو وروسته ولې زمونږ هغه څه هېرېږي، چې په خوب کې مو ليدلي وي؟ ددې پوښتنې په ځواب کې سړی ويلی شي چې د خوبونو د هېرېدلو په برخه کې لومړی ټول هغه څه اعتبار لري، کوم چې په ويښه هم په هېرېدلو کې رول لوبوي، مونږ په ويښه يو شمېر هغه شيان هېروو، چې زمونږ د ساېز حالت سره کمزورې غوټه شوې وي، همدا خبره د خوب د ډېرو انځورونو لپاره اعتبار لري، چې زمونږ د ساوال ژوند سره اړيکې کمزور وي، په داسې حال کې چې د غښتلو اړيکو شيان ژر نه هېرېږي، خبره په ويښه داده، چې څه چې سړی يو وار وويني يا حس کړي هغه ژر هېرېږي او څه چې سړی تکرارويني يا حس کوي هغه ژر نه هېرېږي، د خوب زيات شمېر تصويرونه سړی يو ځل ويني له دې کبله ژر هېرېږي، دريمه خبره داده چې احساس، يادونه او سوچونه يوه اندازه په ياد پاتې شي، ضروري ده چې په مناسب ډول ټوليز اتحاد ولري. که چېرته سړی د يو شعر بيت لغتونه کړي او ټول ګډوډ کړي نو يادول يې ګران دي په منظم ډول ليکل شوی يو لغت د دبل سره مرسته کوي او په اسانۍ سره ډېره موده په ياد کې پاتې کېږي جاړ او غير منظم شيان په سختۍ سره په خوندی (حافظه) کې ساتل کېږي، په خوب کې شيان نامنظم وي.

په خوب کې د ويښ ژوند منظم يادونه نه راځي، بلکې خاصې برخې ددې راځي چې د هغه عادي ساوال اتحاد نه وينا شي چې په ويښه دوه نور شيان د خوب د هېرېدلو سبب ګرځي، چې يو يې په خوب کې بدل شوی احساس دی، چې په ويښه بل ډول وي او بل يې د رايادېدلو مودو نظم دی، چې د ويښ لپاره ژباړل کېدلی نه شي، د انساني عقل دا هڅه چې هر څه په نښتون کې ويني دومره غټه ده چې د بې نښتون خوب نيمګړتيا د راپارولو په ترڅ کې د منځه وړي فرايد (Freud) زياتوي، چې سپيلتا (Spilta) داسې ګڼنه کوي چې د

خوب د رایادولو په ترخ کې مونږ د خوب په موادو کې چې یو د بل په خوب کې پراته وي، نظم راولو یو بل پسې کوو او سم اندي (منطقي) نښتون پکې چې په خوب کې نه شته دی، منځ ته راوړي.

## د خوب ساوالي ځانګړتیاوې:

خوب لیدلو ته د پوهنیزې کتنې په لړ کې مونږ داسې ګڼه (فرضیه) کوو ، چې خوب زمونږ د خپل ساوال فعالت پایله (نتیجه) ده خو د خوب ډېر څه سرې ته نا اشنا او پردي ښکار، چې دا پوښتنه را پیدا کېږي، چې په خوب کې ساوالي پېښې بدلې نه دي؟

څه نا څه پاو کم اته بجې چې زه د خوبه راپاڅېدلی یم بېرته مې ډېره اچولې ده، یو لنډ خوب وینم، چې د کمیس مخکنۍ لمن کینې خوا ته شلېږي، سمدستي راپاڅېدم چې سوچ مې وکړ زه یو د خبټې اپریشن په مخکې لرم چې سبا ته یعنې په ۹ تاریخ د وخته د نرکوزي (Anesthesia Narkose) مخکې معاینې ته ورځم، ددې خوب علت هم راته دا د اپریشن اندېښنه معلومه شوه، چې د خېټې په ځای کمیس څیرېږي، یعنې پخپله شی بدل شوی دی، څه نا څه د سهار نهه بجې چې ویده شوم بېرته راپاڅېدم خوب وینم، چې د یو چا سره په موټر په مخکې سیټ کې ناسم یم چې هغه یې چلوي یو میدان غونډې ځای کې ډېر ګړندی روان وي، زه ورته وایم چې پام کوه چې نه څوک ونه وهې چې ګورم موټروان بې هوښه دی، دلته یو څو کورونه دي که یو کور دی.

موټر ودرېږي، زه تېرې راکوز شوم موټروان بې هوښه وي غږ وکړي چې تږی یم، زه اوبو پسې دغه کور ته ورننوزم لومړی ماشوم او بیا یوه ښځه ووینم، ښځې ته وایم چې خوږې لږې اوبه راکه چې موټروان ته یې ورکوم.

دا خوب زما د نرکوزي (Anasthesia) د اندېښنې سره په نښتون کې دی.

## نښوتنه:

د خوب څېړنه په طبي سا پوهنه کې یو خاص مقام لري او خوب مانا یو ستره انقلابي پېښه ګڼل کېږي، خپله د طبعي ساپوهنې مؤسسې ځیرمونډ فراید (S. Freud) د خپلو هغه هڅو بریتوب چې د خوبونو په مانا پوه شي ډېر جګ ارزیابي کوي، ځکه چې خوبونه د ساوالو پېښو غېږې بیدارې (غېږې شعورې) برخې ته غونډه لار لري.

په دې ځای کې طبي ساپوهنې یو شمېر بنسټي فرضیو ته لنډه کتنه پکار ده تر څو چې هغه لوستونکي چې د سا پوهنې سره بلد نه وي هم....

## یادونه:

اروابناد ډاکتر کبیر ستوری ۲۰۰۲-۰۴-۰۴ له دې فاني نړۍ سترګې پټې کړې او دا کتاب له همدې ځایه وروسته له لیکلو پاتې شوی.

# آزاد رقابت که خفیه تجارت

شمس الحق "شمس"

د ستوري مجلې محترمو لوستونکیو! په هره اداره کې د ادارې د پرمختګ او سمون لپاره لازمه ده، چې د ادارې په راس کې په کار پوهه سړي وګومارل شي. ددې عمل لپاره چې په کار پوهه سړي په کار وګومارل شي د آزاد رقابت پروسه یوه ښه عملیه ده، خو چې په رښتینولۍ او شفافیت سره سرته ورسېږي، او حق خپل حقدار ته ورسېږي، دا پخپله وظیفه کې یو امانت دی او باید چې خپل ولس ته ورکړل شي. ددې امانت په ورکړې سره به د ولس او ټولنې راتلونکی روښانه وي او هم به دهغه وخت د حاکم دچا په غاړه چې د آزاد رقابت پروسه وه هم به د الله په نزد او هم به خپل ضمیر ته ملامت نه وي، خو که کله د آزاد رقابت دا پروسه په ناجایز ډول او یا په درغلۍ سره سرته ورسېږي، نو نقصان بهٔ یې ټولې ټولنې ته ورسېږي او هغه په دې اساس چې په دې عملیه کې دوه ستر نواقص موجود دي، یو دا چې کامیاب سړی ناکام ښودل کېږي، دا د هغې لپاره توهین دی بلکې دا توهین یوائې یا د روابطو او یا د مادیاتو په اساس ورکړې کېږي، چې په پس منظر یا شا لید کې یې ډېر زیات نقصانات لري، چې جبران یې ډېر مشکل دی، خو د زور او خپګان نه یې د پروسې حاکم خبر نه وي، خو که دا عملیه ددې پروسې حاکمانو ځانته راجع کړه او دوی سره داسې عمل وشي، نو بیا به د درد او خپګان په احساس پوه شي، د بل طرفه ټولنې ته د یوه داسې سړي ورانډې کول د سفارش یا پنځو روپو په واسطه چې د کار اهلیت نه لري نو د دیوه

طرفـه د لـوی الله پـه نـزد مجـرم شـو او هـم ټـولنې تـه ددغـه کمیسـون د وظیفـې د شـفافیت او غیر شـفافیت پـه برخـه کې پوره معلومـات کېـږي، ځکـه چـې دغـه کامیـاب او ناکـام خلـک دواړه د همـدې ټـولنې غـړي دي او پخپـل ولـس او کـلي کـې دواړه معلـوم دی اګـر دوی پخپلـو پټـو سـترګو کامیـاب او ناکـام ښـودلی شي ټولنـه هـم پـه دې پوهـه ده چـې د نـاوړه سـړي پـه تقـرر کـې بـهٔ لازمـي يـا روپـۍ خـوړل شـوي او يـا بـه روابطـو ؟؟ چـې رد عمـل عمـلي کېـدل ټـولنې تـه يـو نـه جـبران کېـدونکی نقصـان دی کـه چېرتـه ماديـاتو پرسـت انسـان سـترګې پټـې کـړي او پـه کـار پوهـه سـړي پـه عـوض ناپوهـه سـړي مقـرر کـړي، دا دخپلـې ټـولنې د مشـکلاتو د حلولـو پـه ځـای د مشـکلاتو زيـاتول دي او خپلـې ټـولنې مشـکلات زيـاتول يـوه سـتره جفـا ده همـدا علـت دی، چـې پـه دولـت کېـې يـې روابـط پـه خپلـو ضـوابيطو حـاکم دی، تقريبـاً د هېـواد د آزادۍ يـوه پېـړۍ کېـږي، خـو زمـونږ پـه هېـواد کـې د يـوې سـتنې جوړولـو ظرفيـت پيـدا نـه شـو اسـاسي علـت يـې کـار اهـل د کـار تـه نـه سـپارل دي پـه افغانسـتان کـې د افغانـانو سره دوه قسـمه زيـاتي او جفـا شـوي او اوس هـم کېـږي، يـوې تـه د خلکـو پـام دی، خـو دې تـه خلکـو توجـه نـه ده اوښـتې کـومې تـه چـې د خلکـو پـام دی هغـه زمـونږ اراضي تماميـت تـه پاملرنـه نـه کـول دي، لکـه يعقـوب خـان چـې پـه ۱۲۵۷ هــ،ش کـال کـې د ګنـدمک معاهـده لاس ليـک کـړه تـر نـن پـورې د افغانسـتان پـه معـاصر تـاريخ کـې بـد نـوم لـري، حـال دا چـې د هغـې جـبران څلـور لسـيزې وروسـته پـه ۱۲۹۸ کې شـو خـو يـو لـوی او نـه جـبراني کېـدونکې خيانـت چـې افغانسـتان خلـک ورتـه متوجـه نـه دي هغـه افغانسـتان کـې افغانـان د نـاپوهۍ پـه تيـارو کـې سـاتل دي يعنـې کـار اهـل د کـار تـه نـه سـپارل دي، تـر څـو د خپلـو حقوقـو پوښـتنه ونکـړي دا د افغانسـتان پـټ اسـاسي دښـمنانان دي، چـې د دوی نقصـان جبـيره نـه ادا کېـدونکې ده يعنـې دوی د تـل لپـاره افغانسـتان د بـې عملـۍ پـه وجـه محتـاج سـاتل غـواړي، او هـم يـې د تـل لپـاره پـه جنـګ جګـړو کـې بوخـت غواړي.

يـواځې د خپـل امريـت سـاتلو لپـاره چـې دوی خپـل امريـت پـه ارام سره وکـړي او کـه چېرتـه کـار اهـل د کـار تـه وسـپارل شي نـو بيـا مجبـور دي چـې د اصـولو پـه بنـا وچلېـږي او د دوی امريـت او بعضـې تشـريفاتي کارنـامې بيـا نـه اجـرا کېـږي، نـو ځکـه د دوی لپـاره د وړ پـه ځـای نـاوړه خلـک بهـتر دي، ځکـه چـې د نـاوړه خلکـو پـه وجـود کـې دوی هـر څـه چـې وغـواړي سرتـه رسـېږي او امريـت يـې هـم منـل کېـږي، خـو يـوه خـبره چـې د يـادولو وړ ده هغـه دا چـې

د چا پـه الله جـل جلالـه يقـين او بـاور وي او دا ضروري منـــي، چـــې مـــرګ حـــق دی او د دنيـا هـر څـه پـه دنيـا کـې پـاتې کېـږي اود انسـان سره يـواځې هغـه څـه ځـي، چـې پـه نيـا کـې يـې کـوم عمـل اجـرا کـړی وي کـه چېرتـه يـوه انسـان الله جـل جلالـه حـق ګـڼلی وي او حـق يـې حقـدار تـه رسـولی وي او خپلـه وظيفـه يـې پـه حقـه او ايمانـدارۍ سرتـه رسـولې وي نـو الله جـل جلالـه بـهٔ ورتـه د هغـې پـه مقابـل کـې د نيکـۍ بدلـه ورکـړي او کـه چېرتـه يـې دنيـا يـې ماديـاتو پـه نظـر کـې نيولـو سره د يـوه حـق بـل تـه ورکـړی وي نـو هـم بـه الله جـل جلالـه پـه نـزد مجـرم او د ګنـاه مرتکـب وي او هـم بـه خپـل ضـمير تـه خجالـت وي، الله جـل جلالـه دې وکـړي چـې هـر انسـانن دددې دنيـا پـه ځـای اخـرت غـوره او بهـتر وګڼـي او د خيانـت نـه لاس واخـلي او د افغانســتان پـه مسـلمان او مظلـوم ملـت رحـم وکـړي او حـق حقـدار تـه وسـپاري تـر څـو افغانـان علـم پـه رڼـا کـې خپـل مشـکلات حـل کـړي او د نـورو د احتيـاج نـه خـلاص شي پـه اخـره د وخـت د هغـه حـاکمانو نـه احترامانـه غوښـتنه کـوم، چـې د دنيـا نـه اخـــرت غـــوره وګڼـــي او د افغانســـتان سره دښـمني پرېـږدي، اخـر دې خـاورې بچيـان ياسـتئ د کـار اهـل تـه کـار وسـپارئ چـې د تاريخ په پـاڼو مـو نـوم پـه ښـو يـاد شي او هـم د الله جـل جلالـه پـه نـزد مـو غـاړه خلاصـه شي او هـم خپلـې ټـولنې تـه پـه غړېـدلو سترګو مخـامخ شـئ او هـم بـه د خپـل ضـمير دخجالـت نـه خـلاص شـئ، ځکـه ښـه عمـل والا د تـل لپـاره د تـاريخ پـه پـاڼو کـې پـه ښـه نوم يادېږي.

## غزل

*سيد شاه سعود*

*چې پښه مې کېښوه په لړم باندې نو ټک يې راکـــــــــــــــړو*
*لږ احترام د بل پکار دی دا سبق يې راکـړو*

*د قلـم رنګ بانـدې لړلی جېب ګواه دی زما*
*بابا چې مانه مطمېن شو نو ټوپک يې راکـړو*

*د تـاترې کـاڼو ګُـدالې راتـه مـاتې کړلـې*
*اشنا کـه لږ شانته راوکتـل نـو حق يې راکـړو*

*د چـا تراخـه تراخـه يادونـه او ترخـې خـبرې*
*زمـا غزلـې بـې نمکـه وې، نمـک يـې راکـړو*

*بـاور چې نـه وي څـوک بـه څـه چا سره وخـت تېـــــــــــــروي*
*يقـين مـې نـور ورسره نـه منـل چې شـک يـې راکــــــــــــــړو*

# کاشغر_ګوادر تجارتي دهليز او پر سيمه يې اغېزې

نجيب ننګيال

په پاکستان کې د چين لخوا د 46 مليارده ډالرو پانګوني نوي ترونونه د سيمې لپاره نهايي د اهميت وړ دي. پاکستان دا د چين تاريخي پانګونه او د دوستۍ ثبوت بولي. د 51 پروژو څخه له 30 زياتې پروژې به يې په پنجاب ايالت کې ترسره شي. چې تر ډېره د برېښنا د توليد او کوچنيو اوبو بندونو باندې متمرکزه دي. تر ټولو مهمه پروژه يې د کاشغر څخه تر ګوادره د تجارتي لارې جوړېدل دي. د دغې لارې نقشه چې باور کېږي پخوا د خيبر پښتونخوا ايالت څخه تېرېده د پنجاب د ګټو لپاره د نواز شريف په امر يې لاره اوس له خيبر پښتونخوا څخه چپه شوې او په پنجاب تېرېږي. دغه چارې د لارې مساحت هم ډېر کړی او له بل پلوه يې په کور دننه کې د پښتنو قهر را پارولی. دا به وخت مالومه کړي چې دغه مزاحمت څومره دوام کوي. خو تر دې دمه د پښتنو د سياسي مشرانو لخوا د قوي مزاحمت اثار نه ليدل کېږي. په اوږدمهال کې دغه چاره د پښتنو تر منځ د پاکستان پرخلاف کرکه زياتولای شي. په پښتنو ځوانانو کې د محروميت احساس او د ستېټ لخوا ورسره د بې عدالتۍ چلند روحيه له ورايه ښکاري. که دغه لاره له پښتونخوا څخه تېره شي نو نه يواځې دلته مېشتو پښتنو بلکې افغانستان ته يې هم په مجموع کې ګټه ډېره وي. په سيمه کې به سوداګرۍ يوې نوې بڼه غوره کړې وای چې افغانستان به له دغه لارې په ګټه اخيستو د لنډې، چټکې او باسهولته سوداګرۍ برخمن وای. د خلکو په اقتصاد به يې مثبته اغېزه کړې وای چې دا کار په خپله د سيمې ثبات او امنيت ته ګټه رسوي چې تر ډېره افغانستان ورته ضرورت لري. که نهايتا دا لاره په همدې بڼه هم پاته شي نو مثبتې اغېزې به ولري. پاکستان تر ډېره په سوداګرۍ او اقتصاد خپله پاملرنه زياته کړې. دا پخپله د دې ثبوت دی چې دوی هم نور نه غواړي سيمه دې بې ثباته




اوسي ترخو د دوی اوږمهاله ګټې په خطر کې نشي او پرېوتی اقتصاد يې د جګړو له امله نور زيانمن نشي.

د افغانستان لخوا د سوداګرۍ لپاره د نورو لارو چارو لټون پاکستان اندېښمن کړی. د هند، افغانستان اوايران لخو د چا بهار له لارې د سوداګرۍ نوی تړون او همدا راز د منځنۍ اسيا د هېوادونو له لارې د سوداګرۍ تړونونه هغه څه دي چې په پاکستان د افغانستان تکيه کمېږي. د ګوادر-کاشغر نوې تجارتي لارې په جوړېدو سره پاکستان بېرته د افغانستان پاملرنه دې خوا ته اړولای شي او د يوې متحرکې سوداګرۍ نوی باب به پرانېزي. تر ټولو مهمه خبره د چين رول دی. چين ته اړينه ده چې په سيمه کې د اقتصادي موناپلي لپاره دواړه هېوادونه خپل کړي او په امنيت کې يې رغنده رول ولوبوي. که څه هم د افغانستان-چين اړيکې د پاکستان- چين اړيکو په پرتله ريښې نلري خو بيا هم چين به حتما افغانستان کې د همدغسې يوې درنې پانګونې لپاره په راتلونکي کې زړه ښه کړي. دا چاره د چين لپاره حياتي ده. چين له افغانستان نه په ډېرو موادو کې رضا ښکاري. افغانستان او چين يو بل سره د مخلصانه دوستۍ روحيه ورځ په ورځ زياتېدونکې ده. څه موده مخکې د افغانستان د ملي امنيت لخوا 4 چيني مسلمان جنګيالي وسپارل شول چې د چين په داخلي امنيت خرابولو کې يې لاس درلود. دې کار د افغانستان په اړه د چين نظر نور هم ښه کړی. په چين کې د ولسمشر غني وروستي سفر هر کلی يې ساری و چې دا په خپله افغانستان ته د چين د لېوالتيا ثبوت دی. ولسمشر غني په اقتصادي چارو کې په خپلې يې ساري تجربې د دې وړتيا لري چې د چين، هند، پاکستان او ايران په شمول د يوې ريښتينې سيمه ايزې همکارۍ روحيه ژوندۍ کړي. غني تر ډېره په دغه چاره کې اوس هم بريالی ښکاري. له بله پلوه دا دې ښکارندويي هم کوي چې پاکستان او

افغانستان دواړه په سیمه کې د امریکا له رول څخه خوښ نه ښکاري. په سیمه کې د امریکا فعاله رول نه یواځې دا چې ثبات یې را منځته نکړای شو بلکې لا هم د زوال سره مخ شول. د پاکستان او افغانستان دولتونه د امنیت او ضعیف اقتصاد سره مخ دي. دوی ته اړینه ده چې په سلسله واره توګه ځانونه د امریکا له انحصاره وباسي او د یو نوي سیمه ایز بلاک په جوړولو کار وکړي چې ډېره پاملرنه به یې د اقتصاد پر ودې وي. چین د خپلې نوې پانګونې لپاره امنیت ته اړتیا لري. حتما به پاکستان دې ته اړ باسي چې له افغانستان سره په ګډه تندلاریتوب وځپي. قوي احتمال شته چې امریکا او هند به د دغو پروژو د نه عملي کېدو په خاطر له راز راز پټو او ښکاره خنډونو اچولو باندې کار وکړي. د چین ولسمشر وروستي سفر خو په هندي مشرانو کې ښکاره ناخوښي وښودله. د چین، پاکستان او افغانستان درې اړخیزه همکاري د هند او امریکا لپاره ستره ننګونه ده. دا به وخت ثابته کړي چې افغانستان څنګه کولای شي په اړیکو کې داسې انډول وساتي چې د هند او امریکا د ناخوښۍ سبب نشي.

همدا راز په پاکستان کې د چین اوسنۍ پانګونه به پاکستان د دې وړ کړي چې تر 2025 پورې په کامل ډول د برېښنا له کمي څخه خلاص شي. له دې سره به د ترکمنستان څخه د افغانستان له لارې د برېښنا د لېږد پروژه پیکه شي او شاید پاکستان زړه ښه نکړي چې په یوه وخت د برېښنا د ترلاسه کولو لپاره دوه پروژو کې ګډ وي.

## غزل

**حسینه ګل**

ښه په ښکاره مې په دېوال ساتلی
دا یو تصویر مې دی سمبال ساتلی

زه د جانان په ذکر مخ واړوم
ما خپل رقیب په دې جنجال ساتلی

ماته به ستا د لاس سپرلي یادېږي
یو سور ګلاب مې په رومال ساتلی

ستا ریاست کې ګلالی بچی مې
په اقتدار کې دی بد حال ساتلی

زما خو تنده د عمرونو ډېره!!
تا راته څومره لږ وصال ساتلی

# د ستورو کاروان

## غزل

*عرفان الله کوټوال*

همېشه مو خپل تاريخ يکه زار کړی
خو له زار او يه قربان څخه چې تېر شو
مونږ ځ کله خپل گلشن لاله زار کړی
نور لا څځ چې د خپل ځان څخه هم هېر شو
خلک ورځ تر بل روان دي پورته خېژي
مونږ په ځمکه کې يو نيم گز کوز کوشير شو
د غېرت په ټپه نوم مړو له ورکړو
حقيقت کې د قابيل د ورور په څېر شو
آ سړبن، غربنت او بيټ ته اواز وکړئ
چې بچو ته مو دا خپل توري گنډير شو
دا په څه پښتون راپاڅي پښتون وژني
دا مو برخه ده د بيټ په دعا ډېر شو
بس هم هغه وروسته تگ ته غېرت وايي
دا له ځان نه چې لمبو په شان چاپېر شو
ټول کوټواله په بارودو کې ايره شو
د واسکټ او د ماشي په منځ کې گېر شو

## غزل

*عزيز الله عزيز*

ځنکدن تبه زما وه ته رانغلې
ستا راتلو ته مې سودا وه ته رانغلې

تا خو ويل چې تر قيامته به زه ستا يم
تشه ستا د خولې وينا وه ته رانغلې

ستاد ښکلي مخ ديدن مې نصيب نه شو
راته ليک په نصيب دا وه ته رانغلې

لکه گل دغسې پاڼې، پاڼې پروت وم
رانه گېر چاپېر ژړا وه ته رانغلې

څوک پر ما باندې خوشحاله، څوک خفه وو
داسې جوړه انگولا وه ته رانغلې

عزيز وايي دا ښېرې سلگۍ پورې
بس په ژبه مې ليلا وه ته رانغلې

# غزل

*ابو محمد حنفي، کویټ*

ستا یادونه چې رایاد کړم په ژړا شم
لېوني په شان روان مخ په صحرا شم
جدايي دې زه زغملای نه شم یاره
ګوتې شمارم سودایي په شان لګیا شم
چارچاپېره عالمونه راته ښکاري
په دې دومره ډېر عالم کې یک تنها شم
پردیسۍ مې زړګی داسې نری کړی
په وړو، وړو خبرو وارخطا شم
د ځوانۍ عمر مې ټول سفر کې تېر شو
اسویلي مې خولې ته راشي په غوغا شم
یادوه مې کله کله د زړه سره
حنفي به یوه ورځ درنه پناه شم

# غزل

*توربان کسکر*

د دنیا عمر تیرېږي اعتبار نشته
ای بنده ولې په زړه کې دې هار نشته

لکه ستن د سیکنډونو په ټک ټک وي
دغه عمر ستا کمېږي رفتار نشته

تا دولت دی د قارون راجمع کړی
یو قدم د بل نه مخکې بې وار نشته

ای کسکره توربانه په حساب شه
د کتاب دپاره هلته کې پلار نشته

# غزل

*بصیر بیدار ستوری*

بیا مې زړګی په درزېدو شو څه خبره خو شته
وجود مې ټول په رپېدو شو څه خبره خو شته

بیا د جانان کوڅه کې خلک راټول شوي څنګه
چې هر سړی سر په توبو شو څه خبره خو شته

بیا د چا کور وران شوی څوک وسو په سرو لمبو کې
چې شین لوګی په جګېدو شو څه خبره خو شته

مخې ته راغی زړه یې ډک څه یې نه ویلې
شو په راپه غاړه په سلګو کې څه خبره خو شته

پېغلو چې مات کړه خپل بنګړي د خپل مړوند په څلي
هله شوم پوه په پوهېدو چې څه خبره خو شته

خبرې ډېرې دي بېداره ټولې نه شم لیکی
خبره بیا د پرېښودو شوه څه خبره خو شته

# غزل

*ګلرنګ کوچوان*

زړه باندې مې ښې لګي یو څو سندرې ووایه
او کنه فنکاره! په پښتو سندرې ووایه
شړنګ کې د رباب راته رایاد زاړه یادونه کړه
ماته د خپل کلي د حجرو سندرې ووایه
لرې کړه جامونه د شرابو راته مه راوړه
شابه د جانان د شونډو سرو سندرې ووایه
کړم به دې شمله د پښتنو د سر پټکی به شې
ولول به دې نغاړم د شملو سندرې ووایه
ښکلې پښتونخوا ده پښتانه پکې اوسېږي تل
کوچان ته د خیبر د سر درو سندرې ووایه

# ژوندی شمه

*سمیع الله خاکسار*

کلــه بــه دا ســتا پــه زړه کــې ځــای شــمه
وخانـــده جانانـــه چـــې ژونـــدی شـــمه

ټولـــه شـــپه ســـندرو کـــې دې ســـتایمه
کلـــه بـــه دا ســـتا د تـــن زړگـــی شـــمه
وخانـــده جانانـــه چـــې ژونـــدی شـــمه

مینـــه محبـــت بـــه سره پـــالو بیـــا
کلـــه چـــې دا ســـتا د لاس بنگـــړی شـــمه
وخانـــده جانانـــه چـــې ژونـــدی شـــمه

پـام کـوه لـه سر نـه مـې خطـا نـه کـړې
کلـــه چـــې دا ســـتا د سر منگـــی شـــمه
وخانـــده جانانـــه چـــې ژونـــدی شـــمه

ډېربـــه بیـــا ســـمیع خاکســـاره وژاړې
کلـه چـې دې خپـل نشـم، پـردی شـمه
وخانـــده جانانـــه چـــې ژونـــدی شـــمه

# پښتو

*شمس القمر اندیش*

پــه څــه ده مــروره چرتــه تللــې ده پښــتو
دا ولې په دې ښار کې دومره غلې ده پښتو

هم اورو، هم یې وایو، نه یې لولو، نـه یـې لیکـو
مــونږ څــه پــه نااشــنا ډول منلــې ده پښــتو!

# غزل

*شمس الحق*

نـــم د ســـترگو آه د زړه فریـــاد د غـــم نـــه
دی جـاري هـره لحظـه د یـار د غـم نـه
تــش کتــو کــې د اشــنا دومــره اثــر و
چــې ایســتلی گفتگــو یــم د عــالم نــه
د شــاعر بیــان د ذهــن محتویــات دي
پــه لیکلــو گیلــه مــه کــړه د قلــم نــه
د پتنــگ غونــدې چــاپېره تــرې تــاوېږم
لـرې نـه ځـم د اشـنا د ښـکلي چـم نـه
چــې پــرې ولگېــد نظــر زمــا د ســترگو
زړه مــې نــه منــي ل څــوک د هغــه دم نــه
کـه پـه مینـه تـش خنـدا مـې اشـنا وکـړي
ښــه لگېــږي پــه زخمــي زړه د ملهــم نــه
د هجران په اور کې پروت یم پرې سوځېږم
خــلاص بــه نــه شــم د غــماز ظلــم ســتم نــه
کــه د یــار د راتلــو زېــری پــه مــا وشي
شمس به یې زار شي په راتلو د هر قدم نـه

*ارواښاد صاحب شاه صابر*

چـــې زمـــا د پرهرونـــو مېلمانـــه دي
ســتا یادونــه کــه دردونــه دي خــواږه دي
هغــه خلــک د مېنــو رهــبران شــول
چــې د مینــې لــه مســلکه خــبر نــه دي
پـه دې ښـار کـې بـه سـړي سـړي تـه گـورې
ددې ښـــار بـــلا ســـړي، ســـړیخواره دي

## غزل

*حسینه گل*

تـــا خـــو تـــر نـــوې حـــادثې وکتـــو
زمـــا کتـــاب دې تـــر هغـــې وکتـــو
ســتا د ژونــدون قیصــه بلهــا خــوږه وه
پــه یــوه ناســته مــې د شــپې وکتــو
د محبـــت خـــواږه پکـــې نشـــته دی
حـــال مـــې د نـــوې زمـــانې وکتـــو
زمـــا نظـــر د دې جوګـــه کلـــه و
ټـول مـې د خیـال پـه فرښـتې وکتـو
پــه هــر مقــام پکــې موجــوده ومــه
لــه هاغــه ځایــه مــې تــر دې وکتــو
د جانــان کــور کــې پــه قــلاره نــه وي
مـــا زړه چـــاودون د پښـــتنې وکتـــو

✸

*دیدار اپریدی*

مانـــه خـــو د کـــار ســـړی
جـوړ کـړو مـور و پـلار سـړی

حـق یـې ویـل پـه حقـه وو
ځکــه شــو پــه دار ســـړی

دا چـــې بـــدلوي ژبـــه
دغـــه دی د ښـــار ســـړی

## غزل

*عامر خان یاد*

ســـتا نـــه بغیـــر ســـمه ســـوزېدله ورځ
وایـــه پـــه تـــه ځنګـــه تیرېدلـــه ورځ؟
ســتا د وصــل ســتا لوظونــه یــاد مــې وو
مــا هـــم پـــه دې خیـــال رالنډولـــه ورځ
ســـــتړی انتظـــــار د پشـــــکال روژه
نـــن رابانـــدې هســـې لوېدلـــه ورځ
مـونځ مـې پـه دیـدن د یـار قضـا ځکـه
خدایــه مــا بــه ځنــګ راګرځولــه ورځ
سر چـــې دې زمـــا پـــه اوږه ایښـــی وو
یـاد مـې شـوې نـن بیـا مـې یادولـه ورځ

## غزل

*جاوید شینا، تورخم*

زویه بې ځایه او بې پامه ګرځېده ښه نه دي
پلار راته وې پس له ماښامه ګرځېده ښه نه دي
پـه دې حـالاتو کـې تـش لاس او د رقیـب کـلي کـې
زما او ستا یوځای ګل فامه ګرځېده ښه نه دي
د بل مذهب نه خپل اسلام ته رابلل ښه کار دی
خو د خپل دین او د اسلامه ګرځېده ښه نه دي
مورې سلام! مورې دعا راته کړه ښار ته ځمه
ستا بې دعا بې له سلامه ګرځېده ښه نه دي
شینا لـږ وار کـوه کـه لار د پېښـور خلاصـه شي
بېرته کابل ته له تورخامه ګرځېده ښه نه دي

لیکـوال: نواز وټو
ژباړن: زاهد افغان

# محبت زنده باد

لنډه کیسه

دا هغــه زمانــه وه، چــې قاصــد (ډاګــې) بــه زمـونږ پـه ټـولنې کـې ډېـر د قـدر وړ و، خلکـو بـه د قاصــد د راتلــوو ډېــر انتظــار کولــو، چــې د خپلوانـو خطونـه بـه يـې ورتـه راوړل. د خطونـو هـم خپـــل اهميـــت او اغېـــز وي، د انټرنېـــټ او د مبـايلونو پـه دې مشـيني دوره کـې هـم د خطونـو پخوانی شان برقراره دی.

ځکـه چـې کـوم خلـوص مـونږ تـه پـه خطونـو کـې ترلاسـه کېـږي او يـا څـومره د مينـې اظهـار، چې د خطونـو پـه واسطه کېـږي، څـومره اطمينـان چې د يـو چـا د خـط پـه لیـدو کـې وي، نـو دهغـې زړه هـومره اطمینـان هـم د تليفـون او نيـټ دلارې نـه محسوسـېږي د هغـه مـانې پـه فلمونـو کـې بـۀ هـم د قاصـد بـابو يـو خپـل شـان و، چـې کلـه بـه کلـي تـه راداخـل شـو، نـو پـه ټـول کلـي کـې بـه يـوه غوغـا جـوړه شـوه او دا لنـډۍ بـه هـم شـايد هغـه وخت کې چا ويلې وي:

جانان مې لاړو مسافر شو
په ډاکخانه کې يې اوس خطونه لټومه

لنـډه دا، چـې دا کیســه هغــه د هغـه ښايســته ورځـو ده، زه پـه هغـه وخت کې پـه يـو کلـي کـې د اورګاډي په سټيش کې مامور وم.

پــه هغــه کــوچني سټيشــن کــې بــه صــرف دوه اورګـاډي ودرېـدل يـو بـه سـهار لـس بجـې بـل بـه ماښـام شـپږ بجـې راتلـو، خـو زه بـه ټولـه ورځ پـه سټيشــن کــې وم، هلتــه بـه د مسـافرو تعـداد ډېـر کم و، پـه ټولـه اډه کـې صرف يـو د چـايو دوکـان و او صرف دوه مزدوران بۀ وو.

خــواران بــه ټولــه ورځ هلتــه ګرځېــدل او د مسـافرو انتظـار بـه يـې کـاوه، پـه عامـه توګـه بـه هغــو تلــونکي او را تلــونکي مســافر پېژنــدل، ځکــه چــې د همغــه ســيمې اوســېدونکي وو، مسـافر بـه لـرې پرتـو ښـارونو تـه دمـزدورۍ لپـاره تلـل لـس پـنځلس ورځـې پـس بـه د يـوې شـپې پـه رخصـتۍ راتلـل دهغـه سـيمې د خلکـو ژونـد ډېـر ښه او پرسکونه و.

هلتــه تـر دې دمـه داسـې کومـه غټـه پېښـه نـه وه تېـره شـوې، چـې مـونږ يـې پـه ذهنـې توګـه پرېشانه کړي وای.

پــه هغــه ســيمه کــې صـرف يـوه (ډاکخانـه) د ليکونــو پوســته وه او يــو قاصــد بــابو پکــې و، چې د هغـه نـوم اصـغر و، دنـده يـې دومـره ډېـره نـه وه، يــــواځينی (ډاکخانـــــه) پوســـته وه، چــــې د سټېشــن سـره خـوا کـې جـوړه شـوې وه، ځکـه بـه

اکثره اصغر د ګپ شپ لپاره زما خوا ته راته زه هلته يواځې اوسېدم او د اورګاډي د سټېشن سره نږدې مې کور و. زما عمر د (۳۰) کلونو شاه او خوا و، خو تر دې دمه مې واده نه و شوی، ځکه به زياتره وخت ما په سټېشن کې تېرولو. په سيمه کې به ډېر کم ګرځېدم، اصغر صيب به روزانه راته او د خپلې سيمې کيسې به يې راته کولې، نن دا وشول پرون دا شوي وو، ما به ددې خبرونو په اورېدو سره ځان دهغې سيمې استوګن تصور کولو.

رښتيا هم څوک چې چېرته اوسېږي، نو په خوي به د هغوی اوسي، يوه ورځ اصغر راته وويل: نوازه! وروره زه د صغرا له خوا ډېر پرېشانه يم.

ما ورته وويل: کومه صغرا؟

اصغر وويل: دا ډېر بدنصيبه صغرا ښځه ده روزانه د يو چا د خط انتظار کوي، خو شايد هغه خط به ورته کله هم رانه شي.

ما ورته وويل: د چا خط؟

اصغر وويل: د هېچا هم نه!

ما ورته وويل څه مطلب زه پوه نه شوم؟

اصغر د يو سوړ اسوېلي سره وويل: نوازه وروره! دا يوه عجيبه کيسه ده، ددې کيسې د تکرارولو لپاره بهٔ کم څه کم څلوېښت کاله شاه ته تلل غواړي، څه وخت چې صغرا پېغلتوب ته رسېدلې وه، ډېره ښايسته وه شايد چې په ټولې سيمې کې به د هغې غوندې ښايسته بله کومه انجلۍ نه وه، داسې وګڼه چې ددې سيمې سپوږمۍ وه. ماته يې د پېغلتوب ورځې ډېرې ښه په ياد دي.

ما اصغر وچېړلو ورته مې وويل: آيا ته خو بهٔ د هغې په عشق کې ګرفتار نه وې، اصغر وويل: هو! نوازه وروره د هغې په ليدو د هر چا اسوېلي کول لکه د يوې شوخې هوسۍ غوندې به په ټوله سيمه کې ګرځېده.

د پلار يې په کلي کې دوکان و، هسې خو په هغه زمانه کې برکت ډېر زيات و خلکو په آرام او سکون سره خپله ګوزاره کوله، صغرا يوه خور او دوه ورونه هم وو، خو د ټولو ښکلا هغې وړې وه.

ما بيا اصغر وچېړلو، ورته مې ويل: ورور! مخکې نور څه هم وايه که تش به د هغې د حسن ستاينه کوې.

اصغر وويل: نوازه وروره! په رښتيا د ستاينې لايقه وه، نه پوهېږم چې څومره ځوانان د هغې لپاره ځان قربانولو ته تيار وو، خو هغې به په لمنې ته شرق ورکولو او تله به په چا يې هم پرواه نه لرله، د مور او پلار يې دا خواهش و چې واده يې وکړي، خو صغرا به د واده د نوم سره لمبه شوه.

ما اصغر ته وويل: هغه څنګه؟

اصغر زياته کړه هغې به خپل پلار ته ويل دادا ته ددې نه غير ما لپاره نور څه کولی شې، خو بس د سيمې يو کس بهٔ د لاسه راونيسي او زما واده بهٔ ورسره وکړي.

پلار به ورته ويل، نو تاته د آسمان نه څوک راکوزېږي؟

صغرا به ويل هو وبه ګورې، چې يو شهزاده به راځي او ما بهٔ له ځانه سره وړي، ځکه چې زه د ټولو نه بېله او ځانګړې يمه، او بيا دادا ته خو خپله ماته هر وخت وايې چې ستا په شان ښايسته انجلۍ په دې سيمه کې نشته؟

پلار به ورته ویل ته لېونۍ شوی یې دا څنګه خبرې کوې. صغرا به ویل: چې هر څه وي خو زه به واده په خپله خوښه کوم او تر اوسه پورې ما څوک نه دي خوښ کړي.

څرنګه چې صغرا په ټول کور کې نازولې وه، نو ورسره لږه خودسره شوې هم وه، د هغې سترګو به صرف د خپلو خوبونو شهزاده لټولو خو هغه خیالي شهزاده ورته تر اوسه پورې نه و پیدا شوی.

اصغر وویل: د صغرا کور زمونږ په مالت کې و، په کوڅه کې به مو اکثره یو بل سره لیده کاته کېده او چې رښتیا درته ووایم، نو زما ډېره زیاته خوښېده.

ما د هغې د خپلولو خوبونه لیدل، کله مې هم د هغې په مخکې د څه ویلو جرئت نه و کړی، ځکه چې ډېره شوخه او مغروره وه، هغې داسې هم راته ویلی شول ورک شه په آیینه کې خپل مخ وګوره له دې ډاره ما څه ورته نه شو ویلی.

خو له ما سره به یې خبرې کولې زما حیثیت ورته د یو دوست غوندې و که هر څه هم و ما سره به یې د زړه خبرې شریکولې، ما به ورته نصیحتونه کول چې دا د خوب او خیال غلط عادت پرېږده، داسې کوم خیالي شهزاده ستا لپاره راتلونکی نه دی.

هغې به زما په خبره وخندل کله کله به رانه خپه هم شوه، لنډه دا چې د خور او دوارو ورونو، ودونه یې هم وشول خو بیا هم صغرا واده ونه کړ، بې شماره مرکې پرې وشوې خو په انکار سره به واپس شولې.

یو ځل هغه سیمې ته د یو فلم جوړونکي کمپنۍ راغلې وه، دا یوه ډېره مشهوره فلم سازه کمپنۍ وه ډېر زیات خلک پکې راغلي وو، په هغو کسانو کې د ساجن په نوم یو فلمي اداکار هم و ډېر ښکلی چست او صحت مند ځوان و، دغه فلمي لوبغاړو هلته خپل کیمپ لګولی و، د پنځلس شلو ورځو د شوټینګ پروګرام یې و، د کلیوالو لپاره دا یوه نوې خبره او تماشه وه، چې ورسره په ټوله سیمه کې ګڼه ګوڼه تر سترګو کېده، لکه څنګه چې د یو جشن منظر وي، د کلیوالو ځوانانو ډلې ډلې به د فلم جوړونکي کمپنۍ لیدو ته تلل راتلل، ددې لپاره چې د یو چا نظر پرې ولګېږي او د هغو قسمت هم بدل شي.

په هغه زمانه کې فلمي هنر ته خلکو ځکه په حیرانتیا سره کتل چې ګوندې دا د کومې بلې دنیا نه راغلي خلک دي.

ډېر ځوانان خو دځینو فلمي انجو په غیبانه عشق کې هم ګرفتار شوي وو، داسې ځینې کلیوالي انجونې هم د فلمي ستورو په خیالي مینه کې راګیرې شوې وې، ساجن هم د هغه وخت یو وتلی فلمي ستوری و، نو ځکه د هغه ډېر مینه وال وو، کم بخته صغرا هم د ساجن په عشق کې له ځانه ورکه وه، شپه او ورځ به یې د هغه خوبونه لیدل. شاید چې همدا ساجن یې د خپلو خوبونو شهزاده ګڼلی و، یو ځل په سیمه کې دواړه مخامخ شوي وو، د یو بل په لیدو له ځانه بې سده شوي هم وو، دغه یو څرک لیدل د صغرا لپاره ځکه د خوښۍ ورځ وو چې ساجن د هغې د خوبونو شهزاده و.

خدای خبر، چې د څومره وخت نه یې د هغه مینه زړه کې په ټوپونو وه، ساجن هم د صغرا

په لیدو حیرانه شوي وه، دغه د یوې شېبې کاته صغرا ته د ټول ژوند ددرد جوړ شو او تر اوسه د ساجن په انتظار کې ناسته ده.

ما د اصغر نه وپوښتل، آیا ساجن دهغې سره کومه وعده کړې وه؟ اصغر وویل: نه داسې کومه خبره نه وه.

ما ورته وویل: نو بیا څه شوي و د صغرا سره؟

اصغر وویل: نوازه! وروره همدا خو ددې کیسې دردونکی اړخ ددی، چې پکې صغرا لیونۍ شوه؟ خو د هغې په لېونتوب کې د کلېوالو ځوانان لاس و، چاته چې صغرا کله هم اهمیت نه ورکولو چا چې صغرا خپلول غوښته، ما اصغر ته وویل: دا خو راته ووایه چې صغرا نه یې څنګه لېونۍ جوړه کړه؟ اصغر وویل: هغه داسې چې د ساجن په نوم به یې ورته خطونه لېږل. ما د اصغر په خبره یو ټکان وخوړ ویل مې اف جعلي خطونه.... اصغر وویل: هو! نوازه وروره هغې خوارکۍ ته به یې په خطونو کېږې لیکل چې کومه ورځ ته ما لیدلې یې زما په زړه کې لمبې بلې دي، ماته ستا نوم هم معلوم دی، ته زما د خوبونو شهزادګۍ یې، ته که باور کوې او که نه خو دا حقیقت دی، چې زه ستا په عشق ستې او ګرفتار یم او یوه ورځ به درپسې راځم او ستا رشته بۀ غواړم، بس ته صرف زما انتظار کوه.

ما د اصغر په دې خبره د خپګانن سره وویل، اف خدایه!! دومره غتېه دوکه ؟ اصغر وویل: هو نوازه! وروره د صغرا خوارکۍ سره همداسې شوي، هغې به په ټول کلي کې خپلو همزولو انجونو ته د ساجن خطونه ګرځول کورنۍ غړي یې په پوهولو ستړي شول خو هغې به ویل ساجن دروغ نه شي ویلی، هغه بۀ خامخا ما پسې راځي او له ځانه سره به مې وړي، صغرا به ویل د ساجن نه بغیر بۀ د بل چا ناوې جوړه نه شي، په خپلو خیالونو او یادونو کې یې صرف ساجن ساتلی و، هغې لېونۍ داسې طوفاني مینه کوله چې مثال یې نه درلوده، د هغې د لېونۍ مینې د انتهاء په لیدو جعلي خط لیکونکي هم پښېمانه شوي وو.

او بخښنه یې هم تړې وغوښته اوو رته یې وویل دا یوه ټوکه وه او بس خو صغرا ګونګۍ د هېچا په خبرو باور نه کولو.

خدای خبر، چې په هغې څه شوي وو صرف د ساجن ساجن خبرې به یې کولې. ما اصغر ته وویل: نو په دې انتظار کې خوارکۍ زړښت او لېونتوب ته ورسېده؟ اصغر په ډکو سترګو سره وویل: هو نوازه! وروره همداسې وشول د هغې د سر وېښتان سپین شول نه پوهېږم، چې څومره کلونه تېر شول څرګنده خبره ده، چې د هغې ساجن چېرته راته او تر ننه پورې نه دی راغلی، خو صغرا ورته اوس هم په انتظار د کلي په کوڅو کې ګرځي، تا به داسې عشقي داستان چېرې نه وي اورېدلی.

ما اصغر ته سوړ اسوېلي سره وویل: خو ما داسې د ظلم داستان هم نه دی اورېدلی، د صغرا سره ډېر بد د شوي دي، خلکو ته لږ فکر پکار و، چې هغې معصومې سره یې داسې ناوړه او سنګین مذاق نه وي کړی.

اصغر وویل: دا پلان صرف د یو سړي و او هغه دومره شرمنده دی، چې خوبونه یې خرام شوي دي.

هغه ته په ښار کې ښه نوکري پیدا کېدده، خو صرف د صغرا د وجهې نه پاتې شو چې د خپلو سترګو لاندې یې ګوري.

ما اصغر ته وویل څوک دی هغه سړی؟ اصغر سر ځوړند کړ ویل یې هغه... هغه... ستا په وړاندې ناست دی، نوازه وروره.....؟

ما د یو ټکان په خوړلو سره وویل: څه.... اصغره ته....؟

هغه وویل: هو! نوازه وروره د صغرا ګنهګار زه یم. ما ورته په غمجنه لهجه وویل: ما سوچ هم نه شو کولی چې ستا په شان انسان هم داسې بې رحمه کېدلی شي. اصغر وویل: نوازه وروره! صرف صغرا په دې درد نه ده اخته زه هم ددې عزاب نه تېرېږم، زما هم یوه شېبه سکون په نصیب کې نشته؟ او ددې ثبوت دا دی، چې ما تر اوسه واده نه دی کړی، تنها ژوند تېروم.

لومړی راته د واده خیال راغلی و، خو د شرمندګۍ احساس راته وشو، دزړه نه مې یو غږ راپورته شو چې یو څوک دې برباده کړه اوس خپل کور څنګه ابادوې؟ بس په همدې فکر کې پاتې شوم، دغسې په ما هم څلوېښت کلونه تېر شول، صغرا په لېونتوب کې تیندکونه خوري زه په خودۍ سره ډغرې خورم.

ما اصغر ته وویل: که ددې کیسې په بیانولو کې ته ما ته دروغجن او بې حسه معلوم شوی وای نو ما بۀ کله هم له تا سره خبرې نه وای کړی، خو ته خپله ددې درد نه تېرېږې، تاته د خپلې غلطۍ دومره احساس شوی چې تر اوسه پورې دې خپل کور نه دی اباد کړی او جره ګرځې، زه تاته هېڅ هم نه وایم خو اوس دا راته ووایه چې ته بۀ کله لاړې شې او دصغرا نه به ددې ګناه بخښنه وغواړې.

اصغر وویل: والله که پوهېږم چې څنګه بخښنه ترې وغواړم، هغه په خودۍ کې نه ده؟ ما اصغر ته وویل: زما په ذهن کې یوه طریقه شته، ته د هغې خوارکۍ لپاره ساجن جوړ شه؟ اصغر وویل څنګه ساجن جوړ شم زه پوه نه شوم.

ما اصغر ته وویل: ته لاړ شه او هغې ته ووایه چې همدا زه ستا ساجن یم د چا چې ته انتظار کوې اوس زه ستا خوا ته راغلم تا ډېر انتظار وکړو، خو ماته اوس موقع په لاس راغله.

اصغر وویل: په دې به څه وشي نوازه! وروره؟

ما ورته وویل: کېدای شي، چې هغې خوارکۍ ته لږ قرار په نصیب شي، او بله خبره داده چې ډېر وخت تېر دی هغې ته به چېرته د ساجن شکل و صورت په یاد وي، ځکه چې ته وایې ډېره موده وتلې ده، ته ورته ووایه چې د وخت په تېرېدو سره د انسان خط و حال بدلېږي.

اصغر وویل: خو مونږ دواړه د یو کلي یو کنه....؟

ما ورته وویل: دا خو سمه ده، خو صغرا چې ذهني حالت ګډوډ شوی څومره وخت کېږي؟

اصغر وویل: لس کاله به کېږي، چې خوارکۍ په خود نه ده! ما ورته وویل: بیا خو سمه ده ته همدا اوس نه تصمیم ونیسه، د هغې خوا ته لاړ شه او که ممکن وه نو د کلي یو څو

سپین ږیري هم د خپلې ګواهۍ لپاره له ځان سره یو سه، چې هغې ته دا یقین ورکړي چې هم ته ساجن یې.

اصغر وویل: سمه ده زما خبرې د هغه په ذهن کې راغلې ویل یې زه به همداسې وکړم تا ماته یوه نوې لاره وښودله، کېدای شي چې دغه شان دواړه بې قراره زړونو ته قرار راشي، ما ورته وویل بس نو فوراً لاړ شه د هغې خوارکۍ خوا ته وایې چې خوک درد ورکړي همغه دوا ورکولی شي، هم ته ورته دوا ورکولی شې هم ته دهغې مسیحا یې د اصغر په سترګو کې دا شېبه اوښکې ځلېدلې.

نه پوهېږم، چې د څومره خوبونو د جذیرو د سفر نه راستون شوی و او کېدای شي، چې هغه (ډاګ بابو) قاصد هم له همدې لپاره جوړ شوی و، چې د صغر آزارولو او دردولو ازاله پوره کړي خو د قدرت په مصلحتونو څوک پوهېږي.

دوه ورځې زما د اصغر سره لیدل ونه شو، شاید هغه به دخپلو ګناهونو په پاکولو کې لګیا و خو ما ډېر په بې صبرۍ سره د هغه راتلو انتظار کولو، د اصغر واپسي دوه ورځې وروسته وشوه، په مخ یې د اطمینان او سکون عکس موجود وو، په ډېرې خوښۍ سره یې وویل: نوازه! وروره زه هغې ته په یقین ورکولو کې بریالی شوم، چې زه ساجن یم او کلېوالو هم راسره ډېره ملګرتیا وکړه، ما ورته وویل: دا خو ډېر ښه کار وشو اصغر وروره!

بیا مې په تلوسې سره ترې پوښتنه وکړه، دهغې خوارکۍ څه غبرګون و؟

اصغر وویل: بس څه به ئډرته وایم، هغې صرف ژړل زما لاس یې نیولی و او په مخ یې د اوښکو باران ورېدو.

د هغه منظر به څه درته وایم هلته شاه او خوا ولاړ خلک هم د هغې د حالت په لیدو بې ژړا پاتې نه شول.

ما اصغر ته وویل: تا ډېره غټه نیکي وکړه!

اصغر وویل: ستا په دعا سره زه یوه بله نیکي هم کول غواړم، زه د هغې سره واده کوم.

ما د اصغر لاس ښکل کړ ورته مې وویل الله جل جلاله دې تا خوشحاله او آباد لري دا خو دې ډېر ښه زېری راباندې وکړ.

اصغر وویل: په دې واده کې ټول کلېوال راسره مرسته کوي، خلک خوشحاله دي او په خپلې خوښې سره زما د واده په جوړولو کې راسره چاپېره دي.

ربښتیا هم اصغر ډېر زیات خوشحاله و خدای جل جلاله هغه ته د خپلې ګناه او غلطۍ د کفارې موقع په لاس ورکړې وه او هغه دبې موقع نه پورته ګټه پورته کوله.

اصغر ماته وویل: بلې جمعې ته زما واده دی او ته به پکې خامخا راسره شرکت کوې. ما ورته وویل ولې نه اصغره! وروره! دا ته څه وایې زه خو به د ټولو نه مخکې مخکې درسره یم، خو دا راته ووایه چې ستا کوم ډول خدمت کولی شم؟ اصغر وویل: بس د یو شي ضرورت هم نشته، صرف ستا ملګرتیا چې راسره وي ځکه ماته ددې نیکۍ توفیق ستا له وجهې ترلاسه شوی دی

ما ورته وویل: نه اصغره وروره! ددې ښایسته نیکۍ جذبه ستا دننه موجوده وه، ما خو صرف ورته لږه د بیدارۍ هوا ورکړه.

زه اوس لا ږ شه الله جل جلاله دې تا همېشه خوشحاله او آباد لري، په دغه ورځو کې اصغر ډېر خوشحاله و ماته به راته او دوواده د انتظاماتو په اړه به ئې ېې خبر راکولو دا معلومات به ئې هم را سره شریکولو، چې کلبوال څنګه څنګه ورسره په دې خیري کار کې ملګرتیا کوي، خو د قسمت کارونه ګوره چې د هغه د خوښۍ او نیکۍ دا جمعه کله هم رانغله هغه دا چې صغرا مړه شوه.

ماته دا خبر په سټیشن کې وشو خپله دنده مې نورو مامورینو ته پرېښوده او جنازې ته لاړم په ټوله سیمه کې ددغه دردونکي مرګ غوغا وه.

هر سړي د صغرا په مرګ افسوس کولو او دغم ځپلي اصغر حالت خو د لیدو وړ و ماته راغاړې وتو او په چغو چغاو یې ژړل، په سلګو کېږي يې ویل دا څه وشول نوازه وروره! صغرا ولې مړه شوه؟

ما ورته وویل: هغې خپل منزل مقصود موندلی و؟ اصغر وویل: کوم منزل؟

ما ورته وویل ساجن د لیدو او خپلولو منزل، همدغه خو د هغې بدنصیبي د ژوند د حاصلولو سرمایه وه او ددې خوښۍ نه وړاندې بله کومه خوښي نه وه.

هغې ټول عمر د ساجن انتظار کړی و، او چې کله ستا په صورت کې ورته ساجن ملاو شو نو په سکون سره یې خپلې سترګې پټې کړې، هغې خوارکۍ د خپل ژوند مقصد ترلاسه کړی و او د یو ناکامه ژوند تیرولو سره کامیابه مړه شوه.

د داسې خلکو لپاره د جنت دروازې همېشه خلاصې وي ته دهغې په مرګ افسوس مه کوه صرف د مغفرت دعا ورته کوه.

د صغرا په جنازې کې شاید چې دټولې سیمې خلک به موجود وو، داسې جنازه په هغه سیمه کې بل چا په نصیب شوې نه وه.

اصغر خپل ځان په ډېر مشکل سره قابو کړی و، ددې غمجنې پېښې نه پس اتفاقاً زما بدلي بل ځای ته وشوه او د هغې سیمې څخه بل خوا لاړم.

خو د تلو په وخت کې د اصغر سره ضرور ملاو شوی وم اوس هغه خوار مسلسل د غمونو او خپګانونو په زلزل کې راګېر شوی و د هغه د شونډو مسکا او سرخي الوتې وه.

زما خیال دی، چې په د صغرا په څېر به د اصغر مړینه هم شاید په خیر سرته رسېدلې وي.

خو زه د هغه سیمې نه ډېر لرې یم نور ماته د اصغر او د هغه ځای په اړه معلومات نشته؟ نه پوهېږم، چې اوس به د اصغر څه حال وي مړ به وي که ژوندی؟

که هغه په دې ارماني دنیا کې نه وي نو خدای جل جلاله ددې ورته مغفرت په نصیب کړي او که ژوندی وي نو خدای جل جلاله دې د زړه سکون ورکړي.

د خپلو غلطیو اصلاح کوونکي ډېر کم وي او دا ډېره ستر خلک وي خو د نن سبا د انټرنیټ او مبایلونو په مشیني دوره کې په انساني خوښیو کله توجو کېږي.

# دا ځل دې خاطر

**لیکوال: حکیم الدین**

د اوړي داسې ورځې شپې وې ، چې هغه د چا خبره خلک په کې سم پخېدل، اکرم کاکا چې د یو یولس کسیز کور مشر. و او د ټول کور خوراک څښاک بار دده په اوږو و، په اولادونو کې یې مشر بیا زوی و، چې عمر یې په درویشتو کلونو پښه اړوله، د پردۍ مزدورۍ یې ځواني وخوړه، د ملا درد ورته پیدا شوی، په پوندو کې یې هم لاړې جوړ شوې وې او ورځ تر منځ بهٔ یې په نکریزو سرې کولې، د خپل پوله پټي د سمبالښت سره سره بیا هم په کراره نه کښېناسته، د سهار له لمانځه وروسته به چې کله رڼایي ولګېد، نو خپل زاړه کالي بهٔ یې شاته څادر ته واچول او چا چې به یو ورځ وړاندې ده ته د مزدورۍ ویلي و د هغو کره به ولاړ، په دغه ګرمو ورځو، شپو کې هم اکرم کاکا دپردۍ مزدور و، د بر کلي له زرین حاجي سره چې تازه د پاکستان نه کلي ته راغلی و او غوښتل یې چې خپل پلررنی پټی په یوه کلاء کې راګیر کړي، مزدوري کوله.

سهار به چې بر کلي ته ولاړ نو تر ماسپښین دوه بجو پورې به یې پسخه دریمې ردې ته ارتوله او چې کله به له هغه ځایه وزګار شو، نو مخ په کوز باغ به ورسم شو او تر مازیګر ناوخته پورې به له خپل پوله پټي نه تاوېده. کله چې به لمر د کلي نه د غرونو څوکو ته پورته شو، خپل غوا او خسي. بهٔ یې له وندر ایله کړ او د کور په لور به راسم شو، یو مازیګر ناوخته یې دخپل ګاونډي سره د پولې سر له یو ساعت جرګې وروسته خبره غوټه کړه، چې که د خدای خوښهٔ وه، دواړه به سبا ته چې د جمعې ورځ ه او کار هم نشته له امیر موټروان سره ښار ته ځي، تر څو د لوی اختر لپاره د عوامو په اصطلاح څه سونډ سپیرکی واخلي.

اکرم کاکا خپل شوقي تبرګی په اوږه کړ او او دمال پسې وروسته د کور په لور را روان شو، د ماښام آذان ته بهٔ لا لس دقیقې پاتې نه وې، چې اکرم کاکا له خپل مال سره د کور په انګړ راننوت، د مال له تړلو وروسته یې خپلې میرمنې ته وویل: چې ژر د اودس لپاره اوبهٔ راکړه، د ماښام جمعې ته جومات ته ځان

رسوم، میرمنې چې خپل خاوند ستړی ستومانه ولید، زړه یې پرې درد وکړ او ورته یې وویل: چې ای سړیه! اوبه به درکړم خو وخت ناوخته دی ته هم ستړی یې او د خوځېدو نه یې په کور کې لمونځ وکړه خدای به یې قبول کړي، اکرم کاکا د خپلې میرمنې خبره واوریده، خو عمل یې ورباندې ونه کړ، د اوداسه نه په خلاصېدو سمدلاسه د جومات په لور رهي شو، ماښام یې هم په جمعې سره لمونځ اداء کړ او چې کله کور ته راغی نو د سردار مور ته یې وویل: چې له ډوډۍ سره یو ځای د تریخ چای بندوبست هم وکړي، اکرم کاکا له چای او ډوډۍ وروسته لمانځه ته پورته شو او د ماسخوتن لمونځ یې وکړ، بیا یې د سردار مور ته وویل: چې بستره راته جوړه کړه او سهار که خدای له ډډې خیر و وختي مې پاڅوه،، چې لمونځ جومات ته ورسوم او چې راځم تا باید چای تیار کړی وي، ځکه له ګاونډي سره مې وعده کړې دواړه ښار ته ځو چې د کور لپاره د اختر سودا وکړو، په دې سره اکرم کاکا کټ ته پورته شو، او چې په کومه ډډهٔ ولوید د ډېرې ستړیا په سبب تر سهار په هماغه ډډه پروت و، د سردار مور چې سهار د شیروار په خاطر له ملا بانګ هم نیم ساعت مخکې پاڅېده د خپل خاوند پښه یې وخوځوله او ورته ویې ویل، چې اوبه مې درته د اودس لپاره ایښي دي.

اکرم کاکا د خوب نه راویښ شو او د اودس څخه وروسته جومات ته لاړ، له لمانځه وروسته یې د خپل ګاونډي سره وکتل او دواړو پریکړه وکړه، چې څنګه مو چای د خولې کړ د ټکه بهٔ سرک ته راوځو چې په وخت ښار ته ولاړ شو او په دې سره دواړه د کور په لور روان شول، اکرم کاکا چې کله د کور په وره راننوت، نو ویې لیدل، چې میرمنې یې چای دده په انتظار د نغري مخې ته ګرم ایښی دی، د سردار مور اکرم کاکا ته چای کېښوده او اکرم کاکا هم چای په خوړلو لاس پورې کړ، ټولې دوه مړۍ بهٔ یې کړې نه وې، چې د سردار په مور یې غږ وکړ، هغه څو روپاټې راوړه چې بالا متر پرې واخلو، دلته نو د سردار مور هم هک پک ودریده او د سردار پلار ته یې په ژړغوني غږ وویل: (ما سره خو نوره ټنګه هم نشته، هغه اووه که اته زره کلداري چې د زرین حاجي دمزدورۍ له درک نه تا ماته راکړې وې، هغه خو اکرمي ځوانیمرګ له ما نه په زوره واخیستې، چې موبایل پرې اخلم، هغه اوس هغه شي په څپلکي قدر موبایل ورکړي دي، په دې لوفر باندې سړی څه وکړي؟ سهار مې ورته د لمانځه وویل: یو غړم یې راباندې وکړ، او راته یې ووي: دا ځل دې خاطر که بیا دې غږ وکړ سر درته ښریېم، یره سړی که رښتیا درته ووایم ستا هم مزه نشته، بېګاه په دې خرابو شرایطو کې د شپې لس بجې کور ته راغلی دی، اکرم کاکا چې زوی نور پوزې ته راوستی و، د ولا هوله ولا قوت په ویلو یې خپله غوصه سړه کړه، او نیمه ګېډهٔ د دسترخوان له سر څخه سپک اوچت شو.

**آ پخوانۍ مینه دې نشته**
**لګه د زړو ګونګرو شور به دې کاوونه**

لارې چارې

# د تذکره لیکنې

سيد عبيدالله نادر

په پښتو ژبه کې تذکرې لیکل شوي او لیکل کېږي خو یوه تذکره لیکونکي ته د تذکره لیکنې پر مهال کومو ټکو ته پام کول پکار دي؟

یوه تذکره لیکونکي ته ښايي، چې د تذکرې د لیکلو اصول او قوانین ورته څرګند وي او د تذکره لیکنو د فن په رڼا کې خپله تذکره ولیکي.

بله دا، چې د شاعرانو یا لیکوالانو په هکله یې معلومات ډېر وي، یعنې د تذکره لیکونکي سره باید د فنکار شاعر او لیکوال د فن او شخصي ژوند په هکله پټې خبرې او په زړه پورې معلومات موجود وي.

دا کار دد تذکره لیکونکي د تذکرې قدر نور هم زیاتوي او که شاعر داسې اشعار، ادبي ټوټې او نور اثار ورسره وي، چې د چا لاس ته نه وي ورغلي، نو د ذوق د خاوندانو لپاره به دا ډېر زړه راښکونکي موضوعات وي.

هر څوک به د خپلې خوښې شاعر او لیکوال په دې تذکره کې لټوي، د تذکره لیکونکي تبصره او ځاني نظر به په کې ګوري او د تذکره، لیکونکي قضاوت به دده د شعر یا لیکنې په هکله لولي.

که تذکره لیکونکی داسې ادبي پار چې شعرونه، نکلونه او منظومې پیدا کړي، چې د شاعر یا لیکوال د دوستانو سره وي، په تېره بیا هغه چې چاپ شوې نه وي، دا کار د تذکرې ارزښت ډېر لوړوي، که معلومات د شاعر، مخور او لیکوال په هکله هر اړخیز وي، دا به ډېره ښه وي، که چېرې تذکره لیکونکی دا معلومات نه لري، نو باید چې ترلاسه یې کړي، تذکره ښايي په ډېره بیړه ونه لیکل شي، ځکه چې په بیړه لیکلو کې تذکره لیکونکی له ډېرو نیمګړتیاوو سره مخ کېدای شي.

که تذکره په اوږده موده کې ولیکل شي، نو لیکونکي ته به دا وخت ترلاسه شي، چې د ادبیاتو په هکله په سړه سینه هر اړخیزه معلومات ترلاسه کړي، یعنې د شاعرانو، لیکوالانو او ادیبانو د کوچنېوالي څخه نیولې تر، اوسني حالته یې داسې په زړه

پــوري معلومــات راغونــډ کــړي، چــې د ذوق خاونـــدانو تـــه قـــدر وړ وي او ليکـــوونکی د نيوکو تر ګذارونو لاندې رانشي.

دا د هــر انســان خاصــه ده چــې د شــاعرانو، ليکوالانــو او نــورو مخــورو لــه ژونــد ليــک ښخــه ډيــر خونــد اخلــي، د دوی د کارنــامو لوســتل او د دوی پــه ژونــد بانــدې د تــذکره ليکــونکي تبصــرې او قضــاوتونه لوســتوکو تــه خونــد ورکــوي او د لوســتلو لــه املــه يــې پــه خلکــو کــې اخلاقــي، ښــوونيز، اصــلاحي، فلسفي او انساني احساس پيدا کيږي.

تــذکره بايــد داســې پــه زړه پــورې وليکــل شي، چې د روښـانتيا د اړخ تـر څنـګ د علم او معرفـت د هڅـوني اړخونـه هـم پـه کـې وي. د شــعرونو او مطــالبو پــه ټاکنــه کــې بايــد هغــه شــعرونه او ټــوټې غــوره شــي، چــې د ټــولنې لپــاره ضــروري وي او د ځوانــانو لپــاره يــوه سالمه روحيه ورکولی شي.

پــه دې کــې د شــک ځــای نشــته، چــې ډيــر شاعران او ليکوالان پـه بېلـو بېلـو اړخونـو کـې پــه زړه پــورې مطالــب لــري، نــو تــذکره ليکــونکي بايـد د شـاعر د شـعرونو د نمونـو پـه تـرخ کـې داسـې نمـونې وټـاکي، چـې ټـولنې تـه ښـوونيز، روزنيـز، اصـلاحي، فلسـفي، علمـي او تنبيهــي احســاس ورکــړي، ددغــو اړخونــو لوسـتل بـه لوسـتونکو تـه يـو درس هـم وي، بلـه دا چـې کـه د تـذکرې پـه ليکلـو کـې د شـاعر يـا ليکـوال د شـعر يـا ليکنـې څـو نمـونې راشـي دا بــه ښــه وي، کــه څــه هــم تــذکرې د حجــم د زيــاتوالي ســبب شــي، ځکــه کــه چيــرې يــو

مضـمون، شـعر يـا ادبـي ټوټـه راشـيي او هغـه پارچـه يـا ټوټـه ضـعيفه وي نو شـاعر يـا ليکـوال بـه لوسـتونکو تـه ضـعيف وبرېښـي، حـال دا چـې هغـه بـه پـه خپـل کـار کـې ډيـر قـوي او پياوړی وي.

نـو نمـونې يـا بېلګـې ډيـرې ښـې دي، خـو داسـې هـم نـه، چـې ګونـدې ټولـه تـذکره دې د يــوه شــاعر د شــعرونو پــه نمونــو ډکــه شــي، مطلـب دا چـې پـه شـعرونو يـا ليکنـو کـې ښـه انتخـاب وشـي او د ټـولنې ضـرورت هـم پـه نظـر کـې ونيـول شـي، ځکـه چـې پـه دې انتخـاب بـې راتلــونکي قضــاوت کــوي، ښــايي انســان د تاريخ هغه اړخ ته هم نظر وکړي.

کــه د تــذکرې لــه خاونــد ښخــه ګــڼ شــمېر شــاعران پــاتې کيــږي، دا بــه پــه دې فــن کــې د هغــه د معلومــاتو نشــتوالی وي، لــه بلــې خــوا لوســتونکي تــه دا موقــع پــه لاس ورځــي، چــې وو‌ايـي چـې دده نـه خـو زه ډېـر شـاعران پېـژنم، همــدا رنګــه د تــذکرې د خاونــد ټــولنيز سـلوک ده تــه ډيــر لــري او پــټ ادبيــان وړ پــه ګوتــه کـولی شـي، کـه څـوک يـې لـه نـورو تـذکرو ښخـه راټولــوي دا بلــه موضــوع ده، خــو دا چــې د وخــت ژونــدي شــاعران پــه تــذکره کــې راوړو، نـو ددې کـار لپـاره ډيـر زيـار پـه کـار دی او دا کــار لــه ډيــرو خلکــو ســره د ليــدلو، کتلــو غوښتنه کوي.

کـه د پورتنيـو قواعـدو او قوانينـو لانـدې تذکره وليکل شي، دا به ښه وي.

**ژوند تـــه وګوره ژوند څه دی همه کار دی**
**هغه ژوند په مرګ حساب دی چې وزګار دی**
**"حمزه بابا"**



# جنګونه مه کوئ، ټول پښتانه يو وجود شئ

## له سندرغاړې "دلراج" سره مرکه

**ظفر ساپی کریمي \کراچۍ**

د شلمې پيړۍ په اخري شپو کې د کراچۍ ښار د کويله ګودام په سيمه کې د محمدرحمان په کور کې يوې ماشومې سترګې وغړولې ،کله چې دغه ماشومه د شپږو کلنو شوه نو د چم ګاونډ استوګنو به د خوږاوازې ماشومې په نوم بلله ،د پښتو موسيقۍ په ميدان کې په لږه موده کې ډېر نوم پيدا کوونکې دغې ماشومې سندغاړې سره په کراچۍ کې ظفرکريمي مرکه کړې او په سر کې يې ترې د هغې د پيژندګلوي به اړه پوښتلي دي .

((زما نوم دلراج دی .يوه ترور[د مور خور] مې نازيه اقبال ، هغه هم ګانې [سندرې] وايي . پلار مې هم د فنکارانو سره مينه لري ، مور مې پکراج نوميږي او هغه هم يو وخت د فن په ميدان کې پاتې شوې ده،زه په کراچۍ کې پيدا شوی يم ، خو پلار مې پخوا د سوات نه کراچۍ ته په کډه راغلی و او همدلته اوسيږو ))

- **دلراج دې خپل نوم دی کنه دا دې د هنر د نړۍ نوم دی ؟**

زما نوم بل دی ، (له يادولو يې ډډه وکړه) خو کله چې د سندرو فن ته راغلم نو نوم مې بدل کړو.))

- **په کور کې هم درته مور پلار دلراج وايي؟**

نه په کور کې راته وړه وايي او يا راته هغه خپل نوم وايي

- **د سندرو نړۍ ته څنګه راغلې ؟**



ما به ځینې سندرې د ځان سره ویلي، بیا مې راته ترور نازیه اقبال وویل چې ته ګانې[سندرې] وایه ته به ډېره مخکې لاړه شې. بیا چې ما سندره ویله نو هغې به راته ویل دلته اواز داسې غزوه، یعنې هغې به مې یو قسم اصلاح کوله ما به د هغې خبره منله او ویل به مې چې ښه جي.

**د سندرو مسلکي زده کړې دې کړې دي ، کنه ټوله زده کړه دې په خپل کور کې کړې ده ؟**

ما به زده کړه په کور کې کړې ده ، پلار هم راله ډېره مینه او حوصله راکړې ده ،او په دغې مینه ما ګانې[سندرې] ویلي دي ،زه خوشاله یم چې د فنکارانو کره پیدا شوې یم او د فنکارانو د کورنۍ سره تعلق لرم ))

- **تاسو وویل چې مور بي بي دې هم هنرمنده وه ، هغې درسره په دې برخه کې مرسته کړې ده ؟**

نه مور مې راسره دا مرسته کړې ده چې هیڅ پاپندي یې رابانديې نه ده لګولې، او زما له خلې سندرې یې په مینه اوریدلي دي او دا زما دپاره لویه خبره ده.

- **ته پخپله هم سندرې اورې کنه ؟ او که اورې نو د کومو سندغاړو ؟**

زما خپله ترور نازیه اقبال زما د خوښې سندغاړې ده ، خیال محمد مې په نارینه سندغاړو کې خوښیږي. زه د دوی سندرې اورم.

- **په راتلونکي کې ستا هدف څه دی ؟**

زه ویم چې په سندرو ویلو کې دومره مشهوره شم لکه نازیه اقبال چې مشهوره ده . دا مې هم ارمان دی چې لیکل زده کړم او دومره لیکل زده کړم چې خپلې سندرې پخپله پراولې[لوستلی] شم . زه ددې دپاره ټیوشن ته هم هره ورځ ځم . زه ویم چې دومره انګلش هم زده کړم چې روانې خبرې پرې وکولې شم .

- **ښوونځي ته ځې کنه ؟**

سکول ته نه ځم . بیخي یو کلاس مې هم نه دی ویلې ، شوق مې ورسره ډېر دی . خو وخت نه لرم . ټیوشن ته ځم . اوس سندرې د ګوشک له لارې په ستیج وایم . او ریکارډ کړی سندرې مې ټولې په یادو زده کړې دي .

- **خپله کومه سندره دې ډېره خوښه ده ؟**

ستړګې ورله تورې کړئ ..نکريزې ورله پورې کړئ، او بل هغه ټپې چې ما ويلي دي ، د کورمې ګله ولا . دا مې ډېرې خوښې دي او چې کله د کور کار کوم ، جارو وهم يا نور کار وي نو هم اکثره دغه سندرې د ځان سره وايم .

- **ښه ته د کور کارونه هم کوې ؟ ستا يوه عادي ورځ څنګه تيرېږي؟**

سهر چې پاځم د خپلې مور سره د کور کار کوم ،که مور مې جارو وهي ، زه ورته يم ته مه کوه ، ماله راکړه . که هغه لوښي وينځي زه هم ورسره وينځم . د کور د کار نه روسته ټيوشن ته ځم بيا ماښام وختي ويده کيږم.

- **د موسيقۍ په الاتو کې د کوم شي غږ سره ډېره مينه لرې؟ لکه رباب دې خوښ دی که ستار يا نور څه؟**

((باجه مې ډېره خوښه ده ، زده کړې مې نه ده خو اوس يې زده کوم ،

- **په خوارو کې دې څه شی ډېر خوښ دي؟**

برياني[وريجې] مې ډېره خوښه ده، او په کور کې او که کله بهر چرته لاړه شم لکه دبۍ يا نور ځايونو ته ، نو هلته د برياني خوړلو کوشش کوم.

- **تراوسه کومو هيوادونو ته د سندرو ويلو لپاره تللې يې؟**

افغانستان ته تلې يم، سعودي او دوبۍ ته هم تلې يم . زياتره وخت په پېښور او کراچۍ کې يم.

- **کوم ځای دې ډېر خوښ دی ؟**



هغه ځايې مې ډېر خوښ وي چرته مې چې مور او پلار وي (په خندنۍ لهجه )

- **د ځان لپاره دې کوم ډول جامې خوښې دي،په کراچۍ کې خو زياتره مېرمنې پتلون اغوندي، ستا هم دا لباس خوښ دی؟**

نه ، پتلون هم ښه دی ، خو زما پخپله د پښتنو لباس خوښ دی . زه پخپله پښتنه او د پښتنو لباسونه او رواجونه مې خوښ دي .

- **د ويښتانو کوم ستايل دې ډېر خوښ دی؟**

زما خپل ويښتان ډېر ښکلي دي (په خندا

کې)

- **خپلو مینوالو ته څه پیغام ورکول غواړې؟**

((زه پښتنو ته دا ویل غواړم چې جنګونه مه کوئ ، ټول یو موټی شئ، ډېرې وینې په دې خاوره باندې توې شوې . ټول پښتانه یو ورونه او یو وجود شئ )).

لنډه کیسه

# خدمت؟

## رحمت دیوان

ما ټوله شپه د هغه په خبرو سوچ وکړو.

د هغه خبرې مې په ذهن کې چورلېدې راچورلېدې، ډېرې نا اشنا شان خنداګانې مې په غوږونو کې کړنګېدلې او خوب ته یې نه پرېښودم.

زما شپږ اووه کاله کېږي چې زه ادب ته راغلی یم، تراوسه د یو طالب علم په حېث لګیا یم او لیکل کوم، زما د خوښې صنف افسانه ده او تل مې افسانه لیکلې.

ما د خپلو افسانو مجموعه راغونډه کړې وه، کومې افسانې چې زما خپله خوښې وې هغه ټولې شپږ افسانې کېدې او د اویا مخونو نه زیاتې نه وې، زما دا خیال وو چې درې څلور نوموړي ادیبان چې راته په دې لیکل وکړي او بیا ورسره زما خپل لیکل هم شي نو مخونه به یې د سلو مخونو نه واوړي، بس خو پوره کتاب شو او بیا به یې چاپ کړم.

ما چې کله خپل کتاب په ترتیب کړو نو بیا مې یو څو نوموړو ادیبانو ته ورکړو او هغوی پرې لیکل شروع کړل. دوه درې میاشتې به تېرې شوې وې چې د هغه څلورو واړو مشرانو لیکل راته راورسېدل، لیکل یې ډېر ښه کړي وو او ډېر څه یې پکې داسې ویلي وو چې ما یې تصور هم نه وو کړی، یو پیراګراف یې تاسو هم ولولئ:

"د رحمت دیوان افسانې په پښتو ادب کې یوه نوې اضافه ده، داسې اضافه چې پښتو ادب به پرې تل ویاړ کوي، ځکه چې کوم موضوعات ښاغلي افسانه نګار خپل کړي دي نو ډېر ښه لیکل یې پرې کړي دي او ځینې خو داسې هم دي چې تراوسه پورې پرې په پښتو ادب کې چا قلم نه دی پورته کړی، دا د پښتو ادب یو لوی خدمت دی چې د داسې افسانو اضافه پکې وشي".

د بل هم یو پیراګراف ولولئ:

"ما چې کله دا ټولګه ولوسته او بیا مې افسانه نګار په خپل نظر کې راوستو نو ما یقین نه شو کولی چې ګني دا افسانې ده لیکلي دي، ځکه چې دومره ښکلې او خونډورې افسانې او بیا داسې ښکلي ښکلي موضوعات، دا خو د پښتو ژبې او ادب دپاره ډېره ګټوره مجموعه ده".

بس بخښنه غواړم، خو زما په خیال د درېم په خبرو

کې هم د لوستو څه شته:

"په نثر کې افسانه داسې ده لکه په شاعرۍ کې چې غزل دی، په افسانه لیکلو کې ډېر کم خلک کامیاب شوي دي چې ډېرې ښې ښې افسانې یې لیکلي او زه په دعوې سره ویلی شم چې په هغوي کې یو رحمت دیوان هم دی".

چې د دې درې نومورو خبرې مو واورېدې او بیا هم غصه نه شوئ، نو دا څلورم ولې نه اورئ، د ده هم یو پیراګراف باید اوس تاسو ولولئ:

"د پښتو ژبې او ادب د خدمت لپاره چې داسې ځوانان متې رابډوهي نو بیا به پښتو ضرور ترقي کوي، دا هم د داسې ځوانانو کمال دی چې پښتو یې دې ځای ته ورسوله، په پښتو افسانه کې به دا مجموعه یوه ډېره ګټوره اضافه وي او تل به پرې پښتو درنه ښکاري".

د دې څلورو وارو مقالو له لوستلو وروسته ماته ځان یو ډېر لوی علامه ښکاره شه، نه پوهېدم چې زما په افسانو کې هم دومره څه شته او یا ما هم د پښتو ژبې دومره خدمت وکړو، دوي چې څه لیکلي وو دا تراوسه زما په تصور کې هم نه وو او نه ما کله داسې سوچ کړی وو، زما له زړه ورته بې شمېره دعاګانې ووتې.

پرون چې د کوم کتاب مخکتنه په پرېس کلب کې وه، هغه هم د افسانو مجموعه وه، ماته هم بلنه راغلې وه نو زه هم ورغلی وم. په کتاب بې شمېره مقالې لیکل شوې وې او ځینو کسانو پرې نظمونه هم لیکلي وو. کتاب ما لوستی وو او په کتاب مقالې مې اوس اورېدې، په کتاب هم ډېر لیکل شوي وو او دلته هم پرې ډېر ویل روان وو. د کتاب په افسانو یو کس په خپله مقاله کې وویل:

"ما د افسانو ډېرې مجموعې لوستې دي خو دا مجموعه ډېره ځانګړې ده، په دې کې چې کوم موضوعات راغونډ شوي دي او بیا څومره په ښکلي انداز لیکل شوي دي، نو یقیناً چې په پښتو ژبه او ادب کې یوه ګټوره اضافه ده او د پښتو افسانې ډېر لوی خدمت دی".

د کتاب او د لیکوال نوم یې درته نه اخلم، خو لږه شان پېژندګلو یې درسره کوم، کېدی شي تاسو یې هم وپېژنئ.

دا ښاغلی په یوه سرکاري اداره کې د پښتو استاذ په حېث د پښتو لپاره کار کوي، اویا زره روپۍ د میاشتې تنخوا اخلي، دغې اداري ورته خپل کور او موټر هم ورکړی دی، بې شمېره کتابونه یې دغه ادارې چاپ کړي دي او ځینې نور یې خپله او په ملګرو چاپ کړي دي. ما داسې اورېدلي دي چې ځینې کتابونه یې په خلکو لیکلي دي او بیا یې په خپل نوم چاپ کړي دي. ګناه دې یې د ویونکي په غاړه وي.

بېګا چې زه کور ته راغلم نو په خپلې افسانوي مجموعه مې لیکل شوې څلور واړه مقالې یو ځل بیا د سر نه تر اخره پورې ولوستې، په مخکتنه کې د ادیبانو خبرو مې په غوږونو کې کړنګا کوله.

ټوله شپه راله د دې غمه خوب رانه غلو، دا ټولې خبرې مې په ذهن کې ګډې وډې روانې وې، داسې مې محسوسوله چې دا ټول لفظونه په ما پورې خاندي، لفظونه راته په دېوال باندې منډې وهي،ټوکې راپسې کوي او ما خوب ته نه پرېږدي.

د شپې په اخري پېر کې چې کله مې سترګې

ورغلې، نو څه ګورم چې يو دربار لګېدلی دی، پښتو بره ناسته ده او زه ورته لاندې لاسونه تړلی ولاړ يم، زما يوه يوه افسانه راځي او په ما ګواهي ورکوي، د لفظونو يو لوی غوېمنډ راجوړ دی او زما تماشې ته ولاړ دی، ځينې راپسې اوازونه کوي او ځينې راپورې خنداګانې کوي، ځينې له خندا شنه شوي دي او ځينې له قاره سره اوختي دي، د ټولو ګواهانو او زما د افسانو د ثبوتونو نه وروسته پښتو دا اعلان وکړو:

"چونکې دې افسانه نګار ټول عمر زما د خدمت دعوې کړي دي، صرف په دې خاطر چې ځان ته نوم پيدا کړي، شهرت ترلاسه کړي، د خپل نوم پيدا کولو دپاره يې ټول عمر په ما ملنډې وهلي دي، نو د ده سزا دا ده چې...................".

او زما سترګې بيا خلاصې وې، بق بق مې بره لاندې، اخوا دېخوا وکتل، خو هيڅ هم نه وو، ليپ ټاپ مې هم داسې لګېدلی پروت وو، زر راپاڅېدم او خپله مجموعه مې راواړوله، څلور واړه مقالې مې يو ځل بيا د سر نه تر اخره پورې ولوستې، د لفظونو د خندا ګډوډ اوازونه مې په غوږونو کې بيا کړنګا شروع کړه، اخر چې د خندا اوازونه د برداشت نه بهر ووتل نو څلور واړه مقالې مې سيليکټ کړې او په ډيليټ مې ګوته کېښوده، بيا مې د کتاب په وړومبۍ پاڼه وليکل:

"ګرانو لوستونکو! دا افسانې نه ما د پښتو ادب د خدمت دپاره ليکلي دي او نه دا چې پښتو ژبه دومره خواره ده، زه د پښتو ژبې ډېر منندوی يم چې ماته يې په خپله جولۍ کې ځای راکړو او ماله يې دومره وس راکړو چې زه دا خپل مات ګوډ ليکل په پښتو کې وکړم، که څوک يې په دې خاطر ګوري چې ما د پښتو خدمت کړی نو نه دې يې ګوري، ځکه چې زه د پښتو خدمت نه شم کولی، بلکې پښتو زما خدمت کوي چې ماته يې خپل لفظونه راکړي او زه په هغه لفظونو کې خپل احساسات خلکو ته رسوم".

د سحر رڼا خپلې وزرې غوړولې وې، د لمر سترګې زمکې ته تودوالی وررسولی وو، په دې وخت کې مې په موبايل زنګ راغلو، اوکی مې کړ:

"هيلو".

له بل لوري غږ راغلو:

"السلام علېکم، رحمت ديوان خبرې کوئ؟".

"وعلېکم سلام، او ګرانه، تاسو څوک؟".

هغه له ځواب ورکولو سره ترې ما هم پوښتنه وکړه. هغه وويل:

"زه د واشنګټن نه صدر روف خبرې کوم، د غږ راډيو همکار يم".

ما ورته وويل:

"ښه ډېر ښه، زه مو څه خدمت کولی شم؟".

هغه وويل:

"مونږ ستاسو په ادبي خدمت يوه خپرونه کول غواړو.....".

ما يې خبره ورپرې کړه:

"خدمت؟؟؟؟".

زما په دې پوښتنه هغه حېران شه، له حېرانتيا ډک غږ يې راغلو:

"او خدمت..........."

او ما ښه وخندل، ښه ډېر مې وخندل.

# په ننګرهار پوهنتون کې د کونړونو د ولایت د محصلینو رئیس محترم

## استاد، شاعر او لیکوال مسلم ((مومند)) سره مرکه

مرکه کوونکی: سمیع الله "خاکسار"

**پوښتنه: مومند صیب که د هر څه د مخه د ستوري مجلې لوستونکو ته ځان ور وپېژنئ خوښ به شو؟**

ځواب: زه مسلم ((مومند)) د حاجي عبدالرشید زوی د حاجي قلعه اوسیدونکی او د خاص کونړ د ډاکټر کبیر ستوري لیسې څخه په ۸۶- ۸۷ کال د دولسم ټولګي څخه فارغ، اوس محال د ننګرهار اسلامي پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي محصل یم.

**پوښتنه: مومند صیب که د عمر او شخصي ژوند په اړه معلومات راکړئ، خوښ به شو.**

ځواب: مننه! عمر مې نږدې ۲۷ کاله دی او واده مې کړی، د الله جل جلاله فضل دی ۲ اولادونه لرم.

**پوښتنه: مومند صیب که د زده کړو په اړه معلومات راکړئ خوښ به شو؟**

ځواب: په ۸۶- ۸۷ کال دخاص کونړ د ډاکټر کبیر ستوري له لیسې د دولسم ټولګي څخه فارغ شوی یم بیا مې یو کال عالي دارلمعلمین ولوست بیا دکانکور په ازموینه کې د ننګرهار پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي ته بریالی شوم، چې اوس مې اخري کال دی.

**پوښتنه: مومند صیب که د خپلو دندو په اړه درنو لوستونکو ته معلومات ورکړئ خوښ به شو؟**

ځواب: جلال آباد کې د نورالبشر کلینک اداري مدیر وم، همدا شان د خاص کونړ کبیر ستوري په لیسه کې دوه کاله د استاذ په صفت دنده اجراء کړې اوس محال ۳ کاله کېږي، چې په ننګرهار پوهنتون کې د کونړونو د ولایت محصلینو رئیس خادم یم.

**پوښتنه: مومند صیب که د ټولنې د کارونو په اړه وواياست چې کوم کارونه مو کړي؟**

ځواب: مخکې به د پوهنتون د هر محصل څخه ۳۰۰ افغانۍ اخیستل کېدې الحمدلله کوم وخت چې مې ددې پوهنتون ریاست په لاس کې اخیستی، هغې مې معاف کړي بل دا چې د محصلینو لپاره مو منظم اطاقونه نیولي دي او د غریبو محصلینو سره مالي مرستې هم شوي دي.

**پوښتنه: مومند صیب که دا راته ووایئ چې د پوهنتون د مسؤلینو او محصلینو رویه یو د بل سره او خپل منځ کې څنګه ده، کومه ستونزه خو به نه وي؟**

ځواب: الحمدلله مخکې چې و محصلینو ترمنځ قومي نژادي او داسې نور ډله ییز اختلافونه و اوس مهال د الله جل جلاله په فضل هغه له منځه تللي او محصلین په خپل منځ کې وروري کوي او د خپلو استاذانو احترام کوي.

**پوښتنه: مومند صیب په ننګرهار پوهنتون کې اوس محال د کونړونو د ولایت څو تنه محصلین په زده کړه بوخت دي او زیاتره په کومو پوهنځیو کې.**

ځواب: د ننګرهار پوهنتون که اوس محال د کونړونو د ولایت نه تقریباً ۱۲۰۰ تنه هم په شخصي او دولتي پوهنتونونو کې زده کړه کوي، او زیاتره په طب، اینجنیرۍ، حقوق اقتصاد، تعلیم او تربیه او ادبیاتو پوهنځیو کې زده کړې کوي.

**پوښتنه: مومند صیب ستاسې له پوهنتون سره تر اوسه چا کومه مالي مرسته کړې؟**

ځواب: بلې مرسته شوې خو په ډېره کمه اندازه، د هغه د څو مشرانو له خوا شوې لکه اینجنیر ګل آغا حسني صاحبزاده، وړمه ساپۍ، حاجي محمد آمین، سباوون صیب، حسام او داسې نور...

**پوښتنه: مومند صیب څرنګه چې لوستونکو ته بهتره معلومه ده، د کبیر ستوري د لیسې د شاګردانو اصلاحي شورا ستاسې په شخصي- مالي مصارفو چلېږي، له څومره موددې را په دې خوا د دوی مالي مصارف په غاړه لرئ؟**

ځواب: کله چې په ۱۳۹۰ هـ.ش کال دا ټولنه د دوو با استعداده ورونو هر یو سمیع الله د دولسم جیم ټولګي اول نمره او غلام الله خان د دولسم الف ټولګي اول نمره، دواړو په ګډه دا ټولنه رامنځته کړه، دوی به هره میاشت د لیسې د اداري په هدایت د زده کوونکیو ترمنځ رقابتي سیالۍ په لاره اچولې نو یو څه مصارفو ته ضرورت و، هماغه و چې له سخت مشکل سره مخ وو، نو د دوی ټول مالي مصارف ما په غاړه واخیست او نږدې دوه کاله کېږي، چې د دوی مالي مصارف په غاړه لرم، چې تر څو مې وس

او تــوان وي د دوی هــرې ســتونزې تــه بــه د پــای ټکــی کېــږدم او لــه نــورو ورونــو مــې غوښــتنه داده، چــې د هر څـه لـه مخـه بایـد د مکتــب شــاګرد تقویــه کــړو او د دوی هــرې ستونزې ته د پای ټکی کېږدو.

**پوښـتنه: مومنـد صـیب پـه را روان کـال کـې د ډاکــتر کبــیر ســتوري د لیســې دزده کوونکــو لپاره کوم پروګرام لرئ؟**

ځــواب: بلــې د را روان کــال د دولســم ټولګیــو د فراغیــت غونــډه، جــوړول او کــه خــدای وس او تــوان راکــړو، د دوی لپــاره دکـانکور د امـادګۍ کورسـونه پـه نظـر کـې لرم.

**پوښتنه: مومنـد صیب څرنګـه، چـې تاسـې د خاص کـونړ د ولسـوالۍ د ځوانـانو نماینـده هـم یاست کـه راتـه ووایاسـت چـې ددې دواړو ټولنـو اړیکې یو له بل سره څنګه دي؟**

ځــواب: الحمــدلله د خــاص کــونړ د ځوانــانو رئــیس محتــرم اســتاذ پوهنیــار محمــدرحیم خاکســار یــو پــوه او باتجربــه شخصــیت دی او دی زمــا ډېــر نــږدې دوسـت دی، نـو زه پـه هـره چـاره کـې لـه ده سـره مشـوره کـوم او دی لـه مـا سـره مشـوره کــوي، نــو الحمــدلله د دواړو ټولنــو هماهنګي یـو د بـل سره پـه هر ډګر کې ډېره ښه ده.

**پوښتنه: مومند صیب کـه لـږ د شعر نـړۍ تـه راشـو څـومره مـوده کېږي چـې شعر لیکلـو تـه مو خه کړې؟**

ځــواب: خاکســار صــاحب نــږدې شــپږ کالـه کېـږي، چـې شـعر لیکلـو تـه مـې مخـه کړې.

**پوښــتنه: مومنــد صــیب کــه داراتــه ووایــئ چې تر اوسه مو څومره شعرونه لیکلي؟**

ځــواب: مننــه خاکســار صــیب، تــر ۲۰۰ شا و خوا کې شعرونه مې لیکلي.

**پوښــتنه: مومنــد صــیب څــه علــت و، چــې شعر لیکلو ته مو مخه کړه؟**

ځـواب: محتـرم خاکسـار صـیب خنـدا او وروسـته غمجـن کېـدل، پـه ډېـر افسـوس سره راتـه وایـي علت د شعر لیکلـو هغـه څـه و، چـې زمـا زړه غوښـتل خـو لاس تـه راوړل یې ډېر ګران وو.

**پوښتنه: مومنـد صـیب مینـه مـو کـړې او کـه نه؟**

ځـواب: محتـرم خاکسـار صـیب داسـې انســان بــه نــه وي، چــې مینــه یــې نــه وي کــړي، خــو زه وایــم چــې زه پــه خپلــه مینــه کـې بـاقي پـاتې شـوی یـم او هـو مینـه مـې کړې.

**پوښتنه: مومنـد صـیب وایـي چـې کـه عاشـق نــه وي، شــاعر کېــدای نشيـ تاسـې پـه دې اړه څه نظر لرئ؟**

ځــواب: خاکســار صــاحب زه بــه دا وایــم چــې دشــعر لــړۍ بــه د عشــق پــورې محــدوده نــه وي، خــو دا هــم وایــم چــې

عاشق شاعر کېږدای شي خو شعر د الله جل جلاله لخوا یو الهام دی چې چاته یې ورکړي.

**پوښتنه: مومند صیب د شعرونو کوم کتاب مو چاپ شوی او که نه؟**

ځواب: د شعرونو کتاب مې تر اوسه نه دی چاپ شوی او زیاتره شعرونه رانه نادرک شول.

**پوښتنه: مومند صیب که په آخر کې د ستوري مجلې درنو لوستونکو ته څه پیغام لرئ مهرباني وکړئ؟**

ځواب: زه په خپل وار د ستوري مجلې لوستونکو ته دا پیغام لرم، چې خپل اولادونه دعلم په ګانه سمبال کړي، ځکه علم رڼا ده، انسان د انسانیت لوړو پوړیو ته رسوي.

مومند صیب د ستوري مجلې اداره له تاسې مننه کوي، چې سره له دومره مصروفیتونو مو مونږ ته وخت راکړو.

مومند: زه هم د ستوري مجلې له اداري څخه او په خاص ډول د خاکسار صیب نه مننه کوم چې مونږ ته یې د خیالاتو د څرګندولو موقع راکړه، خدای جل جلاله دې وکړي چې د ستوري مجلې اداره په را تلونکي کې هم داسې پروګرامونه په نظر کې ولري.

په درنښت

## ابتـــکار

*اروانباد استاد ګل پاچا الفت*

**پراخې کې خوشحالي مبتذل کار دی**
**په تنګسه کې چې وي خوښ دا ابتکار دی**

**ناوې خوښه په ډولۍ کې ده هر ګوره**
**رقاصې لره پراخ میدان په کار دی**

**یو چېن کې بل په کوټ پتلون کې خوښ وي**
**ځوان د پېغلې زوړ د کونډې خریدار دی**

**د یار غېږ کې که وي هر څو فشارونه**
**په همداسې مضیقه کې خوښ دلدار دی**

**کوټنۍ کې زاهد خوښ په ریاضت دی**
**عېش عشرت څخه بېزاره پرهېزګار دی**

**مجاهد د حق د لارې چې هرڅوك وي**
**د خلیل په شانې خوښ په سره انګار دی**

**د ګوګل په تنګ قفس کې زړونه خوښ دي**
**چې لاس تنګ شي نو د ګېډې عمرخوار دی**

**ګېډو خوښ وي د کندو خولې ته چې ګوري**
**مېن ګوره خوښ په تنګه خوله د یار دی**

# د ډاکټر کبیر ستوري په لیسه کې د متعلمینو اصلاحي شورا رامنځته شوه

ریپورټ: ضیاء اله جمال

په کال ۱۳۰۲ش د حمل د میاشتې په لومړۍ نېټه د کبیر ستوري په لېسه کې د متعلمینو اصلاحي شورا پرانېستل شوه.

دغه غونډه د شنبې په ورځ د سهار په ۸ بجو د قاري صاحب عبدالحارث له خوا د قران کریم د څو مبارکو ایاتونو په تلاوت پیل شوه.

په لومړي قدم کې د ډاکټر کبیر ستوري د لېسې د اصلاحي شورا بنسټګر شاعر او لیکوال سمیع الله خاکسار له خوا مېلمنو ته ښه راغلاست او هرکلي وشو، ورپسې د غونډې د پرانستې لپاره د خاص کونړ د ولسوالۍ د پوهنې مدیر ښاغلي استاذ سید انور انوري ته بلنه ورکړل شوه، چې د نوموړي شورا په ارزښت خبرې وکړي.

نوموړي د شورا په اړه د غونډې ګډونوالو ته خپله وینا واوروله او په پای کې یې د نوموړې شورا د بنسټګر هڅې او کوششونه وستایل او د هر ډول مرستو ژمنه یې وکړه.

بیا ورپسې د ډاکټر کبیر ستوري د لېسې فرهنګپال مدیر حاجي عبدالغني خبرې وکړې او ویې ویل، چې دا لومړنۍ لېسه ده، چې پکې د متعلمینو له خوا اصلاحي شورا رامنځته شوې او زیاته یې کړه، چې د همدې په اقتباس اوس د منګوال او حکیم اباد په لېسو کې هم د ډاکټر کبیر ستوري لېسې د اصلاحي

شـوراګانو پـه څېـر شـوراګانې رامنځتـه شـوي دي.

د ډاکټــر کبــیر ســتوري د لېســې مــدیر صـاحب پـه خپلـه وینـا کـې ویـول، چـې پـه نومـوړې لېســه کــې اوســمهال ۱۸۰۷ کســه زده کــوونکي پــه درس بوخــت دي، چــې د ۵۸ ښوونکیو له خوا ورته درس ورکول کېږي.

دا لېســه ۲۸ تدریــسي خــونې لــري، چــې په درېو تعمیرونو کې موجود دي.

د غونـډې پـه مـنځ کـې سـمیع الله خاکسـار د اصلاحي شـورا پـه تګـلاره رڼـا واچولـه او ویـې ویــل، چـــې نومــوړې شــورا شلــور مرکــزي کــومېټې لــري او د هــرې کــومېټې غــړي ۱۰ تنه دي:

۱: دیني کومېټه
۲_ اداري کومېټه
۳_ فرهنګي کومېټه
٤_ مالي کومېټۀ

د شـــورا ځینـــې غـــړي عبـــارت دي لـــه: شـاهد الله حـسرت، غـلام الله رحمتـي، بـلال، بلوڅ عبدالشافي، سرتاج، ضیاء الله او نور..

د ددې شـــورا مـــوخې او هدفونـــه پـــه دې ډول دي:

۱_ د لېســـې د اداري او شـــاګردانو تـــرمنځ دوامداره اړیکي.

۲_ وخـت پـه وخـت د زده کوونکیـو تـرمنځ علمي سیالۍ جوړول.

۳_ د ښوونځي نظم ساتل

٤_ وخت په وخت دیني غونډې کول.

۵_ زده کوونکي زده کړو ته هڅول.

او داسې نور...

د غونـډې وروسـتی وینـاوال د ډاکټـر کبـیر سـتوري وراره او پـه خـاص کـونړ کـې د پـوهنې د ریاست د نظارت امر سورګل زریال و.

نوموړي په خپلـو خـبرو کـې پـه دغـه لېسـه کـــې د متعلیمنـــو اصـــلاحي شـــورا رامنځتـــه کېـدل وسـتایل او پـه دې لـړ کـې یـې ورسره د مرستو ژمنه وکړه.

غونـډه د قـاري صـاحب رحمـت الله پـه دعـا پای ته ورسېده.

## غزل

*سمیع الله خاکسار*

د یــــادونو مــــازیګر و تــــه رانغلـــــې
غــم دې ټــول زمــا پــه سر و تــه رانغلــې

هــرې خــوا تــه د غمونــو قــافلې وې
چــې مــې زړه پرهــر پرهــر و تــه رانغلــې
غــم دې ټــول زمــا پــه سر و تــه رانغلــې

د حـــسرت چیغـــې مـــې ټولـــه شـــپه کـــولې
چـــې مـــې مـــات د زړه وزر و تـــه رانغلـــې
غــم دې ټــول زمــا پــه سر و تــه رانغلــې

ټولــه ورځ بــه ســتا کوڅــه کــې ګرځېدمــه
د هــر چــا پــه مــا نظــر و تــه رانغلــې
غــم دې ټــول زمــا پــه سر و تــه رانغلــې

جنــازه چــې مــې لــه کــوره ګــور تــه لاړه
تمــام کــلي کـــې محشرـــ و تـــه رانغلـــې
غــم دې ټــول زمــا پــه سر و تــه رانغلــې

# د ۲۰۱۵ کال پارلماني ټاکنې

انټرنیټي رسنیو د افغانستان د ۲۰۱۴م کال په ټاکنو کې یو مهم رول لوبولی و لکه د بیان د آزادۍ د عامه پوهاوي او د ټاکنو د موضوعګانو په برخه کې. د افغانستان سنتي ټولنه باید نوې لارې پیدا کړي ترڅو پراختیایي ټولنې وکولای شي د ۲۰۱۵ م کال د پارلماني ټاکنو په اړه انټرنیټي رسنیو ته لاس رسی ولري. د ځوانانو د ټولنې ټول غړي نارینه او ښځینه، شاګردان، پېغلې، د ټولنې مشران، ملا امامان او عام خلک د ۲۰۱۵م کال د پارلماني ټاکنو د بهیر له لاس رسي څخه لرې پاتې نه دي. د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، د ځوانانو د چارو معینیت، د ټاکنو خپلواک کمیسون، سیمه ییزو او نړیوالو رسنیو تر څنګ کار کولو لپاره د بېړنیو مرستو او پراختیایي موسسې د ۲۰۱۵ م کال د پارلماني ټاکنو ویب پاڼه جوړه کړه.

مونږ په دې موسسه کې په دې عقیده یو چې انټرنټي رسنۍ به لا پیاوړې شي. په همدې ډول به دا انټرنیټي رسنۍ سیمه ییز ژورنالستان نور هم د دوی د حقوقو په هکله پوه کړي او هغوی به له خپل حق څخه استفاده وکړي چې په ۲۰۱۵ کال د پارلماني ټاکنو په ګډون سره د حکومت په پرېکړو کې اغېزه وکړي.

## زمونږ په اړه:

د بېړنیو مرستو او پراختیا موسسه د یوې خپلواکې، بشري غیر دولتي موسسې په توګه کار کوي چې د نورو غیر دولتي موسسو او له اقتصاد وزارت سره په قانوني توګه ثبت شوې ده. د افغانستان د لسیزو جګړو له ویجاړۍ وروسته په بیا رغونه کې همکاري کوي.

د بېړنیو مرستو او پراختیا موسسه د هغو خلکو په اړه چې د بحرانونو او طبیعي پېښو د ویجاړیو تر اغېزې لاندې دي لکه کډوال او بې ځایه شوو سره بشري مرستې کوي. مونږ مرسته کوو، له مدني ټولنې او نورو نړیوالو پراختیایي موسسو سره یو ځای د دې هېواد په بیا رغونه او پراختیا کې کار کوو.

## ټاکنې څه ته وایي؟

ټاکنې هغه عملیه ده چې د هغې له مخې



هغه کسان چې د رایې ورکولو شرطونه ولري، د خپلواکو، حزبي او نورو کاندیدانو له ډلې څخه د خپلې خوښې کاندید ته د ولسمشرۍ، پارلمان او یا بل انتخابي پوست لپاره رایه ورکوي.

بله دا چې د عمومي رایو په واسطه مقام، منصب او یا هم کوم مسؤلیت ته د رسېدو لپاره د اشخاصو د ټاکنې رسمي بهیر.

ټاکنې د واك د ځارنې او تر لاسه کولو لپاره د آمرینو د ټاکلو لپاره د کړنو عملیه ده .

همداراز د سیاسي او اداري ارګانونو د جوړولو او همدارنګه د اجرایي او تقنیني مسولینو په اړه د خلکو د ارادې د څرګندولو اداره ده.

په پای کې باید ووایو چې ټاکنې هغه حقوقي کړنه ده، چې د هغې له مخې خلك خپلې سیاسي ټولنې ته د شراکت لپاره استازي وړاندې کوي.

**د ټاکنو ارزښت**

څرنګه چې پوهېږو ټول انسانان د یو ډول ارزښت لرونکي دي، له همدې امله د قانون په وړاندې مساوي حقوق او مکلفیت لري. له دې جملې څخه یو هم د رایې ورکولو او په ټاکنو کې د ګډون حق دی، چې د ولسواکۍ یو له بنسټیزو اصولو څخه جوړوي. د ټاکنو له نېټې څخه معلومېږي، چې په لومړیو کې د رایې حق د ټولنیز، سیاسي، پانګوالي، قوم، نژاد او جنسیت په نظر کې نیولو سره د ټولنې په یوې ځانګړې برخې پورې تړلې وو. چې له همدې امله د ټولنې ډېر وګړي، لکه ښځې، اقلیتونه او غریبان له دې حق څخه بې برخې وو. خو د ولسواکو نظامونو په پرمختګ او د ټاکنو د فرهنګ په جوړولو سره د رایې ورکولو حق عمومي شو چې اوس ډېرو هېوادونو په خپلو اساسي قوانینو کې دا حق د خپلو هېوادوالو لپاره وړاندې کړی او حمایت ورڅخه کوي، چې د ولسواکۍ یو له مهمو لاسته راوړنو څخه شمېرل کېږي.

دلته پوښتنه پیدا کېږي، چې رایه ورکول حق دی او که مکلفیت؟ له دې حق څخه څه ډول کار واخلو او ارزښت یې په څه کې دی؟ د دې پوښتنې ځواب آسانه نه دی په دې برخه کې بېلابېل نظریات شتون لري. د حقوقو له مخې هېڅ حق پرته له مکلفیت څخه شتون نه لري، یا په بل عبارت حق او مکلفیت د یو بل لازم او ملزوم دي. له بل پلوه، په قوانینو کې د اتباعو د مکلفیتونو او حقوقو وړاندوېینه او ثبت کېږي، خو په عمل کې موږ له داسې حالت سره مخ کېږو چې په قوانینو کې حق پرته له دې چې مکلفیت یې ثابت شي وړاندوېینه یې کېږي، چې دا حالت موضوع له ابهام سره مخ کوي.

دا چې رایه یوازې حق دی او که مکلفیت هم په څنګ کې لري، یوه داسې پوښتنه ده چې نه شو کولای بشپړ او مطلق ځواب ورکړو، ځکه چې ځواب یې د هر هېواد له مخې توپیر لري. د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې رایه ورکول یو حق دی، چې د هېواد ټول اتباع د دې حق لرونکي دي او له دې حق څخه په کار اخیستلو کې خپلواك دي. خو د نړۍ په ډېرو لږو هېوادونو لکه، استرالیا او بلجیم کې رایه ورکول نه یوازې حق بلکې مکلفیت هم دی او هغه کسان چې له دې حق څخه پرته له کوم معقول عذر څخه کار نه اخلي، جریمه کېږي. په همدې ترتیب په ایټالیا

کې د هغو کسانو په تذکره چې په ټاکنو کې یې برخه نه ده اخیستې د «رایه یې نه ده ورکړې» ټاپه لګول کېږي. چې دا ډول ټاپه نوموړی شخص دولتي دفترونو ته د مراجعې په وخت کې له ستونزو سره مخ کوي.

د افغانستان په اړه باید ووېل شي، دا چې په هېواد کې د ټاکنو بهیر په پوره ډول نوی نه دی، خو د ټاکنو فرهنګ ډېر وروسته پاتې دی.

دغه موضوع چې رایه ورکول یوازې حق او که مکلفیت هم دی، د رایې ورکوونکو له خوا څخه د دې حق د کارونې د څرنګوالي او اهمیت په اړه مستقیم اغېز لري. په قانون کې د مکلفیت د موضوع د ثابتوالي او یا نه ثابتوالي سربېره، رایه ورکوونکي د خپلې راتلونکې او خلکو په وړاندې اخلاقي مسؤلیت هم لري. له همدې امله رایه ورکوونکو ته لازمه ده چې د رایې ورکولو په وخت کې، دې ته چې چاته رایه ورکوي، پوره پاملرنه وکړي. ځکه چې رایه یې کولای شي د ټاکنو په پایلو کې لوی بدلون راولي.

په اوس وخت کې ټاکنې په یوه داسې پدیده بدلې شوې دي، چې نه یوازې د هېوادونو لپاره په ملي کچه د ارزښت وړ دي، بلکې د نړیوالې ټولنې د سولې، ثبات او پرمختګ لپاره هم مهمې شمېرل کېږي. څرنګه چې مخکې ووېل شول، ټاکنې حکومتونو ته مشروعیت ورکوي، په ملي او سیاسي تصمیمونو کې د خلکو برخه اخیستل تامینوي او په هېوادونو کې د پرمختګ او ثبات لپاره شرایط برابروي. په حقیقت کې د تېرو کلونو په جګړو او اختلافونو کې د افغانستان د خلکو ټولې قربانۍ، ویجاړۍ او ډېرو ستونزو زغمل، د حق د ترلاسه کولو لپاره د ارادې څرګندول وو چې تر ټولو وړاندې په ټاکنو کې ښې څرګندېږي.

## لومړنی پارلمان

د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې د پارلمان د جوړېدو فکر د سیمې له تحولاتو نه راپیدا شو. دا پلان د شا امان الله خان په وخت کې مطرح شو. خو د افغانستان لومړنی یا معاصر پارلمان چې په ملل متحد کې یې رواج درلود، په ۱۳۱۱ کال د محمد نادر شاه په واکمنۍ کې جوړ شو.

## د ولسي جرګې ټاکنې

د ولسمشرۍ د ټاکنو د بهیر له بریالي ترسره کولو وروسته، د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو ټاکنې د اساسي قانون او ټاکنو له قانون سره سمې د ۱۳۸۴ لمریز کال د وږي د میاشتې په ۲۷ مه ترسره شوې. چې په ترڅ کې یې هېوادوالو د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو له پاره خپل استازي وټاکل. د ولسي جرګې د ټاکنو له پاره ټول هېواد د کوچیانو له پاره د یوه مرکز له پاسه په ۳۴ ټاکنیزو مرکزونو وېشل شوی و. چې رایه ورکوونکو په خپلو اړونده ولایتونو کې رایه ورکړه.

ملي شورا له دوو مجلسونو، ولسي جرګې او مشرانو جرګې څخه جوړه شوې. ملي شورا د افغانستان د جمهوري اسلامي دولت لوړ مقننه ارګان شمېرل کېږي چې غړي یې د خپلواکو او عادلانه ټاکنو له لارې د افغانستان د خلکو له خوا ټاکل کېږي. په ولسي جرګه کې د استازو شمېر د هر ولایت د نفوسو له مخې

دي.

**ولسي جرگه:**

د ملي شورا د ولسي جرګې له پاره په هرو پنځو کلونو کې يو ځل ټاکنې کېږي، د دوی د غړو شمېر ۲۴۹ تنو ته رسېږي.

**ملي شورا ته د کانديد کېدو شرايط:**

- افغانستان تابع وي، يا يې هم لږ تر لږه له کانديد کېدو څخه لس کاله وړاندې د افغانستان تابعيت تر لاسه کړی وي.
- د محکمې له خوا څخه د بشري ضد جرمونو او يا هم له مدني حقوقو څخه په بې برخې کېدو نه وي محکوم شوی.
- د ولسي جرګې د کانديد عمر بايد د کانديد کېدو په ورځ له پنځه ويشت کلونو څخه لږ نه وي او د مشرانو جرګې د ټاکل کېدو له پاره يې بايد عمر د ټاکل کېدو په ورځ له پنځه دېرش کلونو څخه لږ نه وي.
- هغه کسان چې نوم بايد د کمېسيون له خوا د رايه ورکوونکو په نوملړ کې ثبت شوی وي.

همدارنګه د ولسي جرګې له پاره ځانونه نوموي. مکلف دي چې د ټاکنو د کمېسيون له خوا په ټاکل شوي وخت کې، د نوم ليکنې له پاره د خپلې کانديدۍ ليکل شوی غوښتنليک د کمېسيون ولايتي دفتر ته وړاندې کړي.

- نوم او مشخصه پته.
- د زده کړو تاييد شوي اسناد.
- د محکوميت، عمر، منقولي او غير منقولي پانګې په اړه معلومات او د دې قانون ټول شرايط منل.
- د رايې ورکولو د کارت درلودل او يا هم بل داسې سند لرل چې د کمېسيون له خوا څخه تثبيتېږي.
- د زرو کسانو رايه ورکوونکو د نوم ليکنې د کارت شمېرې او لېست، چې د ټاکنو د خپلواک کمېسيون له خوا څخه تثبيتېږي او همدارنګه د ټاکنيز مرکز د ځو اوسېدونکو د ګوتې نښه او لاسليک چې د رايې په پاڼه کې د نوموړي کس کانديد کېدل وښيي.
- د ولسمشرۍ کانديد د خپلو دوو مرستيالانو نومونه له کانديد کېدو سره سم کمېسيون ته ورکوي.
- د ولسي جرګې کانديد د کانديد کېدو په وخت کې د امانت په توګه دېرش زره افغانۍ کمېسيون ته ورکوي. نوموړې پيسې هغه وخت کانديد ته بېرته ورکول کېږي، چې په ټاکنو کې بريالی او يا هم په خپله ټاکنيزه حوزه کې لږ تر لږه دېرش سلنه رايې تر لاسه کړې او يا د تېرېدو په دوره کې له کانديدۍ څخه تېر شي.

**مشرانوجرګه:**

د مشرانو جرګې د غړو شمېر د ولايتونو د شمېر درې برابره دی، چې ټول ۱۰۲ کسه کېږي. له دې شمېر څخه د دوی يو ثلث ۳۴ کسان د ټاکنو له لارې د ولسواليو شوراګانو ته د دريو کلونو له پاره، يو ثلث يې د ټاکنو له لارې ولايتي شوراګانو ته د څلورو کلونو له پاره او يو ثلث يې د ولسمشر له لوري د پنځو کلونو له پاره د مشرانو جرګې ته په انتصابي توګه ورپېژندل کېږي.

# سلام دي راغي ته رانغلي

[

**چلوونکی: سمیع الله خاکسار**

د کابـل ولایـت د ښـار ځخـه نـاصر الـدین شـاه لیـک دراسـتوم. د سـتوري مجلـې درنـو لوسـتونکیو تـه سـلامونه او احترامـات وړانـدې کـوم او ورسره د مجلـې لوسـتونکیو تـه دا دوه ټپې هم ډالۍ کوم:

ترڅو به مرور گرځو راځه چې روغه وکړو

کمزوری زه زورور ته راځه چې روغه وکړو

مننه

✸✸✸

عبدالشـافي یـم د منگـوال لـه لېسـې ځخـه لیـک درلېږم. د سـتوري مجلـې درنـو لوسـتونکیو ته سلامونه وایم او ورسره ټولو لوستونکیو ته دا ځلوریزه هم ډالۍ کوم:

کلـــــي تـــه نه درځمه نور جانانه

چې درتـــه جوړ نشي پېغور جانانه

دا زه خاکسار ورته کمزوری ښکارم

ځــــکه دې پلار لگوي زور جانانه

✸✸✸

حضــرت بـلال تنهـا یـم د میاگـانو د کـلي ځخـه لیـک دراسـتوم. ا سره ملگـري دي هـر یـو سـید عـثمان تنهـا، سـید مقصـود میاخېـل، فیضـان الله. مـوږ ټـول د سـتوري مجلـې قـدرمنې ادارې او لوسـتونکیو تـه سـلامونه وایـم او پـه اخـره کـې دغـو لوسـتونکیو او د ادارې کـارکوونکیو ته دا شعر ډالۍ کوم:

هغه ماته چې د ټـــــولې نړۍ گران دی

هـــغه مـــــــا سره په نه خبره وران دی

خدای ته مخ کړئ موږ ته شا فیصله وکړئ

چې دا زه ځنگـــــه کافر یار مسلمان دی

***

د ستوري مجلې اداري درنو کارکوونکيو!

زما نوم پرويز دی او د پکتيا پوهنتون د انجنيرۍ پوهنځي زده کوونکی يم.

خوشحاله يم چې زموږ ورونه په ختيځ ولايت کونړ کې د خپلو وطنوالو د ذهنونو روښولو او همداراز هغوی له روانو حالاتو باخبره ساتلو لپاره دا ستر خدمت کوي او پخپلې مالي مرستې د پښتو ژبې مينه والو ته د ستوري په څېر باارزښته مجله وړاندې کوي.

زه ستاسو د زيار قدرداني کوم او له خدايه غواړم، چې ستاسو هلې ځلې همداسې ګړندۍ وساتي. خدای مو ژوندي او په کارونو کې ګړندي لره. والسلام

***

زما خالد ارماني دی د ننګرهار ولايت د بهسود ولسوالۍ اوسېدونکی يم.

زه د ستوري مجلې درنو کارکوونکيو او لوستونکيو ته د مينې ډک سلامونه وړاندې کوم، خدای دې وکړي چې منظور يې کړئ. خوشحاله يم چې تاسو تر لږ ځنډ وروسته يو بل د ستوري مجلې د چاپولو تابيا کړې ده. موږ مو دا ګام ستايو او د هر ډول مرستو ډاډ درکوو.

خدای دې وکړي چې زموږ په هېواد کې داسې خلک لا زيات شي، چې په خپلې مالي و ځاني مرستې د پښتو ژبې او ادب لپاره کار کوي او د دې بېن د سمسور ساتلو لپاره هېڅ ډول ستړيا نه زغمي.

په اخره کې د مجلې لوستونکيو لپاره د صاحب شاه صابر دا شعر وړاندې کوم:

د محبت ګرمي دې وليدله\
په يخو واورو کې خولې شوې که نه\
ما درته ويل چې سترګې مه توروه\
د خلکو سترګې درپسې شوې که نه.

***

د ستوري مجلې درنو لوستونکيو! د مجلې اداري ستاسې سلامونه ته عليکم السلام وايي او خوشحاله ده، چې لوستونکي مو وخت نا وخته د ليک له لارې له خپلو مشورو، نيوکو او لارښوونو خبروي.

موږ هڅه کوو، چې په راتلونکي کې دا مجله له کوم ځنډ پرته تر تاسو درسوو، خو په دې لړ کې به ستاسو قلمي همکارۍ او مرستو ته هم اړتيا ده، نو له همدې امله راتلونکي ګڼې ته هغه بيتونه او ټپې راولېږئ، چې ګدر او مازيګر پکې ياد شوي، ترڅو موږ يې په مجله کې خپاره کړو. درنښت